**قضيه:** د صفر خلاف تبديلي رينګ هر مناسب ايډيال، په اعظمي ايډيال کې شامل دی (Stearns, 2015).

**ثبوت:** فرضوو چې $R$ يو رينګ او $I$ د $R$ يو مناسب ايډيال وي، نو $R/_I$ د صفر خلاف فکتور رينګ دی او د تېرې قضيې له مخې د اعظمي ايډيال لري. د $R \longrightarrow R/_I$ مېپنګ لاندې د دې ايډيال معکوس تصوير داسې اعظمي ايډيال دی چې $I$ پکې شامل دی.

**تعريف:** د يوه تبديلي رينګ يو $r$ عنصر د نيلپوټېنټ عنصر(Nilpotent elements) په نامه بلل کېږي، که د څينو $n \geq ۱$ تام عدد لپاره $r^n = ۰$ وي(Smith, 2016) .

**قضيه:** په يوه تبديلي رينګ کې د ټولو اوليه ايډيالونو تقاطع په هغه رينګ کې د نيلپوټېنټ عناصرو له سيټ څخه عبارت ده(Judson & Beezer, 2020) .

**ثبوت:** فرضوو چې $R$ يو غير صفري تبديلي رېنګ وي. که $r \in R$ نيلپوټېنټ عنصر وي، نو د ځينو $n \geq ۱$ تام عدد لپاره $r^n = ۰$ دی. د $R$ د هر اوليه ايډيال $P$ لپاره $r^n \in P$ دی، له دې ځايه $r \in P$ دی، ځکه چې $P$ اوليه ايډيال دی. د $R$ هر نيلپوټېنټ عنصر د $R$ د ټولو اوليه ايډيالونو په تقاطع کې شامل دی.

اوس غواړو وښيو چې د $R$ د ټولو اوليه ايډيالونو تقاطع يوازې د نيلپوټېنټ عناصرو لرونکې ده. که د ټولو اوليه ايډيالونو $P$ لپاره $r \in P$ وي، نو ۱ $n \geq$ تام عدد لپاره $r^n = ۰$ دی. څه ډول کولای شو دا موضوع روښانه کړو؟

مونږ په مستقيم ډول د دې هڅه نه کوو ترڅو دا ثابته کړو چې د ځينو۱ $n \geq$ تام عدد لپاره $r^n = ۰$ دی، بلکې غواړو چې د دې عبارت معکوس بيان کړو: که $r \in R$ نيلپوټېنټ عنصر نه وي، نو د $R$ په ځينو اوليه ايډيالونو کې $r$ شتون نه لري، ثبوت کړو.

څرنګه چې $r$ نيلپوټېنټ عنصر نه دی، نو د هر۱ $n \geq$ تام عدد لپاره $r^n \neq ۰$ دی. په $R$ کې $S$ د ټولو $I$ ايډيالونو په پام کې نيسو چې د $r$ د هيڅ کوم مثبت توان لرونکی نه وي، نو په دې حالت کې:

$$I \in S \Leftrightarrow \{r^n : n \geq ۱\} \cap I = \phi$$

صفري ايډيال $(۰)$ د $\{r^n : n \geq ۱\}$ سيټ سره تقاطع نه کوي، ځکه چې $r$ نيلپوټېنټ عنصر نه دی، له دې امله $S$ غيرخالي سيټ دی.

که $S$ سيټ د شموليت رابطې پربنسټ په قسمي ډول ترتيب کړو، د $S$ سيټ لپاره د زورن لېما د شرطونو له تطبيق څخه غواړو وښيو چې د $S$ يو اعظمي عنصر، يو اوليه ايډيال دی.

څرنګه چې $r$ په $S$ کې د شته ايډيالونو له ډلې څخه په هېڅ يوه ايډيال کې شامل نه دی، نو په $R$ کې يو داسې اوليه ايډيال موندلای شو چې $r$ پکې شامل نه وي.

فرضوو چې $\{I_\alpha\}_{\alpha\in A}$ په $S$ کې د ایډیالونو بشپړ مرتب سیټ وي، نو د هغوی اتحاد $I$ یو ایډیال دی( دا موضوع مخکې ثبوت شوې). څرنګه چې د $I_\alpha$ هیڅ یو ایډیال د $r$ د کوم مثبت توان لرونکی نه دی، نو د هغوی اتحاد هم د $r$ د مثبت توان درلودنکی نه دی. له دې امله $I \in S$ دی. دا چې د هرې $\alpha$ لپاره $I_\alpha \subset I$ دی، له دې څخه لاس ته راځي چې $I$ په $S$ کې د ایډیالونو د سیټ $I_\alpha$ لپاره یو پورتنی سرحد دی. په پایله کې د $S$ هر بشپړ مرتب فرعي سیټ د پورتنی سرحد لرونکی دی.

د زورن لیما څخه په ګټه اخیستنې $S$ سیټ اعظمي عنصر لري او دا عنصر په $P$ سره ښیو، نو $P$ په $R$ کې داسې یو ایډیال دی چې د $r$ د کوم مثبت توان لرونکی نه دی او د دې ځانګړتیا له مخې د شمولیت رابطې اعظمي ایډیال دی(Judson & Beezer, 2020) .

مونږ د $S$ یو اعظمي عنصر په $P$ سره ښیو، څکه غواړو ثبوت کړو چې $P$ اولیه ایډیال دی. څرنګه چې $r \notin P$ دی، نو $P$ یو مناسب ایډیال دی. فرضوو چې $x$ او $y$ د $R$ عناصر او $xy \in P$ وي، د دې لپاره چې وښیو $x \in P$ یا $y \in P$ دی، نو $P + (x)$ او $P + (y)$ دواړو ایډیالونه له $P$ څخه لوی دي، له دې امله په $S$ کې نه شي شاملېدلای. په دې مانا چې د ځینو مثبتو تامو عددونو $m$ او $n$ لپاره $r^m \in (x) + P$ او $r^n \in (y) + P$ دی، داسې چې

$$r^m = ax + p_۱, \quad r^n = bx + p_۲$$

کوم چې $p_۱, p_۲ \in P$ او $a, b \in R$ دي. اوس د ضرب له عملیې څخه لرو چې:

$$r^{m+n} = abxy + axp_۲ + byp_۱ + p_۱p_۲$$

څرنګه چې $P$ ایډیال دی او $p_۱, p_۲, xy \in P$ دي، نو د پورته مساواتو ښی خوا په $P$ کې شامل دی. له دې امله $r^{m+n} \in P$ کوم چې له دې فرضیې سره چې $P$ له $\{r^k : k \geq ۱\}$ سیټ څخه مجزا دی، تضاد لري( څکه چې $P \in S$). له دې ځایه $x \in P$ یا $y \in P$ لاس ته راځي، په پایله کې $P$ یو اولیه ایډیال دی. نو په $P$ کې هیڅ $r^n$ شامل نه دی. له دې امله $r \notin P$ دی.

**يادونه:** که څه هم چې په پورته ثبوت کې د $P$ ایډیال د شمولیت د رابطې له مخې د $R$ د هغو ایډیالونو ترمنځ چې له $\{r, r^۲, r^۳, \cdots\}$ څخه مجزا دي، یو اعظمي ایډیال دی اما اړینه نه ده، چې $P$ د $R$ اعظمي ایډیال هم وي. یعنې د شمولیت د رابطې له مخې په یوه رینګ کې یو اعظمي ایډیال دشمولیت له رابطې سره هغه وخت اعظمي دی، چې د $R$ د ټولو مناسبو ایډیالونو ترمنځ اعظمي وي. په داسې حال کې چې په پورته ثبوت کې د زورن لېما د $R$ د هغو ایډیالونو لپاره کارول شوې ده چې معمولاً ټول یې مناسب ایډیالونه نه دي. په عمومي توګه که $S$ په قسمي ډول مرتب شوی سيټ او $S'$ د $S$ یو فرعي سيټ وي، نو په دې صورت کې اړینه نه ده چې د $S'$ اعظمي عنصر د $S$ اعظمي عنصر هم وي(Lovett, 2016) .

د ټولو اوليه ایډیالونو تقاطع ته نیل راډیکال(Nil radical) ویل کیږي( ځکه د نیلپوټینټ عناصرو لرونکي دی) او د ټولو اعظمي ایډیالونو تقاطع ته جیکوبسون راډیکال( Jacobson radical) ویل کیږي. څرنګه چې هر اوليه ایډیال په اعظمي ایډیال کې شامل دی، نو د اعظمي ایډیالونو تقاطع د اوليه ایډیالونو تقاطع په ځان کې لري.

که چیرې هر اوليه ایډیال د اعظمي ایډیالونو د تقاطع څخه لاسته راغلی وي چې هغه په ځان کې ولري، نو په دې حالت کې رینګ ته د جیکوبسون رینګ(Jacobson ring) ویل کیږي او د جیکوبسون رینګونو لپاره په اعظمي ایډیالونو باندې د اوليه ایډیالونو په تعویض سره د پورتنی قضیه صدق کوي.

د بېلګې په توګه: هغه رینګ چې د جیکوبسون رینګ نه وي، یو انټیګرال ډومین( Integral Domain) $R$ دی چې هغه فیلډ(Field) نه شي کېدلای او یوازې یو $M$ اعظمي ایډیال لري. د $R$ نیل راډیکال له $\{۰\}$ څخه عبارت دی ځکه چې $R$ یو انټیګرال ډومین دی او د $R$جیکوبسون راډیکال له $M$ سره مساوي او د $\{۰\}$ خلاف دی، ځکه چې $R$ فیلډ نه دی. دا ډول رینګونه په تبدیلي الجبر او الجبري هندسه کې تر سترګو کیږي، له هغې ډلې د طاقت د سلسلو له رینګ $F[[x]]$ داسې چې $F$ یو فیلډ او له کسري رینګ $a/b$ څخه کوم چې $a, b \in \mathbb{Z}$ او $b$ تاق عدد وي، یادونه کولای شو(Lee, 2018) .

**قضيه (Cohen theorem):** که په یو تبدیلي رېنګ کې هر اولیه ایډیال په متناهي ډول تولید شي، نو په دې رېنګ کې هر ایډیال په متناهي ډول تولیدیږي. (Judson & Beezer, 2020) .

**ثبوت:** د دې قضيې د ثبوت لپاره د قضيې عکس بیان ثبوتوو.

د قضيې عکس: که په یوه رېنګ کې داسې یو ایډیال شتون ولري، چې په متناهي ډول سره نه وي تولید شوی، نو په دې رېنګ کې داسې یو اولیه ایډیال شته چې په متناهي ډول تولید نه شي. نو د شمولیت تر رابطې لاندې د اعظمي ایډیال په توګه داسې اولیه ایډیال په لاس راوړو چې په متناهي ډول تولید نه شي. دا اولیه ایډیال کېدای شي په ټول رېنګ کې اعظمي ایډیال نه وي، یوازې د هغه ایډیالونو تر منځ اعظمي وي چې په نامتناهي ډول تولید شوي وي.

که $S$ د هغه ایډیالونو سیټ وي چې په نامتناهي ډول تولید شوي وي. د فرضيې له مخې $S \neq \emptyset$ دی. مونږ د شمولیت د رابطې پربنسټ $S$ په قسمي توګه ترتیبوو. په $S$ کې د $\{I_\alpha\}_{\alpha \in A}$ ایډیالونو د بشپړ مرتب فرعي سیټ لپاره د هغوی اتحاد $I$ داسې یو ایډیال دی چې هر $I_\alpha$ پکې شامل دی. د دې لپاره چې وپوهیږو $I$ په $S$ کې یو پورتنی سرحد دی، نو باید وښیو چې $I$ په متناهي ډول تولید شوی نه دی.

که چېرې $I$ په متناهي ډول تولید شي او $I = \{r_1, \cdots, r_k\}$ ورته ووایو، نو هر یو له مولدونو څخه به په ځینې $I_\alpha$ کې شامل شي او په ایډیالونو کې د بشپړ ترتیب له مخې په فرضي توګه د $I$ دغه متناهي شمېر ډېر مولدونه ټول په هر $I_\alpha$ کې شامل دي. له دې امله $I$ په $I_\alpha$ کې شامل دی، نو $I$ له $I_\alpha$ سره مساوي دی. دا ښيي چې $I_\alpha$ په متناهي ډول تولید شوی، چې دا یو تناقض دی. په پایله کې ویلای شو چې $I$ په متناهي ډول نه تولیدېږي.

اوس کولای شو د زورن لېمه وکارو: د شمولیت د رابطې له مخې په نامتناهي ډول تولید شویو ایډیالونو ترمنځ، په نامتناهي ډول تولید شوی یو اعظمي ایډیال شته. که دا ډول ایډیال $P$ ونوموو، ثبوتوو چې $P$ اولیه ایډیال دی، په پوره ډاډ سره ویلای شو چې $P$ یو مناسب ایډیال دی.

فرضوو چې $xy \in P$ داسې چې $x \notin P$ او $y \notin P$ وي، نو $(x) + P$ داسې يو ايډيال دی چې په مناسب ډول $P$ ايډيال پکې شامل دی، نو $(x) + P \notin S$. له دې امله دا ايډيال په متناهي ډول توليد شوی ايډيال دی يعنې:

$$(x) + P = (r_1, \cdots, r_k)$$

داسې چې د $i = 1, 2, \cdots, k$ لپاره $r_i = c_i x + p_i$ او $c_i \in R$ او $p_i \in P$ دي. نو هر $r_i$ په $(x, p_1, \cdots, p_k)$ ايډيال کې شامل دی او په معکوس ډول هر $p_i$ په $P \subset (x) + P =$ $(x, p_1, \cdots, p_k)$ ايډيال کې شامل دی، نو

$$(x) + P = (x, p_1, \cdots, p_k)$$

دی. که $p \in P$ راکړل شوې وي، څرنګه چې $P \subset (x) + P$ دی، نو ليکلای شو چې:

$$p = cx + a_1 p_1 + \cdots + a_k p_k$$

په دې ډول چې $c$ او ټولې $a_i$ په $R$ کې شاملې دي او له دې ځايه $cx = p - \sum a_i p_i \in P$ دی، نو $c$ په $J = \{r \in R : rx \in P\}$ ايډيال کې شامله ده. په څرګند ډول ښکاري چې $P \subset J$ دی.

له هغه ځايه چې $xy \in P$ او $y \notin P$ دی، نو $y \in J$ دی، له دې امله $J$ په بشپړ ډول $P$ په ځان کې لري. نو په $R$ کې په نامتناهي ډول ټولو توليد شوو ايډيالونو ترمنځ د $P$ ايډيال د اعظمي والي له مخې $J$ په متناهي ډول توليد شوی دی. له دې امله $p \in xJ + \sum_{i=1}^{k} Rp_i$ لاس ته راځي، نو $P \subset xJ + \sum_{i=1}^{k} Rp_i$ دی. د $J$ سيټ د تعريف په بنسيټ معکوس شموليت په اسانۍ سره ښودل کېدای شي. په پايله کې لاندې مساوات لاسته راځي.

$$P = xJ + \sum_{i=1}^{k} Rp_i$$

دا چې $J$ په متناهي ډول توليد شوی ايډيال دی، دا ښيي چې $P$ په متناهي ډول توليديږي او دا يو تضاد دی. نو که $xy \in P$ وي، له دې څخه $x \in P$ يا $y \in P$ تر لاسه کولای شو، په پايله کې $P$ يو اوليه ايډيال دی (Judson & Beezer, 2020) .

## نتيجه ګيري

په رياضياتو کې د زورن لېما يوه اساسي موضوعاتو څخه چې د رياضياتو په بېلابېلو برخو کې ترې کار اخيستل کېږي، په دې مقاله کې د زورن لېما د ايډيالونو په برخه کې د ځينو قضيو په ثبوت او تحليل کې کارول شوې ده، له دې قضيو څخه لاندې پايلې په لاس راغې.

په هر غير صفري تبديلي رېنګ يو اعظمي ايډيال شامل دی.

- په تبديلي الجبر کې کرول د قضيې د اهميت يو دليل دا دی چې يو رېنګ بايد هميشه د ضرب له عمليې سره د عينيت عنصر ولري، په ځانګړي ډول دا موضوع هغه وخت د لازيات اهميت لرونکې ده چې مونږ د رياضياتو په هغې برخه کې کار کوو چې په تبديلي الجبر پورې اړوند دي، لکه د عددونو تيوري او الجبري هندسه.
- د غير صفري تبديلي رېنګ هر مناسب ايډيال په اعظمي ايډيال کې شامل دی.
- د غير صفري تبديلي رېنګ د ټولو اوليه ايډيالونو تقاطع سيټ د همدې رېنګ د نيلپوټېنټ عنصرونو سيټ دی.

## اخځليکونه

Dummit, D., & Foote, R. (2024). abstract algebra (3rd ed.). USA: john Wiley & Sons, Inc.

Fine, B., Gaglione, A., & Rosenberger, G. (2014). Introduction to Abstract Algebra. Baltimore, Maryland: Johns Hopkins University Press.

Gallian, J. (2021). Contemporary abstract algebra (10TH ed.). Oxon: CRC Press.

Judson, T., & Beezer, R. (2020). Abstract Algebra Theory and Applications. Stephen F. Austin State University.

Lee, G. (2018). Abstract Algebra An Introductory Course. Cham, Switzerland: Springer.

Li, L., & Zhao, K. (2022). Introduction to Abstract Algebra. France: Science Press.

Löh, C. (2017). Geometric Group Theory An Introduction. Regensburg, Germany: Springer.

Lovett, S. (2016). abstrac algebra structures and aplications. Illinois, USA: CRC Press.

Smith, J. (2016). Introduction to abstract algebra (2nd ed.). Iowa: CRC Press.

Stearns, W. (2015). The Sylow Theorems and Classification of Small Finite Order Groups. Union College - Schenectady, NY: Honors Theses. 395.

# په اقتصادي وده کې د ښاري اکوتوریزم رول

۱- محمد اسماعیل لاروی[۱]* ۲- مجیب الرحمن عارض[۲] ۳- هدایت الله سالاري[۳]
۱، ۲ - د ځنګلونو او طبیعي زېرمو څانګې، زراعت پوهنځی، ، پکتیا پوهنتون ـ افغانستان
۳- د هارټیکلچر څانګه، زراعت پوهنځی، پکتیا پوهنتون ـ افغانستان

**لنډیز**

په ښاري او ګڼ نفوسه ساحو کې وګړي له فزیکي او ذهني ستړیا سره مخامخېږي او د اونۍ یوه ورځ یا د هرې ورځې یوه برخه په داسې ځایونو کې تېروي چې فزیکي او ذهني ارامتیا ومومي. ښاریان هڅه کوي چې د خپلې ستړیا د لرې کولو په موخه داسې ځایونو ته تګ را تګ وکړي چې طبیعي او مصنوعي ښکلا ولري او له چاپېریالي ککړتیاوو لرې وي. ګرځندویي فعالیتونه او کړنې د اوسنۍ نړۍ په زیاتره هیوادونو کې د اقتصادي ودې یو مهم فکتور بلل کېږي، ګرځندویي فعالیتونه د سړي سر عوایدو د لوړوالي، د وزګارۍ د مخنیوي، سوداګریزو چارو غوړېدا، د فرهنګي مشترکاتو د ساتنې او ملي یووالي په برخه کې د پام وړ ارزښت لري. دا مقاله چې تحلیلي او کتابتوني بڼه لري، په اقتصادي وده کې د ښاري اکوټوریزم موضوع په اړه بحث لري. د ګرځندویي فعالیتونو لپاره د مشخصو شویو ساحو په عایداتي منابعو د بدلېدو، په دې ساحو کې وزګاره وګړیو ته د کار موندنې په لارو چارو او همدا شان د ګرځندویانو د جذب او تګ راتګ د زمینو په اړه بحثونه لري. په دې مقاله کې هڅه شوېده چې د اکوتوریستي ساحو اقتصادي، ټولنیز او چاپېریالي ارزښتونه تر یو حده روښانه شي، د مقالې محتوا ته په کتو هغه موضوعات را اخیستل شویدي چې د ښاري اکوټوریزم په پیاوړتیا کې اغېزمن دي.

**کلیدي کلمې:** ښاري ګرځندویي ساحې، د طبیعي ساحو ساتنه، اقتصادي وده.

*Email: i.larawai@gmail.com

# The Role of Urban Eco-tourism in Economic Growth

Mohammad Ismael Larawai[1], Mujeeburahman Ariez[2], Hedayatullah Salari[3]
۱, ۲. Department of Forestry and Natural resources, Faculty of Agriculture, Paktia University, Paktia, Afghanistan
۳. Department of Horticulture, Faculty of Agriculture, Paktia University, Paktia, Afghanistan

## Abstract

In urban and densely populated areas, people experience physical and mental exhaustion and spend a day or part of each day in places where they are physically and mentally relaxed. People are trying to get rid of their fatigue to places that have natural and artificial beauty and are free from environmental pollution.
Tourism activities are an important factor in economic growth in most countries of the world today, tourism activities are of significant importance in terms of increasing the income per capita, preventing unemployment, promoting commercial affairs, protecting cultural, communities' values and national unity.
This review paper highlights the opportunities and obstacle of ecotourism and to some extent disused about the improvements of this industry in the country.

**Key words:**
**Urban tourism areas, Economic growth, Natural areas.**

*Email: i.larawai@gmail.com

**سريزه**

سياحت يوازې دا نه چې د ګرځندويانو په ژوند اغېز لري بلکې د هيوادونو او نړۍ په کچه په اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي او سياسي چارو پام وړ تاثيرات کوي. يو سياح له يوې طبيعي يا سياحتي ساحې څخه د لېدو پر مهال د اوسېدو، ګرځېدو، ډاليو اخيستو، خوراک او څښاک، تفريح او نورو فعاليتونو په ترڅ کې مختلف لګښتونه کوي. د ګرځندويي فعاليتونو په موخه په سيمه کې کاري بوختياوې رامنځته کېږي، پانګونې ته زمينه سازي کېږي، کوربانه د مېلمنو د اوسېدو لپاره واړه او لوی اوسېدنځايونه، مسافرخانې جوړوي، د سفر نماينده ګۍ فعاليت شروع کوي او دا هر څه د کوربه ټولنې په ژوند مثبتې اغېزې لري.

د مخ پر ودې هيوادونو يوه لويه ستونزه دا ده چې پرمختګ پکې په ځو بعديزه توګه نه کېږي بلکې يوازې د هرې پروژې او پلان له مخې يو اړخيز پرمختګ ته زمينه سازي کېږي چې دا په حقيقت کې د يو ملت او هيواد د پرمختګ نور اړخونه زيانمنوي او پايښت لرونکې پرمختيا چې نن سبا د اقتصادي، چاپېريالي، ټولنيز او فرهنګي پرمختګ او دوام پر اساس تعريفېږي او په وروسته پاتې هيوادونو کې دا ابعاد په پام کې نه نيول کېږي.

د وروسته پاتې هيوادونو زياتره پلانونه په اقتصادي پرمختيا را څرخي څکه چې وګړي يې تر هر څه وړاندې د فقر، لوږې او وزګارۍ له ستونزو او ننګونو کړېږي نو لومړيتوب اقتصادي ودې ته ورکول کېږي، حال دا چې د توسعې درې واړه (اقتصادي، اجتماعي او چاپېريالي) اړخونه بايد په پام کې ونيول شي.

ګرځندويي فعاليتونه چې په اوس وخت کې خورا زيات ارزښت لري، پر اساس يې يوازې دا نه چې د توسعې درې واړه ابعاد په متوازنه توګه د پرمختيا جوګه ګرځي بلکې د خلکو بنسټيزې غوښتنې چې اقتصادي وده، د وزګارۍ مخنيوی او د عوايدو کچې لوړول دي، هم پوره کېږي.

افغانستان چې د خورا زياتو طبيعي منظرو او سيمو درلودونکی هيواد دی. ښکلي مناظر، لرغوني ځايونه، په ښاري او اطرافي ساحو کې د ښکلو طبيعي او اکولوژيکي ساحو تر څنګ ځانګړي او منفرد فرهنګي ارزښتونه لري خو په ګرځندويي چارو کې تر اوسه دا ساحې او ارزښتونه له پامه غورځېدلي، په دې مقاله کې هڅه شوېده چې له طبيعي منظرو څخه په داسې توګه د

استفادې لارې چارې روښانه شي چې هم طبيعي منظرې پخپل حال پاتې شي، هم اقتصادي ودې ته پام وشي او هم يې په ضمن کې د اجتماعي ستونزو د را کمولو او ودې په اړه لازم پيشنهادات وشي.

ځينې هغه مفاهيم چې زموږ د دې مقالې اړونديږي، دلته پرې په لنډ ډول بحث کيږي:

۱ . توريزم: د سياحت او سفر ټول هغه ډولونه چې د علمي فعاليتونو، وخت تېري، خوند اخيستو او اسوده ګۍ په موخه له طبيعي او مصنوعي ساحو څخه د ليدنې په موخه تر سره کيږي، په ښاري ساحو کې د طبيعي ساحو تر څنګ مصنوعي ساحې هم خورا زياتې وي چې وګړي ترې ليدنه کوي، موزيمونه، لرغونې کلاګانې، بالاحصارونه، د پاچاهانو او حاکمانو اوسېدنځايونه، زيارتونه، ديني او مذهبي ځايونه او ټولې هغه ساحې چې د سياحانو د را جلبولو په برخه کې مرسته کوي.

۲ . اکوتوريزم: اکوتوريزم طبيعي ساحو ته يو مسولانه سفر دی چې د چاپېريال ساتنې ته پکې پام کيږي او د ځايي خلکو په ژوند مثبتې اغېز ولري. اکوتوريم ټولو هغو سفرونو ته ويل کيږي چې بې ساري طبيعي ښکلا درلودونکو ساحو ته کيږي چې ګارې، غرونه، ابشارونه، دښتې، ځنګلونه، سيندونه، ټاپوګان او ټولې طبيعي منظرې پکې شامليږي، په ښارونو کې که څه هم دا ډول ساحې کمې وي خو ارزښت يې خورا لوړ وي.

۳ . ملي پارکونه: ملي پارکونه هغو ساحو ته ويل کيږي چې د طبيعي منظرو ښکارندوی وي او د ملي پارک په نوم نومول شوې وي، دا ډول ساحې هم د ګرځندويي فعاليتونو لپاره بهترين ځايونه بلل کيږي.

۴ . مسولانه سياحت: مسولانه سياحت هو بهو لکه څنګه چې موږ د يو چا کور ته د مېلمه په توګه ځو، د کوربه کور نه ورانوو او نه يې د کور د چاپېريال د ککړتيا سبب ګرځو، د مېلمه اصول بايد ګرځندويان هم په پام کې ونيسي او همدا شان کوربه وګړيو ته په کار ده چې د مېلمنو او سياحانو درناوی وکړي، په ټولو هيوادونو کې د ګرځندويانو، کوربنو، چاپېريال او د ليدنو د ساحو تر منځ متقابلې او پېچلې اړيکې موجودې وي چې دا اړيکې د ګرځندويي چارې په مستقيم او غير مستقيم ډول اغېزمنوي.

ګرځندویان او کوربانه د یو و بل له فرهنګي او ټولنیزو چلندونو اغېزمنېږي چې دا هر څه د یوې ټولنې د فرهنګي کچې ښکارندویي کوي.

**د څېړنې اړتیا او ارزښت**

په لویو ښارونو کې د ورځ تر بلې ګڼې ګونې او نفوس د زیاتوالي له سببه ګڼې ښاري ستونزې رامنځته کېدونکي دي چې د دې ستونزو په سر کې وزګاري، فقر، د طبیعي ساحو تخریب، چاپېریالي ککړتیاوې، د ښاري او صنعتي فعالیتونو له شوره د وګړیو ستړیا او نورې ګڼې ستونزې رامنځته کېدونکي دي چې دا ستونزې له یو نسل څخه بل ته د زیاتېدو او شدید کېدو په حال کې دي.

د سیاحت، توریزم، اکوټوریزم او ګرځندویي فعالیتونو تر نومونو لاندې چې په اوسنۍ نړۍ کې کوم پلانونه او طرحې رامنځته کېږي، د پورتنیو ذکر شویو ستونزو او ننګونو د راکمولو لپاره مناسبې حللارې لري.

افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې طبیعي ساحې یې د تخریب او ویجاړتیا په حال کې دي او د مدیریت لپاره یې مناسب پلانونه نشته، لومړی لازمه ده چې د طبیعي ساحو د تخریب او ویجاړتیا د مخنیوي په پار کوټلي ګامونه واخیستل شي، په دویم قدم کې د وزګارتیا او فقر کچې راټیټول هم د حاکم نظام مسولیت جوړېږي چې په دې برخه کې توجه وکړي او داسې پلانونه طرحه کړي چې هم د چاپېریال زیانمنېدو باعث نه شي او هم په عین حال کې د اقتصادي ودې او کاري بوختیاوو رامنځته کولو لپاره مناسب وي.

په دې مقاله کې هڅه شوې چې د طبیعي منظرو د ساتنې تر څنګ د ګرځندویي صنعت د ودې او وزګارتیا د مخنیوي په اړه بحثونه شویدي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. ایا طبیعي منظرې د عوایدو په سرچینو بدلېدی شي؟

۲. ایا د ګرځندویانو د جلب و جذب لپاره امکانات شته؟

۳. ایا ممکنه ده چې په افغانستان کې هم د نورې نړۍ په څېر د بهرنیو ګرځندویانو لپاره د سیاحت امکانات برابر شي؟!

## د څېړنې موخې

- د افغانستان د طبیعي منظرو اقتصادي، چاپېریالي او سیاحتي ارزښت ته کتنه؛
- د ګرځندویي چارو پر اساس د فقر او وزګارۍ د مخنیوي لارې چارې روښانول؛
- د طبیعي ساحو د ساتنې اړوند د مناسبو حللارو وړاندې کول.

## تېرو اثارو ته کتنه

اکوټوریزم د کلیوالي ټولنو د وګړو په ژوند په لوړه کچه اقتصادي اغېزې لري، د طبیعي زېرمو په ساتنه، کاري بوختیاوې، اقتصادي فرصتونه او د ځایي ټولنو د معیشت بدیلي او متناوبې لارې ورسره نښتې دي(Kim *et al.*, 2019). اکوټوریزم د طبیعي زړه راښکونکو ساحو د لیدو تجربه کول دي چې د ځایي ټولنو اقتصادي او ټولنیزه وده ورسره تړلې ده(Kiper, 2013).
سیاحت او ګرځندویي چارې له هغو فعالیتونو څخه عبارت دي چې وګړي یې په ترڅ کې د تاریخي او لرغونو ځایونو، طبیعي منظرو، وحشي ژویو، موزیمونو، ژوبڼونو او زړه را ښکونکو ځایونو له لیدو خوند اخلي او همداشان ذهني او فزیکي ارامتیا مومي. پایښت لرونکی سیاحت او ګرځندوی هغه مهال پایداره باله شي چې زیان اړونکی نه وي، د اوبو زېرمې او خاوره، جنیتیکي منابع، نباتات او حیوانات متضرر نه شي. په حقیقت کې پایښت لرونکی سیاحت هغه دی چې په یو چاپېریال کې د نامحدود وخت لپاره دوام ومومي، له انساني لیده د ژوند چاپېریال ته زیان وانه وړي او تر هغه حده یې د فعالیت ساحه غوړېدلې وي چې د نورو پرمختیاوو او ټولنیزو کړنو پر وړاندې خنډ نه شي(Butler, 2000).
ګرځندویي فعالیتونه چې لا هم د مخ پر ودې هیوادونو لپاره نوي دي او ممکنه ده چې د ناسمو پلانونو پر اساس چاپېریال، فرهنګي او ټولنیزو ارزښتونو ته نه جبرانېدونکي زیانونه واړوي نو پر همدې اساس ټینګار په دې دی چې په پلان جوړونه او تصامیمو کې اوږدمهاله تګلارې غوره شي چې د هیواد په کچه د توسعې او پرمختیا له نورو فعالیتونو سره په ټکر کې ونه اوسي(نوربخش او سراسکانرود، ۱۳۸۹).

اکوټوریزم د نړۍ په کچه د اقتصادي پرمختیا په برخه کې د پام وړ رول لرلی دی، په دې اړه شوې څېړنې ښيي چې د نفتو او موټرونو جوړولو له صنعت وروسته په درېیم قدم کې د ګرځندويي چارو رول د پام وړ دی او د هیوادونو په داخلي ناخالص تولید کې بې ساری نقش لوبوي(کاظمي‌نسب او نیکنامي، ۱۳۹۴). د امریکا د فلوریدا ایالت د آپالاچیکوا سیند ته څېرمه تفریحي ساحې په اړه د تر سره شوې یوې څېړنې پایلې ښيي چې ګرځندویان هره ورځ د ۷۴,۱۸ ډالرو لګښت ته تمایل لري(Shrestha, 2007).

افغانستان هم د نورې نړۍ په څېر ګڼې داسې طبیعي ساحې لري چې د اکوټوریزم او ټوریزم فرهنګ عامېدو ته پکې زیات فرصتونه شته دي، په ښاري ساحو کې ګڼ طبیعي جوړښتونه شته چې د ښاري اکوټوریزم لمنه ورسره غوړېدی شي، دا ساحې یوازې تر پلازمېنې کابل پورې نه محدودېږي بلکې د هیواد په زیاتره ساحو کې موجودې دي. موږ که یوازې پلازمېنه کابل په پام کې ونیسو نو خورا ګڼ شمېر زړه را ښکوونکې طبیعي ساحې لري چې د کورنیو او بهرنیو سیاحانو د را جلبولو امکانات لري، د بېلګې په توګه کول حشمت خان، د اسمایي غر، قرغه، پغمان دره او نورې هغه ساحې دي چې د اکولوژیکي ارزښت تر څنګ اکوټوریستي ارزښت هم لري.

**مناقشه**

سیاحت د اوسنۍ نړۍ د پرمختیا یوه مهمه برخه تشکیلوي ځکه له همدې لارې په لویه کچه عواید تر لاسه کېږي، د هیوادونو تر منځ سیاسي، فرهنګي او سوداګریزي اړیکې تقویه کېږي او همدا شان د ځايي ټولنو ژوند ورسره مثبت بدلونونه کوي ځکه ځايي وګړیو ته کاري بوختیاوې پیدا کېږي، له همدې لارې نورو سیمو او هیوادونو ته د خپلو صادراتو لېږد ته زمینه برابروي او په ټوله کې يې اقتصاد ورسره غوړېږي. د ګرځندوی د نړیوال سازمان له لوري د سیاحت وړ ساحې په درې عمده ډولونو وېشل شوې دي:

۱. طبیعي زړه راښکوونکې ساحې؛

۲. فرهنګي او تاریخي زړه راښکونکي ځایونه؛

۳. ځانګړي زړه راښکوونکي ځایونه(Iskeep, 1991,pp31-1)

په ښاري ساحو کې چې طبيعي او اکولوژيکي ساحې د سياحانو د جذب سبب شي او له سببه يې د اکوټوريزم سکتور وده وکړي، د ښاري اکوټوريزم په نوم يادېږي، او يا په بله مانا: په ښاري ساحو کې د طبيعي او اکولوژيکي ساحو سياحت ته ښاري اکوټوريزم( Urban Ecotourism) وايي.

ښاري اکوټوريزم د مثبتو او منفي اړخونو درلودونکی وي چې په ټوله کې يې مثبت اړخونه له منفي اړخونو ځواکمن بلل کېږي ځکه د اقتصادي ګټو تر څنګ د طبيعي او اکولوژيکي ساحو ساتنې ته هم پام اوړي او په اوس وخت کې د ټولې نړۍ تمرکز په دې دی چې اقتصادي او ټولنيزه وده د چاپېريال ساتنې په سيوري کې وشي.

جدول(۱): د ګرځندويي اقتصادي اغېزي

| مثبت اړخونه | منفي اړخونه |
|---|---|
| د عوايدو لوړوالی | تورم، د قيمتونو عمومي لوړېدنه |
| د کاري بوختياوو فرصتونه رامنځته کېدل | موسمي بوختياوې او بېکاری |
| د مالي شتمنيو تحرک | د ځمکو د قيمت لوړېدل |
| د بهرنيو سرمايو جلبول | د توکيو او خدماتو د توسعې او توليد تحليل |
| د زېربناوو او پسيساتو رغونه او توسعه | د عمومي خدماتو کموالی |
| د نړيوالو لګښتونو موازنه | د سمي نامتوازنه توسعه |
| د غير نفتي صاداراتو توسعه | په بهرنيو هيوادونو تکيه |
| له سيمه ايزو وړتياوو استفاده | |
| سيمه ايزه پرمختيا | |

ماخذ: ( ضرغام، ۱۳۸۱ )

## د ښاري سياحت هر اړخيزې گټې

ښاري اکوټوريزم د ځايي ټولنو په اقتصادي وده کې په هر اړخيز ډول رول لري، هغه موضوعات چې د ښاري اکوټوريزم اړونديږي، د اکوټوريزم تر عنوان لاندې يو له بل سره نه بېلېدونکي بلل کېږي: ۱. طبيعي ساحې او فرهنگي منابع، ۲. پايښت لرونکې اکولوژيکي او چاپېريالي پرمختيا، ۳. گډونوالو ته د چاپېريالي او اکولوژيکي پوهې زمينه سازي، ۴. ځايي اقتصادي وده او ۵. له اکوټوريزمه د ځايي خلکو رضامندي (Sarkar, 2022). د ښاري اکوټوريزم د ودې لپاره ذکر شوي ټول فکتورونه بايد په پام کې ونيول شي که داسې ونه شي نو د ښاري اکوټوريزم وده بې ثباته وي. ذکر شوي پنځه واړه اړخونه يو له بل سره تړلي دي يعنې هر بعد که له پامه وغورځول شي، د ښاري اکوټوريزم ثبات په منفي بڼه اغېزمنوي.

د ښاري گرځندويي چارو اغېزې په دولتي سکتورونو، ځايي ټولنو، د ژوند پر چاپېريال او فرهنگ لازمي دي، دا اړخونه (Akkus & Gul, 2022) په يو (۱) ډياگرام کې توضيح کړې دي چې موږ يې دلته را اخلو.




( ۱ ) شکل: د ښاري اکوټوريزم هر اړخيزې گټې

د ګرځندويي فعاليتونو د تر سره کېدو لپاره لازمه ده چې يو لړ اقدامات په سيمه کې تر سره شي، دا فعاليتونه په ځايي دولت او خلکو پورې اړه لري. د ښاري ګرځندويي کړنو غوړېدا له اقتصادي ودې، له کاري فرصتونو زياتېدو او همدا شان له پايښت لرونکي اکوټوريزم سره مرسته کوي.

په (۲) جدول کې د ځايي خلکو، مسولانو او ګرځندويانو مسوليتونه په لنډو را غلي دي خو په دې جدول کې ذکر شوي ټول موارد د ټولې نړۍ د هيوادونو او ملتونو لپاره صدق نه کوي خو بيا هم هغه عام موارد پکې راغلي دي چې عموماً د سياحت په مديريتي چارو کې ورته پام کېږي.

جدول(۲): د ځايي خلکو، مسؤلانو او ګرځندويانو مسؤليتونه

| د ځايي خلکو اړوند کړنې | د مسؤلانو او حاکم نظام فعاليتونه | د ګرځندويانو فعاليتونه/ مسؤليتونه |
|---|---|---|
| د مناسبو اوسېدنځايونو په جوړولو کې ونډه اخيستل | د ګرځندويي فعاليتونو لپاره د امنيت ټينګښت | د سيمې مذهبي، فرهنګي او ټولنيزو اصولو ته پاملرنه |
| ګرځندويانو ته د مېلمنو په نظر کتل<br>د خپل اصلي فرهنګ ښکارندويي | د سياحتي ساحو ساتنه، مديريت او پالنه<br>د بهرنيو مېلمنو لپاره مناسب د مېلمه پالنې مناسب تنظيمات | د سياحت ټولو اصولو ته درناوی<br>د چاپېريال ساتنې ته ځانګړې پاملرنه |
| د شتمنو او سوداګرو له لوري په سياحتي ساحه کې پانګونه | د سياحتي ساحو د تاسيساتو ساتنه، رغونه او پراختيا | د لرغونو، تاريخي او سياحتي ساحو له ويجاړتيا ډډه کول |
| د سياحت په ساتنه، پالنه او توسعه کې ونډه اخيستل | د ګرځندويي قوانينو، لوايحو او ستراتيژيو جوړول او عملي کول | د ګرځندويي چارو پر مهال داسې کړنې تر سره کول چې د خلکو په ټولنيز، اخلاقي او اقتصادي ژوند مثبتې اغېزې ولري |
| ګرځندويانو ته د اړتيا پر مهال رهنمايي | د ګرځندويانو او ځايي خلکو تر منځ د ارتباطو رامنځته کولو ته زمينه سازي | د بې ځايه اورلګېدنو او ځانګړې توګه په ځنګلي ساحه کې له اور بلولو څخه ډډه کول |
| د ښکلو هنرونو، صعنتي فعاليتونو او نورو ننداړتونونو کې برخه اخيستل | په سياحتي ساحه د ځانګړو پروګرامونو( ننداړتونونو، علمي او څېړنيزو کړنو...) ته زمينه سازي | د سياحت پر مهال داسې لباس اغوستل چې د سيمې له فرهنګ سره په ټکر کې نه وي |
| له حاکم نظام سره په ټولو چارو کې همغږي او همکاري | په ګرځندويي چارو کې ځايي خلکو ته ونډه ورکول او د عوايدو عادلانه وېش، همدا شان د سيمې خلکو ته لومړيتوب ورکول | هغه کړنې چې په يوه ټولنه کې يې جدي ممانعت کېږي، ترې ډډه کول |
| د چاپېريال ساتنې په برخه کې ونډه اخيستل | د سيمې د ښکلا په خاطر معياري اقدامات او چاپېريال ساتنې ته ځانګړې پاملرنه | له ځايي خلکو سره د دوامداره اړيکو ټينګول |

**اقتصادي وده**

اکوټوريزم په نړيواله کچه د ارزښت وړ سکتور بلل کېږي، په دې اړه د تر سره شويو څېړنو پر بنياد ويلی شو چې د اکوټوريزم اقتصادي ارزښت ورځ تر بلې زياتېدونکی دی. د احصائيوي معلوماتو له مخې په ۲۰۲۱ زېږديز کال د نړيوال اکوټوريزم ارزښت ۱۸۵,۸۷ ميليارډ ډالر ښودل شوی دی او تمه ده چې له ۲۰۲۲ زېږديز کال څخه تر ۲۰۳۰ زېږديز کاله پورې ۱۵,۲٪ نوره وده وکړي. (Global Report, 2022).

ګرځندويي چارې د يو هيواد په ملي ناخالص توليد او د ځايي ټولنو په ژوند مثبتې او مستقيمې اغېزې لري چې د ځايي خلکو د ژوند او اقتصادي وضعيت د بهتروالي تر څنګ په دولتي کچه هم پاموړ بلل کېږي. ګرځندويي فعاليتونه په ښاري ساحو کې د ارواپوهنې له اړخه خورا ګټور او لازمي دي خو د اقتصادي پرمختيا په برخه کې هم د لوړ ارزښت درلودونکي دي.

د ښاري اکوټوريزم په غوړېدا سره ځايي وګړي او ځايي دولت په لويه کچه اقتصادي ګټې تر لاسه کوي چې د پانګونې، سوداګرۍ، کاري بوختياوو، لاسي صنايعو او توليداتو پېر و پلور ته زمينه سازي او نور موارد پکې شامل دي، په دې اړه نړيوالو څېړنيزو مقالو ته په کتو (۲) شکل چمتو شوی.




(۲) شکل د ښاري اکوټوريزم اقتصادي ګټې

**پایله**

په افغانستان کې د ښاري اکوټوریزم د غوړېدا لپاره مناسب شرایط موجود دي ځکه دا هیواد د سرشاره ښکلو منظرو درلودونکی دی او دا ښکلې، طبیعي منظرې یوازې په اطراف او له ښاره لرې ساحو پورې نه اړوندېږي بلکې په ښاري ساحو کې هم په لویه کچه طبیعي زړه را ښکونکې ساحې شتون لري. اوس چې امنیتي وضعیت له بل هر وخته بهتره شوی دی نو ښه دا ده چې د نورو برخو تر څنګ دې اړخ ته هم پام وشي.

د افغانستان زیاتره وګړي له وزګارۍ سر ټکوي او په ښاري اکوټوریزم سره د ځایي وګړیو لپاره ګڼ کاري فرصتونه رامنځته کېدای شي، په ځانګړې توګه هغه وګړي چې لیک لوست یې کم یا بېسواده وي، دوی کولی شي چې سیاحتي ساحو ته څېرمه ځایونو کې هوټلونه، دوکانونه او د پېر و پلور نور ځایونه یا پرانیزي او یا هم مزدوري پکې وکړي.

افغانستان یو له هغو هیوادونو دی چې د نفوس وده پکې خورا چټکه ده او د نفوس له چټکې ودې سره محیطي ستونزې او ننګونې هم زیاتېدونکي دي نو موږ که د چاپېریالي ستونزو او ننګونو په وړاندې مبارزه کوو، یوه حللاره دا ښودل کېږي چې طبیعي ساحې پخپل حال پاتې شي او د طبیعي ساحو د ساتنې لپاره یو لاره دا ده چې اکوټوریزم ته وده ورکړل شي.

لنډه دا چې ښاري اکوټوریزم د سیمې په اقتصادي، چاپیریالي او ټولنیزو پرمختګونو مثبتې اغېزې لري او هغه دولتونه چې د عوایدو لارې یې محدودې دي، وګړي پکې له وزګارۍ سر ټکوي او فقر پکې لوړې کچې ته رسي، ښاري اکوټوریزم یې د ستونزو د حل په برخه کې مرستندوی ثابتېدی شي.

**سپارښتنې**

د ښاري اکوټوریزم د غوړېدا لپاره ځانګړي شرایط لازمي دي نو د دې شرایطو د رامنځته کولو لپاره د دې مقالې په وروستۍ برخه کې یو لړ وړاندیزونه چې د دې سکتور د غوړېدا په برخه کې لازمي وبلل شول، په دې ډول دي:

- په ټولو لویو او وړو ښارونو کې د طبیعي او اکولوژیکي زړه راښکوونکو ساحو پېژندنه؛
- په ښاري ساحو کې د طبیعي مناظرو او جوړښتونو حدود مشخصول؛

- د ښاري ساحو په طبيعي مناظرو کې د خپل سرې لاسوهنې مخنيوی؛
- طبيعي مناظرو ته څېرمه مناسبو ځايونو کې د اکوټوريزم اړوند ساختمانونو او لوازمو رامنځته کول؛
- د ښاري اکوټوريزم د نړيوالو اصولو مطابق مديريتي چارې تر سره کول.

## اخځليکونه


ضرغام، حمید، ۱۳۸۱، « مدل برنامه ريزي استراتژیک جهانگردی ایران» مرکز آموزش بنیاد مستعضعفان و جانبازان.

کاظمی نسب، حسن و نیکنامی، مهرداد. ۱۳۹۴. اثرات طبیعت گردی بر محیط زیست؛ فرصت ها و تهدیدها. اولین همایش ملی گردشگری، جغرافیا و محیط زیست پاک، دانشگاه بوعلی سینا همدان.

نوربخش، دکتر سید مرتضی و سراسکانرود، محمد اکبرپور. نقش گردشگری شهری در توسعه اقتصادی کلان شهرها. ویژه نامه اقتصاد گردشگری شهری، زمستان ۱۳۸۹.

Akkuş, F. G., & Gül, A. (2022). Urban ecotourism and strategic action plan approach; Isparta city example. GSI Journals Serie A: Advancements in Tourism Recreation and Sports Sciences, 5(2), ۲۸۲-۳۰٦.

Butler, R. W, (2000): Ecotourism-Has it Achieved Maturity or Has the Bubble Burst, Keynote Adress, Pacific Rim Tourism, Rotorua, Zealand

Ecotourism Market Size, Share & Trends Analysis Report By Activity Type (Land, Marine), By Group (Solo, Group), By Booking Mode, By Age Group, By Region, And Segment Forecasts, 2022 – ۲۰۳۰, pdf available at:

https://www.grandviewresearch.com/industry- analysis/ecotourism-market-report

Inskeep, E (1991): Tourism

planning. An Integrated and Sustainable Development Approach. Van Notrand Reinhold, New York

Kim, M. Xie, Y & Cirella, G. (2019): Sustainable Transformative Economy: Community-Based Ecotourism. Sustainability 2019, ١١, ٤٩٧٧; doi: ١٠,٣٣٩٠/su١١١٨٤٩٧٧.

Kiper, T., 2013, Role of Ecotourism in Sustainable Development. Advances in Landscape Architecture, 773-802. http://dx.doi.org/10.5772/5574

Sarkar.S, 2022, Mangroves and climate change: a global issue, Sundarban Mangrove Wetland, A Comprehensive Global Treatise, 2022, Pages 403-474. https://doi.org/10.1016/B978- 0-12-٨١٧٠٩٤-٦,٠٠٠٠٧-٩

Shrestha, R. K., Stein, T. V., Clark, J (2007) “Valuing nature-based recreation in public natural reads of the Apalachicola River region, Florida,” Journal of Environmental Management, 85: 977-٩٨٥.

# توسعه توابع متناوب با استفاده ازسلسله فوریه

۱- پوهنوال منیژه سرهنگ*۱

۱- دیپارتمنت ریاضیات عمومی، پوهنځی ریاضیات عمومی، پوهنتون کابل، کابل، افغانستان

## چکیده

سلسله و ضرایب فوریه، در حل توسعه توابع متناوب از اهمیت زیادی برخوردار است. مزیت قابل توجه سلسله ای فوریه در این است که یک سلسله دایروی و توسعه ای بوده که هر تابع متناوب را که در هر دوره ای تناوب خود انتیگرال پذیر باشد، به صورت حاصل جمع تعدادی نامتناهی از توابع نوسانی ساده (ساین، کوساین) یا تابع (نمایی مختلط) بیان میکند. هدف از توسعه فوریه برای توابع متناوب دریافت مؤلفه های فریکونسی آن توابع میباشد. در این مقاله ابتدا سلسله و ضرایب فوریه ثبوت گردیده، تناظر جفت و تاق با درنظر داشت توابع تاق و جفت برای ضرایب فوریه بیان گردیده و بعداً برای حل توسعه توابع متناوب، مراحل محاسباتی ضرایب فوریه در چند مثال بررسی شده است.

**واژه های کلیدی**: سلسله فوریه، توابع متناوب، انتیگرال

* Email :Manizha.sarhang@ gmail.com

# Expanding Intermittent Functions Using Fourier Series

۱-Associate Professor :Manizha Sarhang *۱

۱-General Mathematics Department, Mathematics Faculty, Kabul University, Afghanistan

## Abstract

Fourier series and coefficients are of great importance in solving the expansion of alternating functions. The significant advantage of the Fourier series is that it is a circular and expanding series that expresses any periodic function that is self-integrable over any period of the interval as the sum of an infinite number of simple oscillatory functions (sine, cosine) or functions (complex exponential). The purpose of Fourier expansion for periodic functions is to obtain the frequency components of those functions. In this article, first, the Fourier series and coefficients are established, the correspondence between even and odd functions is stated for Fourier coefficients, and then, to solve the expansion of periodic functions, the computational steps of Fourier coefficients are examined in several examples.

**Keywords:** Fourier series, Alternating functions, Integral.

* Email :Manizha.sarhang@ gmail.com

**مقدمه**

در اوایل قرن هجدهم، ریاضی دان، انجنیر وفزیک دان مشهور فرانسوی ژان پتیست ژوزف فوریه (در ۲۱ مارچ سال ۱۷۶۸ اوسرو تولد و در۱٦می سال ۱۸۳۰ درپاریس درگذشت) کشف خارق العاده ای را به ارمغان آورد. در نتیجه تحقیقات اش بر روی معادلات دیفرانسیل قسمی که ارتعاشات و انتشار حرارات در اجسام راُمدل سازی نمود، ادعا داشت که هر تابعی را میتوان توسط یک سلسله بی نهایت از توابع مثلثاتی ابتدایی مانند ساین و کوساین معرفی نمود. برای مثال، صدای حاصل از یک آلت موسیقی مانند پیانو، ویلن یا رامپت، تجزیه سیگنال ها با تشکیل دهنده های مثلثاتی آن ها که فریکونسی های بنیادی را آشکار می‌سازد ( یعنی آهنگ و فراز و نواخت یا پژواک) از کاربُرد های مهم سلسله فوریه می‌باشند. ادعای فوریه آن قدر غیر قابل پیش بینی و شگفت انگیز بود که بسیاری از ریاضی دانان برجسته آن وقت به آن اعتقادی نداشتند. در عین حال، دیری نگذشت که دانشمندان به تحسین توانایی و گستردگی کاربُرد روش فوریه زبان گشودند که سر آغاز فتح قلمروهای گوناگون فزیک، انجنیری و تحلیل های ریاضی گردید. تحلیل فوریه یکی از اجزای بنیادین بسیاری از ریاضیات تطبیقی مُدرن محسوب می-گردد. این سلسله، در حقیقت یک وسیله تحلیلی استثنایی برای حل طیف وسیعی از معادلات مشتق قسمی را فراهم می سازد. کاربُردهای آن در ریاضیات مجزا، فزیک و انجنیری آنقدر گسترده میباشد که آن ها را نمی توان لست نمود. به جرأت می‌توان ادعا نمود که در فرایند کاری و تحقیقاتی یک ریاضی دان، انجنیر و فزیک دان، یادگیری تیوری فوریه، همانند کلکولس و الجبر خطی، امری اجتناب ناپذیر می‌باشد و مطمیناً به این نتیجه خواهند رسید که سلسله فوریه یکی از اصلی ترین اسلحه ها در مهمات نظامی(زرادخانه) یک ریاضی دان می-باشد. با استفاده از سلسله فوریه می‌توان توابع متناوب انتیگرال پذیرراتوسعه داد، طوریکه اگر $f:\mathbb{R}\to\mathbb{R}$ یک تابع متناوب با دوره تناوب عددی مثل $T>0$ باشد، به نحوی که برای هر مقدار قابل قبول $x$ ، هر دو عدد $x+T$ و $x-T$ متعلق به ناحیه تعریف تابع بوده، یابه عبارتی دیگر $f(x+T)=f(x)$ یا $f(x-T)=f(x)$ انتیگرال پذیر باشند می‌توان برای حل چنین توابع از سلسله

و ضرایب فوریه استفاده کرد. این سلسله بر روی توابع متناوب (پریودیک) اعمال می شود. در این روش، یک تابع متناوب تجزیه شده و بر حسب عبارت‌های ساین و کوساین بیان می‌گردد. در ریاضیات، عبارت "سلسله" مجموع ترادفی از اعداد را نمایش می‌دهد. در ضمن یک سلسله متناهی، سلسله ای است که تعداد اجزا تشکیل دهنده آن نامحدود باشد(Stein,2003) . اگر اجزا این سلسله نامتناهی نسبتی کمتر از ۱ داشته باشند، این امکان وجود دارد که جمع آن‌ها به مقدار مشخصی متقارب شود. سلسله فوریه در دسته‌بندی سلسله های نامتناهی مثلثاتی قرار می‌گیرد که هر حد مشخص سلسله از طریق روابط مثلثاتی بیان می شود. نحوه ساخت سلسله فوریه به شکل زیر است.

$$f(x)=\frac{a_0}{2}+\sum_{k=1}^{\infty}\left(a_k\cos kx+b_k\sin kx\right)$$

در این‌جا $f(x)$ تابع متناوب مورد نظر برای تجزیه بر حسب عبارت های به صورت توابع مثلثاتی ساین و کوساین است. ضرایب $a_0,a_1,a_2,...$ و $b_0,b_1,b_2,...$ به صورت زیر تعریف می‌شوند.

$$a_0=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}f(x)dx$$

$$a_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}f(x)\cos kxdx$$

$$b_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}f(x)\sin kxdx$$

همچنان

$$s_n=a_0+\sum_{k=1}^{n}\left(a_k\cos kx+b_k\sin kx\right)$$

رابه نام پولینوم مثلثاتی فوریه یاد می‌کنند. پولینوم فوق پریودیک بوده وپریودآن $2\pi$ دوران دارد.

برای به دست آوردن سلسله و ضرایب فوریه سیستم های ارتوگونال و ارتونورمال موارد کاربُرد فراوان دارد. طوری‌که هرگاه $\varphi_n$ یک مستقیم ازتوابع مثلثاتی باشد(Herman, 2016) پس درین صورت:

۱- $\varphi_n$ سیستم ارتوگونال* گفته می شود، وقتی که

$$\int_{-\pi}^{\pi} \varphi_n(x)\varphi_m(x)dx = 0 \quad , \quad m \neq n$$

۲- $\varphi_n$ سیستم ارتونورمال† گفته می شود، وقتی که

$$\int_{-\pi}^{\pi} \varphi^2{}_n(x)dx = 1$$

سیستم مثلثاتی ذیل سیستم ارتوگونال راتشکیل می‌دهد.

$$i.\quad \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \cos nx \cos mx dx = \begin{cases} 0 & m \neq n \\ 1 & m = n > 0 \\ 2 & m = n = 0 \end{cases}$$

$$ii.\quad \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \sin nx \sin mx dx = \begin{cases} 0 & m \neq n \\ 1 & m = n > 0 \\ 0 & m = n = 0 \end{cases}$$

$$iii.\quad \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \sin nx \cos mx dx = 0$$

**حل.** $i$. برای $m = n = 0$ داریم که:

$$\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \cos nx \cos mx dx = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \cos^2 nx dx = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} dx = \frac{1}{\pi} x\Big|_{-\pi}^{\pi} = 2$$

برای $m = n > 0$ داریم که:

$$\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \cos nx \cos mx dx = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} \cos^2 nx dx = \frac{1}{2\pi}\int_{-\pi}^{\pi} (1 + \cos 2nx)\, dx$$

$$= \frac{1}{2\pi}\left(x + \frac{\sin 2nx}{2n}\right)\Bigg|_{-\pi}^{\pi} = \frac{1}{2\pi}(2\pi) = 1$$

* Orthogonal
† Orthonormal

برای $m \neq n$ داریم که:

$$\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\cos nx\cos mx dx=\frac{1}{2\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\cos(n+m)x+\cos(n-m)x dx$$

$$=\frac{1}{2\pi}\left[\frac{\sin(n+m)x}{n+m}+\frac{\sin(n-m)x}{n-m}\right]_{-\pi}^{\pi}=0$$

## اهمیت موضوع

با استفاده ازسلسله فوریه برای توابع متناوب توسعه آن توابع را می‌توان دریافت کرد، طوریکه بعضی توابع را می‌توان به صورت توابع جفت یا تاق گسترش داد و بعداً توسعه آن را بااستفاده از سلسله و ضرایب فوریه پیدا نمود. از گسترش توابع جفت یا تاق به ترتیب سلسله های فوریه ساین و کوساین به دست می‌آید. درضمن اگر تابع دارای تعدادی نامحدودی نقاط غیر متمادی باشد، با استفاده از سلسله فوریه، می‌توان مسایل پیچیده ریاضیکی را به معادلات دیفرانسیل ساده‌تر تبدیل کرد و به راحتی حل نمود.

## هدف استفاده از سلسله فوریه

سلسله فوریه همانند سلسله تایلور، جهت محاسبه توابع پریودیک، استفاده می شود. از مزایای سلسله فوریه نسبت به سلسله تایلور، قابل استفاده بودن این سلسله برای تمام نقاط ناحیه تعریف توابع، خاصتاً توابع متناوب می‌باشد. درصورتی‌که سلسله تایلور تنها حول یک نقطه مشخص از ناحیه تعریف تابع (که سلسله براساس آن نقطه نوشته شده است) ویا به واسطه پولینوم بیان می شود. سلسله فوریه بر حسب ترکیب خطی از توابع مثلثاتی ساین و کوساین در توسعه توابع متناوب استفاده می شود. *

## ارایه سلسله فوریه و استخراج ضرایب آن

سلسله فوریه و ضرایب فوریه راباستفاده ازیک رقاصه که درشکل(۱) ترسیم گردیده است به دست آورده میتوانیم(Kreyszig, 2011).

$$f(x) \stackrel{?}{=} \frac{a_0}{2} + \sum_{k=1}^{\infty} (a_k \cos kx + b_k \sin kx)$$




شکل(۱) حرکت رقاصه متحرک(نویسنده)

در شکل فوق دیده می شود که هر قدر قوه زیاد تر باشد ارتفاع $y$ نیز بیشتر می شود پس گفته میتوانیم قوه متناسب است به عرض $y$موقع که قوه عمل میکند با المقابل رقاصه خلا ف جهت قوه، بر گشت می‌کند. پس در نتیجه نظر به قانون هوک نوشته کرده میتوانیم $f = -cy$ ازطرف دیگر نظربه قانون دوم نیوتن در فزیک میخانیک داریم که:

$$f = am \Rightarrow f = m\frac{dv}{dt} \Rightarrow f = m\frac{d^2y}{dt^2} = -cy \Rightarrow \frac{d^2y}{dt^2} = -\frac{c}{m}y$$

چون(c) ثابت است تقسیم کتله باز هم عدد ثابت است پس می توان آن را به یک ثابت دیگر یعنی $k^2 = \frac{c}{m}$ تعویض نمایم در نتیجه داریم که

$$\frac{d^2y}{dt^2} = -k^2 y \Rightarrow \frac{d^2y}{dt^2} + k^2 y = 0 \Rightarrow y'' + k^2 y = 0$$

معادله ای فوق معادله ای خطی مرتبه دوم متجانس بوده و برای حل آن میتوانیم ازمعادله ای مشخصه آن استفاده کنیم پس داریم که

$$y'' + k^2 y = 0 \Rightarrow m^2 + k^2 = 0 \Rightarrow m_{1,2} = \pm ik \Rightarrow m_1 = 0 + ik, m_2 = 0 - ik$$

چون $m_1, m_2$ هر دو حل معادله ای فوق اند دیده می شود که $m_2$ دارای قمیت منفی است و $m_1$ قیمت مثبت را به خود گرفته است هر دو حل معادله شده و در ضمن ازحل مثبت آن استفاده به عمل می آید پس داریم که: $t = x$

$$(t = x) \Rightarrow y_2 = e^{\alpha x} \cos \beta x \wedge y_1 = e^{\alpha x} \sin \beta x$$

ازطرف دیگر میدانیم که $\alpha = 0 \wedge \beta = k$ در نتیجه میتوانیم بنویسیم ک $y_1 = e^{0x} \sin kx \Rightarrow y_1 = \sin kx \wedge y_2 = \cos kx$ پس گفته میتوانیم $y_1 \wedge y_2$ هردو حل معادله ای تفاضلی خطی مرتبه دوم است چون گراف تابع ساین از مرکز عبور میکند، بیشتر در حل موضوع ما را کمک میکند(Stein, 2003) . در نتیجه داریم که:

$$y = \sin kx \quad y_1^{/} = k \cos kx \wedge y_1^{//} = -k^2 \sin kx \Rightarrow -k^2 \sin kx + k^2 \sin kx = 0$$

پس $$y_k = c_k \sin(kx + \alpha_k)$$

نیزحل عمومی معادله فوق شده می تواند.

$$y_1 = c_1 \sin(x + \alpha_1)$$

$$y_2 = c_2 \sin(3x + \alpha_2)$$

$$y = \sum_{k=0}^{\infty} c_k \sin(kx + \alpha_k)$$

در نتیجه ا ز حل معادله گفته شده است $\sin(\pi + \alpha)$ در صورتیکه $\alpha$ هرعدد(زاویه) که باشد به همان اندازه گراف از نقطه صفر(مبدا) تغییر میکند مگر دامنه ای اهتزاز و امپلیتودآن تغییر نه می یابد.

بالاخره: چون $c_0 \sin \alpha_0$ را میتوانیم به $a_0 = c_0 \sin \alpha_0$ تعویض کنیم زیرا ثوابت هستند و یا $\frac{a_0}{2}$ مد نظر می‌گیریم درنتیجه داریم که:

$$f(x) = a_0 + \sum_{k=1}^{\infty} c_k \sin(kx + \alpha_k)$$

$$f(x) = a_0 + c_1 \sin(x+\alpha_1) + c_2 \sin(2x+\alpha_2) + c_3 \sin(3x+\alpha_3) + \ldots$$

ازطر ف دیگر میتوانیم مجموعه فوق را چنین بررسی کنیم.

$$\therefore \sin(x+\alpha_1) = \sin x \cos\alpha_1 + \cos x \sin\alpha_1$$
$$\sin(2x+\alpha_2) = \sin 2x \cos\alpha_2 + \cos 2x \sin\alpha_2$$
$$\sin(3x+\alpha_3) = \sin 3x \cos\alpha_3 + \cos 3x \sin\alpha_3$$

- •
- •
- •

$$\Rightarrow f(x) = a_0 + c_1 \sin x \cos\alpha_1 + c_1 \cos x \sin\alpha_1 + c_2 \sin 2x \cos\alpha_2 + c_2 \cos 2x \sin\alpha_2 + \ldots$$

درین مرحله نوشته می‌کنیم که

$$a_1 = c_1 \sin\alpha_1, a_2 = c_2 \sin\alpha_2, a_3 = c_3 \sin\alpha_3, \ldots$$
$$b_1 = c_1 \cos\alpha_1, b_2 = c_2 \cos\alpha_2, b_3 = c_3 \cos\alpha_3, \ldots$$

پس باوضع کردن قیمت ها داریم که

$$f(x) = a_0 + a_1 \cos x + a_2 \cos 2x + a_3 \cos 3x + \ldots + b_1 \sin x + b_2 \sin 2x + b_3 \sin 3x + \ldots$$
$$\Rightarrow f(x) = a_0 + \sum_{k=1}^{\infty} (a_k \cos kx + b_k \sin kx)$$
$$f(x) = \frac{a_0}{2} + \sum_{k=1}^{\infty} (a_k \cos kx + b_k \sin kx)$$

درنتیجه سلسله ای به دست آمده رابه نام سلسله ای فوریه یادمی‌نمایند که از اهتزاز یک رقاصه ساده که شکل هارمونیکی بوده شروع و به سلسله فوق ختم گردیده است.

## دریافت ضرایب فوریه

چون تابع sinx و cosx درانتروال $[-\pi, \pi]$ پریود تاق وجفت دارد و محاسبه آن آسان تر میباشد. بناً انتیگرال را در همین انتروال در نظر می گیریم.

$$a_0 = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)dx$$

$$a_k = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kxdx$$

$$b_k = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kxdx$$

**اثبات.** از اطراف $f(x)=\frac{a_0}{2}+\sum_{m=1}^{\infty}(a_m\cos mx+b_m\sin mx)$ انتیگرال در انتروال $[-\pi,\pi]$ می گیریم.

$$1.\quad a_0 \overset{?}{=} \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)dx$$

$$\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)dx = \int_{-\pi}^{\pi}\frac{a_0}{2\pi}dx+\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}a_m\cos mxdx+\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}b_m\sin mxdx$$

$$=\frac{a_0}{2\pi}\int_{-\pi}^{\pi}dx+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}a_m\int_{-\pi}^{\pi}\cos mxdx+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}b_m\int_{-\pi}^{\pi}\sin mxdx$$

$$=\frac{a_0}{2\pi}(\pi+\pi)+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}a_m(\frac{1}{m})[\sin m\pi-\sin m(-\pi)]+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}b_m(-\frac{1}{m})[\cos m\pi-\cos m(-\pi)]$$

$$=\frac{a_0}{2\pi}2\pi+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}a_m\frac{1}{m}2\sin m\pi+\frac{1}{\pi}\sum_{m=1}^{\infty}b_m(-\frac{1}{m})[\cos m\pi-\cos m\pi]=a_0$$

$$\Rightarrow a_0=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)dx$$

$$2.\quad a_k \overset{?}{=} \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kxdx$$

$$\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kxdx=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\left[\frac{a_0}{2}+\sum_{m=1}^{\infty}\left(a_m\cos mx+b_m\sin mx\right)\right]\cos kxdx$$

$$=\frac{a_0}{2\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\cos kxdx+\underbrace{\sum_{m=1}^{\infty}a_m\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\cos kx\cos mxdx}_{m=k>0}+\sum_{m=1}^{\infty}b_m\underbrace{\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\cos kx\sin mxdx}_{0}$$

$$=0+a_k+0=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kxdx$$

$$\Rightarrow a_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kxdx$$

$$3.\quad b_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kx dx=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\left[\frac{a_0}{2}+\sum_{m=1}^{\infty}\left(a_m\cos mx+b_m\sin mx\right)\right]\sin kx dx$$

$$=\frac{a_0}{2\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\sin kx dx+\sum_{m=1}^{\infty}a_m\underbrace{\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\sin kx\cos mx dx}_{0}+\sum_{m=1}^{\infty}\underbrace{b_m\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi}\sin kx\sin mx dx}_{m=k>0}$$

$$=0+0+b_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kx dx$$

$$\Rightarrow b_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kx dx$$

$a_k$ و $b_k$ ضرایب فوریه به ترتیب ضرایب ساین و کوساین سلسله فوریه تابع $f(x)$ و $a_0$را ثابت سلسله فوریه تابع $f(x)$ گویند.

**قضیه:** هرگاه تابع $f$ ,$2\pi$ پریودیک بوده و در$[-\pi,\pi]$قابل انتیگرال باشد. درین صورت:

الف- اگر $f$ جفت باشدسلسله فوریه ازجنس کوساین محاسبه می شود(Herman, 2016).

$$f(x)\approx\frac{a_0}{2}+\sum_{k=1}^{\infty}a_k\cos kx\Rightarrow a_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\cos kx dx$$

ب- اگر $f$ تاق باشدسلسله فوریه ازجنس ساین محاسبه می شود.

$$f(x)\approx\sum_{k=1}^{\infty}b_k\sin kx\Rightarrow b_k=\frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kx dx$$

## تناظر در توابع جفت

توابع جفت با در نظر داشت فورمول $f(-x)=f(x)$ بیان می گردد. طوریکه مقدار تابع داده شده $f(x)$ در مقدار مثبت $x$ برابر با مقدار متناظر برای $-x$ است. نظر به شکل(۲) در طول محور $y$ دیده می شود نیمه سمت چپ و راست دقیقاً یکسان است( Brown, 2012).




شکل (۲) ارایه تناظر جفت

برای توابع باتناظر جفت، تنها عبارت کوساین در توسعه سلسله فوریه وجود دارد. در این جا ضرایب $b_k$ کاملاً از بین می‌رود، این موضوع به مفهوم سلسله کوساین فوریه منجر می شود.

$$f(x)=\frac{a_0}{2}+\sum_{k=1}^{\infty}a_k\cos kx$$

**تناظر در توابع تاق**

توابع تاق با در نظر داشت فورمول $f(-x)=-f(x)$ بیان می گردد. طوریکه مقدار تابع داده شده $f(x)$ در یک مقدار مثبت $x$ همان مقدار عددی با تغییر علامت در مقدار منفی تابع است.

نظر به شکل (۳) در طول محور $y$ دیده می شود نیمه سمت چپ به صورت معکوس نیمه سمت راست خواهد بود (Riley and Bence2006).




شکل (۳) ارایه تناظر تاق

برای توابع با تناظر تاق، تنها عبارت ساین در توسعه فوریه وجود دارد. ضرایب همه صفر می-شوند و به این ترتیب همه از بین می روند و این موضوع منجر به مفهوم سلسله ساین فوریه می شود.

$$f(x)=\sum_{k=1}^{\infty} b_k \sin kx$$

میتوان این موضوع را به طور خلاصه در جدول نشان داد(Chong,2021) .

جدول۱. ارایه تناظر توابع تاق و جفت در سلسله فوریه

| تناظر | تابع | سلسله فوریه | معادله |
|---|---|---|---|
| جفت | $f(-x)=f(x)$ | سلسله کوساین فوریه | $f(x)=\frac{a_0}{2}+\sum_{k=1}^{\infty} a_k \cos kx$ |
| تاق | $f(-x)=-f(x)$ | سلسله ساین فوریه | $f(x)=\sum_{k=1}^{\infty} b_k \sin kx$ |
| بدون تناظر | بدون فورمول | سلسله مختلط | $f(x)=\frac{a_0}{2}+\sum_{m=1}^{\infty}(a_m \cos mx+b_m \sin mx)$ |

میتوان با ذکر مثال زیر دریافت توابع تاق یا جفت را در تابع متناوب شرح داد.

**مثال**. تابع متناوب زیر را در نظر می گیریم( Stroud,2003 ).

$$f(x)=\begin{cases} 1 & 0<x<\pi \\ -1 & -\pi<x<0 \end{cases}$$

با در نظر داشت گراف شکل(٤) تابع ذکر شده مشخص می‌گردد تابع متناظر تاق است. بنابران کافیست که تنها عبارت ساین توسعه فوریه را محاسبه می‌کنیم.




شکل(٤) گراف تابع با تناظر تاق

$$b_k = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{\pi} f(x)\sin kxdx = \frac{1}{\pi}\int_{-\pi}^{0}(-1)\sin kxdx + \frac{1}{\pi}\int_{0}^{\pi}(+1)\sin kxdx$$

$$= \frac{1}{\pi k}(1+1) - \frac{1}{\pi k}(-1-1) = \frac{4}{\pi k} = \frac{1}{\pi k}\cos kx \Big|_{-\pi}^{0} \quad - \frac{1}{\pi k}\cos kx \Big|_{0}^{\pi}$$

## شرایط دیریکله *

**قضیه:** تابع $y = f(x)$ درانتروال $(-L,L)$ (Artken and Weber,2005) .

۱. معین ودارای یک قیمت برای تعدادی متناهی نقاط در نظر گرفته می‌شود.
۲. متناوب با دوره تناوب  است.
۳. $f(x)$ و $f'(x)$ در انتروال $(-L,L)$ متمادی قطعه ای است.

پس سلسله فوریه وضرایب آن چنین تعریف می‌شوند.

$$f(x) = \frac{a_0}{2} + \sum_{k=1}^{\infty}(a_k \cos\frac{\pi}{L}x + b_k \sin\frac{\pi}{L}x)$$

$$a_0 = \frac{1}{L}\int_{-L}^{L} f(x)dx\,,\ a_k = \frac{1}{L}\int_{-L}^{L} f(x)\cos k\frac{\pi}{L}xdx\,, b_k = \frac{1}{L}\int_{-L}^{L} f(x)\sin k\frac{\pi}{L}xdx$$

*

**موارد استفاده سلسله فوریه در توسعه توابع متناوب**

قسمی که یاد آور شدیم از سلسله فوریه و ضرایب آن جهت توسعه(انکشاف) توابع متناوب انتیگرال پذیر استفاده می گردد، حالا با بیان چند مثال ذیل این ادعا را به اثبات می‌رسانیم.

**مثال ۱.** توسعه(تعمیم) مثلثاتی تابع متناوب ذیل را نظر به شکل (۵) به دست می‌آوریم.




شکل(۵) ارایه دوره تناوب سوال داده شده.

**حل.** دوره تناوب تابع فوق $2L=4$ ویک انتروال تناوبی را میتوان $[0,4]$ در نظرگرفت پس معادله این تابع با در نظر داشت انتروال $[0,2]$ قیمت ثابت صفر و در انتروال $[2,4]$ قیت ثابت یک می‌شود.

$$f(x)=\begin{cases}0 & 0<x<2\\ 1 & 2<x<4\end{cases}$$

انتیگرال ضرایب فوریه را محاسبه میکنیم.

$$a_0=\frac{1}{L}\int_{-L}^{L} f(x)dx=\frac{1}{2}\int_{0}^{4} f(x)dx=\frac{1}{2}\int_{0}^{2} f(x)dx+\frac{1}{2}\int_{2}^{4} f(x)dx$$
$$=\frac{1}{2}\int_{2}^{4} dx=\frac{1}{2}x\Big|_2^4=1 \quad \Rightarrow a_0=1$$

هایپوگلایسمیا یک مجموعه علایم است که خود را در علایم کلینیکی مختلفی نشان می‌دهد و منجر به کاهش سطح گلوکوز خون می‌شود. هایپوگلایسمیا به عنوان سطح گلوکز خون کمتر از ۸۰ میلی‌گرم/دسی‌لیتر در بره‌های نوزاد تعریف می‌شود. هایپوگلایسمیا به دنبال کاهش مصرف انرژی و/یا افزایش کتابولیزم ایجاد می‌شود. هایپوگلایسمیا بیشتر در ساعات و روزهای بعد از تولد مشاهده می‌شود تا در ساعات اولیه زندگی. (Gök & Gül, 2018; Klein et al., ۲۰۰۲). بطور کلی، برخی عوامل مانند تأمین انرژی خارجی، محیط و اقلیم، نوع زایمان (زایمان)، شرایط مراقبت و تغذیه، عوامل نژادی و جنتیکی، تأثیر زیادی بر میتابولیزم انرژی در طول ۷۲ ساعت اول زندگی بره‌ها دارند. بره‌های نوزاد به سرعت حرارت بدن خود را از دست می‌دهند، به ویژه اگر به خوبی تغذیه نشوند و همچنان زمانی که محیط سرد و مرطوب باشد. در نتیجه، اختلال متابولیکی معروف به هایپوترمیا-هایپوگلایسمیا" (HHC) بوجود می‌آید که با کاهش حرارت بدن و سطح گلوکوز خون همراه است و منجر به تلفات قابل توجهی در بره‌های نوزاد می‌شود (Gök & Gül, 2018).

ترکیب هیپوترمیا و هایپوگلایسمیا یک بیماری مهم است که نتیجه عدم دریافت فله در ۵ ساعت اول زندگی بره‌ها است. اگر حرارت محیط بره‌های نوزاد به اندازه کافی گرم نباشد، این ترکیب بروز کرده و باعث تلفات گسترده در این دوره می‌شود. به‌ویژه زمانی که حرارت بدن کمتر از ۳۷ درجه سانتی‌گراد کاهش می‌یابد، بیماری در بره‌ها شدید شده و ممکن است به شرایط غیرقابل برگشت منجر شود. حوادث مرگ در بره‌های با هایپوترمیا شدید در میان حیوانات مورد مطالعه این نظر را تأیید می‌کند. با این حال، ما به این باور هستیم که سخت‌زایی و تولدهای دوقلو، در مرگ بره‌ها تأثیرگذار اند، زیرا اثراتی بر تشکیل HHC دارند (Gök & Gül,2018).

هایپوگلایسمیا و هایپرکتونمیا اختلالات متابولیکی اصلی در توکسمیای حامله‌گی هستند. عامل اصلی این بیماری، تقاضای انرژی از جنین در اواخر دوره بارداری است. با این حال، تفاوت زیادی بین گله‌های گوسفندان در شیوع بیماری طبیعی در شرایطی که به نظر می‌رسد مساعد برای توسعه آن باشند، وجود دارد. مهم‌ترین عامل در توکسمیای حامله‌گی کاهش سطح تغذیه در ۴ تا ٦ هفته آخر بارداری است. این دوره‌ای است که رشد جنین سریع است و تقاضا برای انرژی به طور قابل توجهی افزایش می‌یابد، به‌ویژه در گوسفندانی که دوگانه یا سه گانه حامله هستند. به عنوان مثال، نیاز انرژی یک گوسفند ۷۰ کیلوگرامی که دوگانه‌گی حمل می‌کند در هفته‌های آخر بارداری ۳٦ درصد افزایش می‌یابد

(Radostits *et al.,* 2017). گوسفندان به طور طبیعی تکثیر چندگانه‌گی نداشته‌اند، بلکه به طور انتخابی پرورش یافته‌اند تا باروری را افزایش دهند و با افزایش اندازه گله، نسبت بارداری‌های سه گانه‌گی افزایش می‌یابد. با این حال، میزان بقا بره‌ها در نیوزیلند در بره‌های تک دانه (۹۰%) و دو گانه (۸۸%) بالاتر است، در حالی که تنها ٥٤%–۷۷% از بره‌های سه گانه زنده می‌مانند بقا و زنده‌مانی بره‌ها تحت تأثیر عوامل مختلفی است که شامل عوامل مادری میش مانند جینوتایپ، تغذیه، سترس، محیط رحم، اندازه گله، سخت‌زایی (مشکلات هنگام زایمان)، پیوند و رفتار مادری، و تولید کلوستروم و شیر است، و همچنان عواملی از جمله وزن تولد و توانایی مقابله با هایپوترمیا (Hegarty *et al.,* 2016; Tsao *et al.,* 2016 ).

مرگ بیشترین بره‌ها در سه روز اول پس از تولد اتفاق می‌افتد. گرسنه‌گی شایع‌ترین علت مرگ در بره‌های چندگانه‌گی است و با کاهش وزن تولد افزایش می‌یابد. بره‌هایی که قادر به ایستادن و شیر خوردن در دقایق اولیه پس از تولد نیستند، مرگ و میر بالاتری دارند. از آنجا که بره‌های نوزاد ذخایر گلایکوجن خود را در چند ساعت اول پس از تولد به سرعت مصرف می‌کنند، بدون تغذیه کافی، نشاط آنها کاهش بیشتری می‌یابد که با اثرات منفی هایپوترمیا همراه شده و در نهایت منجر به مرگ ضعیف‌ترین بره‌ها می‌شود. تغذیه زودهنگام برای بهینه‌سازی بقا توصیه می‌شود. ما قبلاً مشاهده کرده‌ایم که تغذیه شیر مقداری بره‌های نارس یا کوچک در ساعات

اولیه پس از تولد به نظر می‌رسید که نشاط، جستجوی پستان و تغذیه خودجوش موفقیت‌آمیز را افزایش می‌دهد هایپوترمیا (( Hegarty *et al.,* 2016; Klein *et al.,* 2002).

توکسمیای حامله‌گی می‌تواند بر اساس علت‌های مدیریتی زیر طبقه‌بندی شود که برای کنترل و پیشگیری از آن حیاتی است:

تسمم بارداری اولیه، تسمم بارداری گوسفندان چاق، تسمم بارداری ناشی از گرسنگی، تسمم بارداری ثانویه، تسمم بارداری ناشی از استرس.

هایپوگلایسمیا و کیتوز به طور تجربی در گوسفندان حامله با سوءتغذیه ایجاد می‌شود، اما سندرم حاصل از آن تفاوت‌های بیوشیمیایی و کلینیکی با توکسمیای حامله‌گی که به طور خودبخود رخ می‌دهد، دارد. به عنوان مثال، از دست دادن اشتها یکی از علایم اولیه در بیماری خودبخودی است، در حالی که حیوانات آزمایشی گرسنه، حتی اگر هایپوگلایسمیا و کیتوز داشته باشند، هنگام ارائه غذا، تغذیه می‌کنند. بنابراین، در مورد اینکه آیا هایپوگلایسمیا عامل اولیه شروع علایم کلینیکی در بیماری‌های طبیعی است یا نه، بحث وجود دارد (Radostits *et al.,* 2017).

HHC که به عنوان نقص در توافقی به محیط خارج از رحم شناخته می‌شود، در سراسر جهان رایج است و یکی از مشکلات عمده در بره‌های نوزاد به حساب می‌آید. این اختلال یکی از مشکلات اصلی پرورش گوسفند به شمار می‌رود، زیرا فصل زایش معمولاً با زمستانی در منطقه و کشور ما همزمان است. (Gök & Gül, 2018).

بره‌ها با ذخایر انرژی محدود به دنیا می‌آیند ، مانند گلایکوجن و نسج چربی قهوه‌ای، و به‌ویژه بره‌های دو گانه دارای وزن بدنی پایین‌تر و انرژی کمتری پس از تولد هستند. این موضوع توسط میزان مرگ و میر در میان بره‌های با وزن تولد پایین در این مطالعه تأیید می‌شود که در بره‌های هایپوترمیک خفیف ٪۲۵ و در بره‌های هایپوترمیک شدید ٪۷۰ مرگ و میر مشاهده شد (Gök & Gül, 2018).

هایپوگلایسمیا را می‌توان با تزریق گلوکز داخل پریتونیوم بهبود داد و هیپوترمیا را می‌توان با ایجاد محیط‌های گرم تنظیم کرد. در این مطالعه، گلوکوز ۱۰ % به‌صورت داخل پریتونیوم مطابق با این اظهارات تزریق شد و بره‌ها به یک محیط گرم منتقل شدند.



شکل ۳- تزریق دکستروز به داخل پریتونیوم بره مبتلا به هایپوگلایسیما

## نتیجه‌گیری

هایپوگلایسیما یا کمبود قند خون در نوزادان مانند کره، گوساله و بره‌ها، یکی از مشکلات شایع و مهم متابولیکی است که می‌تواند به سلامت این حیوانات آسیب وارد کند. این اختلال معمولاً در روزهای اول پس از تولد به دلیل ذخایر گلوکوز محدود در بدن نوزاد و همچنین توانایی ناکافی در تولید گلوکوز در جگر به وجود می‌آید. در کره‌ها و گوساله‌ها، علایم هایپوگلایسمیا شامل ضعف عمومی، کاهش فعالیت، لرزش، و بی‌اشتهایی است که اگر درمان نشود، می‌تواند به تشنج، کما و حتی مرگ منجر شود. برای بره‌ها، در صورت عدم دریافت کافی شیر یا عدم تغذیه مناسب در ساعات اولیه پس از تولد، خطر ابتلا به هایپوگلایسیما بیشتر است. درمان این مشکل معمولاً شامل تجویز دکستروز یا سایر منابع گلوکز به‌صورت داخل وریدی یا زیرجلدی است. پیشگیری از هایپوگلایسیما در نوزادان نشخوارکننده از طریق تأمین تغذیه کافی و به موقع و مدیریت وضعیت‌های مانند عفونت یا استرس‌های محیطی امکان‌پذیر است. مراقبت‌های ویژه و شناسایی سریع علائم، کلید موفقیت در درمان و بهبود سلامت نوزادان است.

# منابع

A.R. Hollis, M.O. Furr, K.G. Magdesian, J.E. Axon, V. Ludlow, R.C. Boston, and K. T. T. C. (2008). Blood Glucose Concentrations in Critically Ill Neonatal Foals A.R. *J Vet Intern Med*, *22*, 23–27.

Edwards, T. and H. J. E. (2021). *Clinical Aspects of Neonatal Hypoglycemia: A Mini Review*. *8*. https://doi.org/doi: 10.3389/fped.2020.562251 Clinical

Gök, T., & Gül, Y. (2018). Investigation of hypothermia and hypoglycemia complex in newborn lambs. In *Sağlık Bilimleri Veteriner Dergisi, Fırat Üniversitesi* (Vol. 32, Issue 3, pp. 203–207).

J. E. Hegarty, J. E. Harding, M. H. Oliver, G. Gamble, J. L. Dickson, G. C. & A. L. J. (2016). Oral dextrose gel to improve survival in less vigorous newborn triplet lambs: a randomised controlled trial. *New Zealand Journal of Agricultural Research ISSN:*, *60*(1), 54–69. https://doi.org/DOI: ١٠,١٠٨٠/٠٠٢٨٨٢٣٣,٢٠١٦,١٢٤٠٠٩١

Klein, K. A., Clark, C., & Allen, A. L. (2002). Hypoglycemia in sick and moribund farmed elk calves. In *Canadian Veterinary Journal* (Vol. 43, Issue 10, pp. 778–781).

A.R. Hollis, M.O. Furr, K.G. Magdesian, J.E. Axon, V. Ludlow, R.C. Boston, and K. T. T. C. (2008). Blood Glucose Concentrations in Critically Ill Neonatal Foals A.R. J Vet Intern Med, 22, 23–27.

Edwards, T. and H. J. E. (2021). Clinical Aspects of Neonatal Hypoglycemia: A Mini Review. 8. https://doi.org/doi: 10.3389/fped.2020.562251 Clinical

Gök, T., & Gül, Y. (2018). Investigation of hypothermia and hypoglycemia complex in newborn lambs. In Sağlık Bilimleri Veteriner Dergisi, Fırat Üniversitesi (Vol. 32, Issue 3, pp. 203–207).

J. E. Hegarty, J. E. Harding, M. H. Oliver, G. Gamble, J. L. Dickson, G. C. & A. L. J. (2016). Oral dextrose gel to improve survival in less vigorous newborn triplet lambs: a randomised controlled trial. New Zealand Journal of Agricultural Research ISSN:, 60(1), 54–69. https://doi.org/DOI: ١٠,١٠٨٠/٠٠٢٨٨٢٣٣,٢٠١٦,١٢٤٠٠٩١

Klein, K. A., Clark, C., & Allen, A. L. (2002). Hypoglycemia in sick and moribund farmed elk calves. In Canadian Veterinary Journal (Vol. 43, Issue 10, pp. 778–781).

Radostits, O. M., Gay, C. C., Hinchcliff, K. W., & Constable, P. D. (2017). Veterinary Medicine: A Textbook of the Diseases of Cattle, Horses, Sheep, Pigs, and Goats. Saunders.

Wang, D. M., & Wilkins, P. A. (2024). Equine Neonatal Medicine. Canada.: Wiley Bleakwell.

Trefz, F.M. Feist, M. Lorenz, I. (2016). Hypoglycaemia in hospitalised neonatal calves: prevalence, associated conditions and impact on prognosis. The Veterinary Journal. http://dx.doi.org/doi: ١٠,١٠١٦/j.tvjl.٢٠١٦,١٠,٠٠١٪٠AReference:

Mota-Rojas, D., Wang, D., Titto, C. G., Martínez-Burnes, J., Villanueva-García, D., Lezama, K., ... & Pelagalli, A. (2022). Neonatal infrared thermography images in the hypothermic ruminant model: Anatomical-morphological-physiological aspects and mechanisms for thermoregulation. Frontiers in Veterinary Science, 9, 963205

Garvey, A., Kearney, A., Kasha, S., Dafalla, I., Moore, S., Wall, H., & Curley, A. (2024). Management of neonatal hypoglycaemia in a tertiary maternity unit—A multidisciplinary quality improvement project. Acta Paediatrica, ١١٣(٣), ٤٣٤-٤٤١.

Hammon, H. M., Steinhoff-Wagner, J., Schönhusen, U., Metges, C. C., & Blum, J. W. (2012). Energy metabolism in the newborn farm animal with emphasis on the calf: endocrine changes and responses to milk-born and systemic hormones. Domestic animal endocrinology, 43(2), 171-185.

Tsao, M. F., Chang, H. W., Chang, C. H., Cheng, C. H., & Lin, H. C. (2017). Evaluation of blood glucose monitoring system in screening for neonatal hypoglycemia: tighter accuracy standard. Journal of diabetes science and technology, 11(3), 639-640.

# د عددي انتيگرال نيونې غوره مېتودونه

۱- نوماندپوهنيار احسان الله ويسا [۱*]

۲- نوماند پوهنيار محمد خان قلم يار [۱]

۱- ميرويس خان نيکه زابل دلوړو زده کړوموئسسې درياضی څانگې استاد

**لنډيز**

د رياضياتو يو له ډېرو مهمو موضوع ګانو څخه انتيگرال دی. څرنگه چې دانتېگرال د استعمال ساحه ډېره وسيع ده، او هدف يې دهغو تابع ګانوانتېگرال تقريبي قيمت محاسبه کول دي چې د اوليه تابع لاسته راوړل يې ستونزمن وي.دا چې د انتيگرال مقدار تقريبي دی نو بايد غوره قاعده انتخاب کړو تر څو د خطاء مخنيوی وکړو نو د دې حالتونو لپاره اړتيا ده چې د تقريبي قيمت د ترلاسه کولو لپاره د عددي انتېگرال د قاعدو څخه استفاده وشي، څرنگه چې د نوم څخه يې معلوميږي چې د تقريبي انتېگرال قېمت تقريبي دی نو له دې وجهې يو مقدار خطاء رامنځته کيږي دلته هره طريقه او د هغه خطاء په ترتيب سره څېړل شوې، داڅېړنه په کيفي ډول د تشريحي قاعدو په واسطه ترسره شوې ده، غوره قاعده د سيمپسون قاعده ده چې لږ خطاء لري او د هغې قاعدې څخه به مسلکي اشخاص ښه استفاده وکړي.

**کليدي کلمې:** انتيگرال، خطا، ميتود، تابع.

*Email:ehsanullahwesa@gmail.com

# The Best Methods of Numerical Integration Capture

۱- Ehsanullah wesa[1*]
۲-Mohammad khan Qalamyar
۱,۲Teaching assistant, Mathematics Department Education Faculty, Zabul institute of Higher Education

## Abstract

The integral is one of the most fundamental concepts in mathematics, with applications across numerous disciplines such as physics, engineering, and economics. However, finding the exact integral of certain functions can be challenging, particularly when their antiderivatives are difficult or impossible to compute analytically. In such cases, numerical integration methods provide a practical solution by approximating the integral's value. While these methods are highly useful, they inherently introduce a margin of error, making it critical to choose the most suitable method for minimizing inaccuracies. This study explores the theoretical underpinnings of numerical integration techniques, including their implementation and error analysis. Methods such as the trapezoidal rule, midpoint rule, and Simpson's rule are examined in detail, comparing their performance and applicability to different types of functions. The analysis is conducted qualitatively using descriptive methods to highlight each method's strengths and limitations. Among the techniques evaluated, Simpson's rule emerges as the most effective due to its superior accuracy and minimal error in most cases. This makes it a reliable choice for professionals who require precise approximations. By understanding the characteristics and error behaviors of these methods, users can make informed decisions about which approach to employ for specific mathematical and applied problems.

**Key words**: Integral, Error, Method, Function

Email:ehsanullahwesa@gmail.com

**سریزه**

پوهیږو چې په مختلفو دورو کې د ریاضي علم د بشرپه پرمختګ مهم رول لوبولی، څکه چې دځینو موخو دې ترلاسه کولو لپاره د انتیګرال نیونې عملیه په تحلیلي قاعدې مونږ ته دقیق ځواب نه راکوي. په دې څېړنه کې د انتیګرال تعریف، مفهوم، د عددي انتیګرال محاسبې، د حل قاعدې، خطاګانې او همدارنګه د هریوه په مثالونو باندې بحث شوی دی.

ددې موضوعاتو په ترتیب کې کوښښ شوی ترڅود هرې موضوع د فرعي عنوانونو د ساده مثالونو په واضح ډول او د ریاضیکي موضوعاتو، رابطو، اوشکلونوتسلسل مراعات شي .د موضوع په ترتیب کې د معتبرو داخلي اوخارجي مأخذونو څخه استفاده شوې.

**د څېړنې ستونزه**

بعضې داسې توابع لرو چې دهغو اولیه تابع یا نشته یا لاسته راوړل یې ستونزمن وو لکه دځینوموخود ترلاسه کولولپاره د انتیګرال نیونې په تحلیلي قاعدې مونږ ته دقیق ځواب نه راکوي

لکه : داحتمال تابع $\frac{1}{\sqrt{2\pi}}e^{-\frac{x^2}{2}}$ ، $\int_1^4 e^x\frac{1+x}{2+x^3}dx$.

**د څېړنې اهمیت**

ځینې تابع ګانې شته چې انتېګرال یې تحلیلي حل نه لري یا اولیه تابع موجوده نه وي ، نو د عددي انتیګرال په واسطه یې محاسبه کولای شو.

د عددي حل لپاره باید داسې غوره قاعده انتخاب کړو چې تر ټولو ساده شي.

**د څېړنې موخې**

۱. د هغو تابع ګانو د انتېګرال د تقریبي قیمت محاسبه کول چې د اولیه تابع لاسته راوړل یې یا ستونزمن وي یا شوني نه وي.

۲. دا چې د انتیګرال مقدار تقریبي دی نو باید غوره قاعده انتخاب کړو تر څو د خطاء مخنیوی وشي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. آیا هغه انتیګرالونه چې اولیه تابع او تحلیلي حل نلري نو په کومه قاعده یې محاسبه کولای شو؟

۲. آیا د تقریبی انتېګرال لپاره غوره قاعده موجوده ده؟

**د څېړنې اړوند تېرو اثارو ته کتنه**

په ریاضیاتو کې د خطاء په هکله (ځار، ۱۳۹۹) کوم وخت چې د سطحو مساحت محاسبه تر سره کوله دنامنظمو سطحو د مساحت د پیداکولو په و خت کې د خطاء سره مخامخ شوو ،له دې وجهې ونه توانېدل چې د خطاء مخه ونیسي ، د وخت په تېرېدو سره ریاضي پوهانو د خطاء د کنترول لپاره ځینې قوانین وضع کړل. خو د تقریبي انتیګرال قوانینو ته هغه وخت ډېره اړتیا وه ، ځینې مساحتونه نامنظم وو. تر هغه وروسته مشهور ریاضي پوه (نیطاقي، ۱۳۹۸) یو عمومي فورمول د تقریبي انتیګرال لپاره تر لاسه کړ، له دې فورمول څخه ډېر مهم فورمولونه د توماس سیمپسون وو چې په دې برخه کې یې مهم فورمول لاسته راوړی.( فیروزکوهي،۱۳۹۷ )

**د څېړنې مېتود**

د څېړنې میتود کتابتوني دی او په کیفي ډول د تشریحي قاعدو په واسطه ترسره شوې ده تر ډېره حده مو هڅه کړې چې د موضوع اړوند د بېلابېلو او معتبرو منابعو څخه استفاده وکړم.

خطاء (Error)

**دخطاء منابع:**

د یوې مسئلی عددي حلونه معمولاً خطاء لري، د خطاء د را منځته کېدو عوامل ډېر دي ځیني یې په لاندې ډول بیانوو:

د انسان دلید د وسایلو په واسطه رامنځته کېدونکې خطاء، داعدادو روندداف څخه رامنځته کېدونکې خطاء، دحذف کولو خطاءاو درياضيکي عمليوخطاء. (صدیقي، ۱۳۹۴)

**د خطاءء ډولونه**

۱. مطلقه خطاء : مطلقه خطاء د اصلي او تقریبي مقدار د تفاضل څخه عبارت ده.

$$E_a = \bar{X} - x$$

۲. نسبي خطاء: د مطلق او تقریبي عددونو له نسبت څخه عبارت ده.

$$|R| = \frac{E}{x} = \frac{|\bar{X} - x|}{x}$$

دا خطاءپه لویو او ډېرو کوچنیو مقدارونو کې د خطاء د معلومولو لپاره ډېره مهمه ده.(Srivastava, A.C, 2012).

دمطلق اونسبي خطاء ترمنځ فرق په مثال کې:

مثال: د یوه کتاب او یوه پله تقریبي اوږدوالی په ترتیب سره ۱۹cm او۱۹۹۹۹cm دی که چېرې واقعي مقدارونه یې په ترتیب سره ۲۰cm او ۲۰۰۰۰cm وي مطلق او نسبي خطاء یې په لاندې ډول محاسبه کیږي.

حل: $|E_۲| =$ ۱[illegible]　$R_۲ = ۰,۰۰۰۰۵$　　　$|E_۱| =$

۱[illegible]　$R_۱ = ۰,۰۵$

لیدل کیږي چې نسبي خطاء یې ډېر زیات توپیر لري، له دې څخه دا نتیجه تر لاسه کوو چې یو سانتي متر خطاء په پله کې د ارزښت وړ نه ده ، مګر په کتاب کې ډېر ارزښت لري.
(ده مرده، ۱۳۹۰ ).

انتیګرال

پوهیږو چې که د $\boldsymbol{F(x)}$ تابع داسې پیداکړو چې $\boldsymbol{F'(x) = f(x)}$ صدق وکړي په هغه صورت کې د عددي انتیګرال مقدار د لاندې رابطې څخه لاسته راوړو

$$I = \int_a^b f(x)dx$$

$$I = \int_a^b f(x)dx = F(b) - F(a)$$

په مهندسۍ کې د ځینو داسې توابعو سره مخ کیږو چې غالباً د هغو اولیه تابع مشکله ده چې لاسته راوړو چې قېمتونه شاید په یو جدول کې را کړي وي. او د عددي حل په مرسته یې حل لاسته راوړو. دا چې د انتیګرال مقدار یو مساحت دی چې د f(x) د منحني او د x=b, x=a خطونو په مرسته محصور شوې ده (غوري.۱۳۹۱).




(۱) شکل: د ساحې مساحت ،(ده مرده،. ۱۳۹۰)

## د تقريبي انتيګرال قاعدې

۱. Rectangle Rule
۲. Trapezoidal Rule
۳. Simpson's 1st Rule
٤. Newton's Rule
۵. Gaussian's Rule

### د مستطيل قاعده (Rectangle Rule)

د مستطيل قاعدې څخه عموماً د لومړۍ درجه او د هغه څخه کښته تابع ګانو دګراف لاندې مساحت لپاره استفاده کېږي، دا قاعده نسبت د تقريبي انتيګرال نورو قوانينو ته ډېره دقيقه ده[.] (George, B. & Thomas, J. (2010)

$$\int_{x_i}^{x_{i+1}} f(x)dx \simeq hf\left(\overset{*}{x}_i\right)$$

$$I = \int_{x_a}^{x_b} f(x)dx = \int_{x_0}^{x_1} f(x)dx + \dots + \int_{x_i}^{x_{i+1}} f(x)dx + \dots + \int_{x_{n-1}}^{x_n} f(x)dx$$

$$x_j^*$$

$$\simeq \int_{x_0}^{x_1} f\left(\overset{*}{x}_0\right)dx + \dots + \int_{x_i}^{x_{i+1}} f\left(\overset{*}{x}_i\right)dx + \dots + \int_{x_{n-1}}^{x_n} f\left(\overset{*}{x}_{n-1}\right)dx$$

$$= hf\left(\overset{*}{x}_0\right) + \dots + hf\left(\overset{*}{x}_i\right) + \dots + hf\left(\overset{*}{x}_{n-1}\right)$$

$$= h\left[f\left(\overset{*}{x}_0\right) + \dots + f\left(\overset{*}{x}_i\right) + \dots + f\left(\overset{*}{x}_{n-1}\right)\right]$$

$$= \frac{x_j + x_{j+1}}{2}$$




(۲) شکل: د مستطیل مساحت (ده مرده، ۱۳۹۰)

مثال: د مستطیل د قاعدې څخه په استفادې د لاندې انتیگرال تقریبي مقدار محاسبه کړی په هغه صورت کې چې n=5 وی.(صابري،۱۳۸۹)

حل:

$$I = \int_{٠}^{١} \frac{\sin x}{x} dx;$$

$$\int_{a}^{b} f(x)dx \simeq h\left[f\left(\overset{*}{x}_{١}\right) + f\left(\overset{*}{x}_{٢}\right) + \ldots + f\left(\overset{*}{x}_{n}\right)\right],$$

$$h = \frac{b-a}{n} \Rightarrow h = \frac{١-٠}{٥} = ٠.٢$$

$$x_{٠} = a = ٠,$$

$$x_{١} = x_{٠} + ١⊠ = ٠.٢,$$

$$x_{٢} = x_{٠} + ٢⊠ = ٠.٤,$$

$$x_{٣} = x_{٠} + ٣⊠ = ٠.٦,$$

$$x_{٤} = x_{٠} + ٤⊠ = ٠.٨,$$

$$x_{٥} = x_{٠} + ٥⊠ = ١$$

$$\begin{cases} \overset{*}{x}_1 = \dfrac{x_0 + x_1}{2} = \dfrac{0+0.2}{2} = 0.1, \\ \overset{*}{x}_1 = \dfrac{x_1 + x_2}{2} = \dfrac{0.2+0.4}{2} = 0.3, \\ \overset{*}{x}_1 = \dfrac{x_2 + x_3}{2} = \dfrac{0.4+0.6}{2} = 0.5, \\ \overset{*}{x}_4 = 0.7, \\ \overset{*}{x}_5 = 1 \end{cases}$$

$$\int_0^1 \frac{\sin x}{x} dx \simeq 0.2[f(0.1) + f(0.3) + f(0.5) + f(0.7) + f(0.9)],$$

$$= 0.2\left[\frac{\sin(0.1)}{0.1} + \frac{\sin(0.3)}{0.3} + \frac{\sin(0.5)}{0.5} + \frac{\sin(0.7)}{0.7} + \frac{\sin(0.9)}{0.9}\right],$$

$$= 0.2\left[\frac{0.09983}{0.1} + \frac{0.29552}{0.3} + \frac{0.47943}{0.5} + \frac{0.64422}{0.7} + \frac{0.78333}{0.9}\right],$$

$$= 0.2(4.73291) = 0.94658$$

باید ووایو چې د پورته انتیګرال واقعي مقدار ۰,۹٤٦۰۸۳۱ دی

### د ذوذنقې قاعده (Trapezoidal Rule)

د تقریبي انتیګرال نیولو بله قاعده د ذوذنقې قاعده ده، له دې قاعدې څخه عموماً د هغو مساحتونو د محاسبه کولو لپاره استفاده کېږي چې دلومړۍ درجې تابع تر ګراف لاندې واقع وي.( Grewal, B.S, 2012)

$$\int_{a}^{b} f(x)dx = \frac{h}{۲}[f(x_{۰}) + ۲\boxtimes(x_{۱}) + ۲\boxtimes(x_{۲}) + \ldots\ldots\ldots\ldots + ۲\boxtimes(x_{n-۱}) + f(x_n)]$$

$$\boldsymbol{I} = \int_{x_0}^{x_1} \boldsymbol{f(x)dx} + \int_{x1}^{x_2} \boldsymbol{f(x)dx} + \ldots + \int_{x_i}^{x_{i+1}} \boldsymbol{f(x)dx} + \ldots + \int_{x_{n-1}}^{x_n} \boldsymbol{f(x)dx},$$

$$\simeq \int_{x_0}^{x_1} \boldsymbol{f_1(x)dx} + \int_{x1}^{x_2} \boldsymbol{f_2(x)dx} + \ldots + \int_{x_i}^{x_{i+1}} \boldsymbol{f_i(x)dx} + \ldots + \int_{x_{n-1}}^{x_n} \boldsymbol{f_{n-1}(x)dx}$$

$$= \frac{\boldsymbol{h}}{\boldsymbol{2}}(\boldsymbol{f_0} + \boldsymbol{f_1}) + \frac{\boldsymbol{h}}{\boldsymbol{2}}(\boldsymbol{f_1} + \boldsymbol{f_2}) + \cdots. + \frac{\boldsymbol{h}}{\boldsymbol{2}}(\boldsymbol{f_i} + \boldsymbol{f_{i+1}}) + + \cdots + \frac{\boldsymbol{h}}{\boldsymbol{2}}(\boldsymbol{f_{n-1}} + \boldsymbol{f_n}),$$

$$= \frac{\boldsymbol{h}}{\boldsymbol{2}}(\boldsymbol{f_0} + \boldsymbol{2f_1} + \boldsymbol{2f_2} + \cdots. + \boldsymbol{2f_{n-1}} + \boldsymbol{f_n})$$




(۳)شکل,د ذوذونقې مساحت(ده مرده.۱۳۸۹)

$$\int_{x_i}^{x_{i+1}} f(x)dx \simeq \frac{h}{2}(f_i + f_{i+1})$$

$$|E_i| \leq \frac{h^3}{12}M$$

**د سیمپسون قاعده (Simpson's Rule)**

دهغو مساحتونو د محاسبه کولو لپاره ورڅخه استفاده کېږي چې د دوهمې او دريمې درجې منحنی ګانو په واسطه احاطه شوي وي. د نامنظمو سطحو د مساحت او همدارنګه د سرعت له مخې د تعجيل په لاسته راوړلو کې ورڅخه استفاده کېږي، د ا روش نسبت د تقریبي انتيګرال نورو قاعدو په پرتله زيات استعمال لري اوکمه خطالري ( Krantz, G.S, 2013).

$$\int_a^b f(x)\,dx = \frac{h}{3}\big(f(x_0) + 4f(x_1) + 2f(x_2) + 4f(x_3) + 2f(x_4) + \ldots 2f(x_{n-2}) + 4f(x_{n-1}) + f(x_n)\big)$$

$$I = \int_a^b f(x)dx = \int_0^2 \left[f_0 + t\Delta f_0 + \frac{t(t-1)}{2}\Delta^2 f_0\right] hdt,$$

$$= h\left[tf(0) + \frac{t^2}{2}\Delta f(0) + \frac{\frac{t^3}{3} - \frac{t^2}{2}}{2}\Delta^2 f(0)\right]^2,$$

$$|E_i| \leq \frac{h^5}{90}M$$

$$= h\left[2f_0 + 2\Delta f_0 + \frac{2}{6}\Delta^2 f_0\right],$$

$$= h\left[2f_0 + 2(f_1 - f_0) + \frac{1}{3}(\Delta f_1 - \Delta f_0)\right],$$

$$= \frac{h}{3}[f_0 + 4f_1 + f_2].$$

(Edwards. 2010)

د نیوټن په قاعده کې $X_0, X_1, \ldots, X_m$ معلومې او متساوي الفاصله مجهول دی نو باید د مجهولاتو د لاسته راوړلو لپاره داسې عمل ترسره کړو .
$\sum_{k=0}^{m} w_k f_k,$

**د ګوس قاعده (Gaussian's Rule)**

په دې قاعده کې نقطې او ضریبونه ټول مجهول فرض کېږي نو فورمول یې په لاندې توګه سره لیکو.

$$\int_a^b f(x)dx = \sum_{k=0}^{m} w_k f(x_k) + E,$$

(Stewart, J, 2008 )

**مناقشه**

هغه وخت د عددي انتېګرال نیونې مېتودونه کارولی شو چې انتیګرال په تحلیلي ډول حل ونلري (ده مرده، ۱۳۹۰)

د خطاء په هکله یوناني عالم ارشمیدس په (۲۸۷-)ه، ق کال کوم وخت چې د سطحو د مساحت محاسبه تر سره کوله نو د نامنظمو سطحو د مساحت د پیداکولو په و خت کې د خطاء سره مخامخ کېده ، نوموړي ونه شو کولای چې د خطاء مخه ونیسي چې د وخت په تېریدو سره ریاضي پوهانو د خطاء د کنترول لپاره ځینې قوانین وضع کړل . تر هغه وروسته مشهور ریاضي پوه ګاوس (۱۸٤٥-۱۲۷۷) هم یو عمومي فورمول د تقریبي انتیګرال لپاره لاسته راوړ، توماس سیمپسون ؤ چې په دې برخه کې یې مهم فورمول لاسته راوړ (غوري، ۱۳۹۱). دعددي انتیګرال د نیونې لپاره ډېرې قاعدې موجودې دي چې تر ټولوغوره یې د سېمپسون قاعده ده. د سېمپسون قاعده نسبت نورو قاعدو ته کمه خطاء لري.

**پـــایـله**

د تقريبي انتيګرال د طريقو د څېړلو څخه دې نتيجې ته رسيږو چې د عددي( تقريبي ) انتيګرال محاسبې هغه قاعدې دي چې په دې سره موږ کولای شو د انتېګرال تقريبي قيمت لاسته راوړو. چې تر ټولوغوره يې دسېمپسون قاعده ده. ځکه چې کمه خطاء لري،ډېر داسې موضوعات شته چې موږ نه شو کولای مستقيماً د انتيګرال څخه استفاده وکړو او د مثال په ډول د نامنظمو سطحو دمساحت اوحجم پيداکول، د هغو انتيګرالونو د محاسبې لپاره چې اوليه تابع يې په لاس نه راځي دا او دې ته ورته نور ډېرمسايل شته چې موږ هلته نه شو کولای مستقيماً د انتيګرال څخه استفاده وکړو که د سيمپسون قاعده په خپل ځای کې استفاده شي او n په مناسب ډول انتخاب شي په نتيجه کې به مو دقيق ځواب په لاس راوړی وي او خطاء به مو د صرف نظر وړ وي.

**وړانديزونه**

- په راتلونکي کې د رياضي څانګې استادان او محصلين دعددي انتېګرال دمحاسبې لپاره ګوس او نيوټن قاعدې وڅېړي.
- د رياضي د مسلک غړي دې د دريمې درجې معادلې څخه پورته معادلو عددي انتيګرال نېونې څېړنه تر سره کړي.

## مأخذونه

ده مرده، حبيب الله.(۱۳۹۰) اناليز عددي. چاپ اول(۱۵۸-۱۳۹ص) تهران : مؤسسه نشر علوم نوين.

حامد،احسان الله.( (۱۳۹۳انتګرال کلکولس. ختيځ خپروندويه ټولنه،ننګرهار (۱-۲)

صديقي، فيضان الله.(۱۳۹۴). رياضيات عالي ۲. چاپ دوم (۱۷۷-۱۶۵)کابل: انتشارات بشارت.

صابري نجفي، هاشم. (۱۳۸۹). محاسبات عددي، چاپ اول(۱۱۴-۱۱۲) تهران: انتشارات ګيلان.

غوري ،انور . (۱۳۹۱) . عالي رياضيات . چاپ اول (۳۲-۳۰).کابل : انتشارات سعيد.

Tsao, M. F., Chang, H. W., Chang, C. H., Cheng, C. H., & Lin, H. C. (2017). Evaluation of blood glucose monitoring system in screening for neonatal hypoglycemia: tighter accuracy standard. Journal of diabetes science and technology, 11(3), 639-640.

Bryan Barass; D.R.Derett. Ship stability for Masters and Mates (http://seaworm.narod.ru/2/S tab1.pdf) (PDF). United Kingdom: Elsevier Butterworth. p. 69.

Edwards. (2010). Calculas19th.edition: Brooks Cengage Learning publisher

Gerald, C.F. (2009). Applied Numerical Analysis 7th edition. (272-276) England: British Library

George, B. & Thomas, J. (2010) Thomas Calculus 12th edition(485-490p) U.S.A: Pearson Education publisher.

Grewal, B.S. (2012). Higher Engineering Mathematics 42nd edition (989-991) India: Khanna Publisher

Krantz, G.S. (2013). Calculus DeMYSTifieD (255-257) New York: Pearson Education publisher

Srivastava, A.C. (2012). Engineering Mathematics Volume III. (701-717p) U.S.A: Ghus PHI

Stewart, J. (2008). Calculus 6th edition. (496-504p) U.S.A: Thomson Publisher

# د سایبینو په وده اوحاصل باندې د ورمي کمپوست ډای امونیم فاسفېټ (DAP) او رایزوبیم د استعمال اغیزې


۱- پوهنمل عبدالبصير ترابي*[۱] ۲- پوهنمل زاهد الله زاهد[۲] ۳- پوهنمل نور محمد احمدي[۱]

۱ـ اګرانومی څانګه، د کرنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، میدان وردګ، افغانستان

۲ـ هارتیکلچر څانګه، د کرنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، میدان وردګ، افغانستان


## لنډيز


سایبین (*Glycine max* L.) د نړۍ له مهمو کرنیزو بوټو څخه دی، چې د لوړ غذايي ارزښت اوصنعتي کارونې له امله خانګړی اهمیت لري. دا بوټی د بقولاتو (Fabaceae) کورنۍ پورې تړلی دی او د خپلې لوړې پروټیني (۳۵-۴۰٪) او غوړ (۱۵-۲۰٪) کچې له امله په نړیواله کچه د انسان او څارویو د تغذیې لپاره ډېر ارزښت لري. سايبين نه يوازې د اساسي غذا په توګه کارول کېږي، بلکې د ويټامينونو، معدني موادو او امينو اسيدونو مهمه سرچينه هم ده، چې د خوراکي امنيت لپاره کليدي رول لوبوي، نو په همدې اساس دغه ساحوي څېړنه د افغانستان په وردګو ولایت کې د وردګ د لوړو زدکړومؤسسه د کرنې پوهنځی په تحقیقاتي فارم کې د سا یبینو د مختلفو سرو د رشد او نمو او حاصل د مقایسې په هدف د وردګو ولایت په اقلیمي شرایطو کې د کاملاً تصادفي بلاکونو په قالب کې RCBD ډیزاین په شکل په دریو تکرارونو کې ترسره شوه. په دغه تحقیق کې تر آزمویش لاندې سري عبارت دي له T1:(control) T2:(DAP ۹۰ kg/ha) T3:( VC 2.5 t/ha) T4: (Rhizobia) T5: (DAP (60kg/ha +VC 1.25 t/ha، T6: (DAP 60kg/ha +Rhizobia) T7: (Rhizobia + VC 2.5 t/ha) T8: (Rhizobia +VC) 1.5) t/ha) T9: (DAP ۹۰kg/ha + VC ۲. ۵ t/ha، T10:(DAP 60kg/ha + VC 1.25t/ha+ Rhizobia) چې په نتیجه کې T10: (VC 1.25t/ha+ Rhizobia+ DAP 60kg/ha)سرو د زیات لوړوالی (۷۹,۵۳ سانتی متره) ، د ښاخونو شمېر (۱۰,۳۳) ، په متر مربع کې د ریښو اوږدوالي (۳۷,۲۰ سانتی متره) ، په متر مربع کې د پاڼو شمېر (۱۶۱,۶۰) ، په پلیوکې د دانو شمېر (۳,۱۳) ، د نبات شین وزن (۸۰,۰۰ ګرامه) د نبات وچ وزن (۳۱,۶۷ ګرامه( ، حاصل (په هکتار کې ۲۵۶۱,۶۷ ګلیو ګرامه) په لرلو سره همدارنګه د (۱۰۰) دانو وزن چې (۱۱,۳ ګرامه) ښودل شوی دی، نظر نورو سرو ته یې ډېرحاصل درلود. نو مونږ ویلی شو چې د وردګو ولایت تر اقلیمي شرایطو لاندې T10 (DA+P60kg/ha + VC ۱,۲۵t/ha+ Rhizobia) زیات حاصل او د نموي ودې سبب کېږي.



**کليدي کلمې:** نمو، حاصل، DAP، ورمی کمپووست او رایزوبیا


---


[*] Email: abdulbasir.turabi@gmail.com

# Effects of Vermicompost, Rhizobia and DAP on the Growth and Yield of Soybean under the Climatic Conditions of Maidan Wardak province

١- Abdul Basir Turabi[1] 2- Zahedullah Zahed[2] 3- Noor Mohammad Ahmadi[1]
Agronomy Departmnet, Agriculure Faculty, Wardak University, Maidan Wardak Afghanisatan
Horticulture Departmnet, Agriculure Faculty, Wardak University, Maidan Wardak Afghanisatan

## Abstract

Soybeen (Glycine max L.) is one of the most prominent legume crops in Afghanistan, belonging to the Leguminosae family. It is an important dietary plant and is commercially traded in global markets. On average, soybeen contains 36-40% protein .35% carbohydrates, 18-120% fat, and essential minerals such as calcium, phosphorus, iron, and various vitamins. A field experiment was conducted during the spring season of 2024 at the research farm of the Faculty of Agriculture, Wardak Institute of Higher Education, to study the effect of Vermicompost, Rhizobia and DAP on the Growth and Yield of Soybeen. The experimental area had sandy soil and included ten treatments: The experiment was conducted in 30 plots, each measuring 4 square meters, following an RCBD (Randomized Complete Block Design) with three replications. The variation in Vermicompost, Rhizobia and DAP showed significant impact on the growth and yield parameters of soybeen. Observations indicated significant differences in plant height, the number of primary branches, total dry weight per plant, root length, the number of pods per plant, pod length number of seed per pod or the weight of 100 seeds and achieved better yield levels in soybeen Under the Climatic Conditions of Maidan Wardak province.

**Keywords:** Soybeen, Growth, Yeild, DAP, Vermicopost and Rhizobia.

* Email: abdulbasir.turabi@gmail.com

## سریزه

ساییبن (.*Glycine max* L) د نړۍ له مهمو کرنیزو بوټو څخه دی، چې د لوړ غذایي ارزښت او پراخو صنعتي کارونې له امله ځانګړی اهمیت لري. دا بوټي د بقولاتو (Fabaceae) کورنۍ پورې تړلي دي او د خپلې لوړې پروټیني (۳۵-۴۰٪) او غوړ (۱۵-۲۰٪) کچې له امله په نړیواله کچه د انسان او څارویو د تغذیې لپاره ډېر ارزښت لري. ساییبن نه یوازې د اساسي غذا په توګه کارول کېږي، بلکې د ویټامینونو، معدني موادو او امینو اسیدونو مهمه سرچینه هم ده، چې د خوراکي امنیت لپاره کلیدي رول لوبوي (Singh *et al.,* 2020) . د ساییبن یو ځانګړی خاصیت د رایزوبیا باکتریاوو سره د دې بوټي د ریښو همزیستي ده، چې د نایتروجن تثبیت کولو له لارې د خاورې حاصل خېزی ته وده ورکوي. دا پروسه د کیمیاوي سرو اړتیا کموي او د خاورې پایښت ته ګټه رسوي. سربېره پر دې، ساییبن د درملو، خوراکي موادو، او بیوډیزل په تولید کې هم کارول کېږي، چې دا بوټی د پایښت لرونکې کرنې لپاره یو مهم عنصر ګرځوي(Patra *et al.,* 2018) . په افغانستان کې، چې د ساییبن د کرنې لپاره مناسب اقلیم لري، د دې بوټي تولید د خوراکي امنیت او اقتصادي پرمختګ لپاره خورا مهم دی. څېړنې ښيي چې د رایزوبیا، DAP (دی امونیم فاسفېټ) او ورمي کمپوست د ګډ استعمال له لارې د ساییبن حاصل، د نبات لوړوالی، د ښاخونو شمېر او د ۱۰۰ دانو وزن کې د پام وړ زیاتوالی راځي(Negash *et al.,* 2020) .

ساییبن چې د سویا او ساییبن په نوم هم یا دیږي. او د خاورې فزیکي حالت اصلاح او سموي ، د یاد شوي نبات ریښې په خپل چارچاپیره کې ناجیولونه (Nadules) تشکیلوي، چې د فصل په اوږدو کې په پراخه پیمانه نمو او وده کوي، په یوه هکتار ځمکه کې د ۸۰-۹۰Kg د استفادې وړ نایتروجن نصبوي . د ساییبنو په ریښو کې یو ډول د ناجیول په نامه غوټې شتون لري چې د *Rhizbium japonica* بکتریاوي ورڅخه منځته راځي، چې د خاورې د ښه والي، د نبات ښه ودې لامل ګرځي، چې د نوموړو بکتریا وو په موجودیت کې د کروندې حاصلات تر ۳۰٪ پورې لوړیږي. په همدې توګه په زیاتو ځایونو کې ساییبن د ملچ په توګه د خاورې د تخریب د مخنیوي لپاره کارول کېږي، چې خاوره د څوانو نیالګیو د کښت لپاره آماده کوي ، ساقه یې

د وړو ښاخونو لرونکې وي ، چې د نصواري رنګه پاڼو او جلادارو ويښته ډوله جوړښتونو په وسيله پوښل شوې ده. پاڼې يې په پاڼ کې بيضوي او نوک ته ورته شکل غوره کوي، چې د پخوالي په وخت په زياته اندازه د بوټو څخه توييږي. د سايبينو پلي په د اخل کې د تخم دانې لري، چې د نازکه پوټکي او غلاپونو په وسيله پوښل شوي وي، چې د هر پلي په داخل کې ۴-۲ دانې يا تخمونه وجود لري، د جسامت او وزن له مخې يو د بل سره توپير لري، د نبات تخمونه په ټوليزه توګه په مختلفو رنګونو سره پيداکېږي لکه: زېړ، نصواري، شين، او ځينې يې تور وي (Dadman, 2012) سايبين يو مهم غذايي نبات دی ، چې د کارونې ډېرو مواردو له امله په صنعت کې د اهميت او ارزښت لرونکی دی. د سايبينو د روزلو او کښت اساسي موخه د اوړو او غوړيو تهيه او تر لاسه کول دي، په پرمختللو هيوادونو کې د دې نبات څخه ډېرې ګټې تر لاسه کوي، چې د همدې هيوادونو د اقتصاد په لوړولو کې د پام وړ برخه اخلي، مخکې له دې چې د دې نبات په اقتصادي ګټو باندې خبرې وکړو، لازمه ده چې د دې نبات په بيوشيميکي ارزښت او مهمو جوړوونکو برخو يې رڼا واچوو. سايبين په خپل ترکيب د ۳۶-۴۰ فيصده پروټين، ۱۸-۲۰ فيصده شحم، ۵ فيصده معدني مواد او۳۵ فيصده کار بوهايدريت لري. دنوموړي نبات بيوشيميکي اهميت پدې کې دی چې په غوړيو کې يې ويټامينونه په لومړی درجه وجود لري. همدارنګه د نوموړي نبات د فزيالوژيکې خواصو د مطالعې څخه معلومېږي چې پروټين يې د غوښو د پروټين سره نيژدې ورته والی لري، او د فاسفوريک اسيد او ليستين درلودونکی دی، او نسبت حيواني پروټينونو ته ارزانه او اقتصادي وي. په زياتو هيوادونو کې د سايبينو اوړه د غنمو سره په ګډه توګه د ډوډۍ په برابرولو کې کارول کېږي. د سايبينو تصفيه شوي غوړي وروسته د پنبه دانې او لمرګلي څخه بهترين غوړي دي، چې ورڅخه د خوراکي موادو په تهيه کولو او پخولو کې ګټه اخيستل کېږي. د دې نبات د اوړو څخه په خوږو ډوډيو، کلچو، د مکروني په زياتو ډولونو، د ماشومانو لپاره د سيرلاک په جوړولو او د شکر ناروغانو په خوړو کې ګټه اخيستل کېږي. د دې نبات د اوړو د مخلوطولو څخه په طبابت او درملو، په ځانګړي توګه د چاغوالي ضد درملو په جوړولو کې ګټه اخيستل کېږي. سايبين د حامله ښځو او ماشومانو تغذيې لپاره د پروټينو او انرژي يوه ښه منبع ګڼل کېږي، د سا يبينو څخه تغذيه کول

د جاغور ، سوء تغذي او د بدن د دردونو د مخنیوي لپاره ګټور ګڼل کېږي. همدارنګه په صنعت کې د صابون جوړول، سلولوئيدپلاستیک،رنګ،شمع،ګلسرین، جلا غوړي، د چاپ رنګ او د هرزه وژونکو دواوو په جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل کېږي. همدارنګه د سايبينو څخه ضد عفوني موادو جوړولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي له بلې خوا د سایبنیو د اوړو څخه په مالدارۍ او مرغداریوکې د حیواناتو د روزنې لپاره او د هغه د کنجاړې څخه د شیدې ورکوونکو غواګانو د غذا په تهیه کولو کې ګټه اخیستل کېږي دا ځکه چې د سايبينو کنجاړه کې ۶۹٪ په حدودو کې پروټین شتون لري (اسلمي او محمد نبي، ۱۳۵۵) رایزوبیا یو ګټور مایکرو ارګانیزم دی چې د پښو لرونکو نباتاتو د ریښو سره همغږي جوړوي او د نایټروجن فکسېشن له لارې د نبات تغذیه پیاوړې کوي. د رایزوبیا د اغېز په ترڅ کې د سایبین د نایټروجن اړتیاوې په لویه کچه پوره کېدای شي، چې نه یوازې د خاورې د حاصل خېزۍ ساتنه کوي، بلکې د تولیدي لګښتونو په کمولو کې هم مرسته کوي(Smith *et al.,* 2020). ډای امونیم فاسفېټ (DAP) د نایټروجن او فاسفورس یوه مهمه سرچینه ده چې د نبات د لومړنۍ ودې او ریښو د سیستم په پیاوړي کولو کې مرسته کوي. په ځانګړې توګه، فاسفورس د سایبین د ریښو د پراختیا او د دانې د تولید لپاره اړین عنصر دی(Johnson *et al.,* 2019). ورمي کمپوست، چې د عضوي موادو له خوا د هضم په نتیجه کې ترلاسه کېږي، د خاورې د فزیکي، کیمیاوي او بیولوژیکي ځانګړتیاوو په ښه کولو کې حیاتي رول لري. ورمي کمپوست نه یوازې د خاورې حاصل خېزي ډېروي، بلکې د نبات د مقاومت کچه هم لوړوي. (Gupta *et al.,* 2021).

د دې څېړنې موخه دا ده چې د رایزوبیا، ډای امونیم فاسفېټ (DAP) او ورمي کمپوست د سایبین په وده، نمو او حاصل باندې ګډ تأثيرات وارزول شي. دا به د دې دریو فکتورونو د متقابلې اغېزې په درک کولو کې مرسته وکړي او د سایبین د تولید په مدیریت کې به د غوره کړنو د تطبیق لپاره علمي اساس برابر کړي.

**د څېړنې توکي او کړنلاره**

**د څېړنې وخت**

دغه علمي څېړنه د ثور میاشتې څخه نیولې د میزان د میاشتي تر آخره په ۱۴۰۳ هجري شمسي کال کې د سایبین په وده ییز موسم کې د وردګ پوهنتون په څېړنیز فارم کې «په میدان وردګ ولایت کې د سایبین په وده اوحاصل باندي د ډای امونیم فاسفېټ (DAP) ، ورمي کمپوست او رایزوبیم د استعمال اغیزې » ترسرلیک لاندې ترسره شوه.

**اقلیم او د هوا پېژندنې معلومات**

له جغرافیاوي پلوه د تجربې د پلي کولو ځای د ختیځ طول البلد په ٦٨ درجو، ٤٧ دقیقو او ۳۹ ثانیو او د شمالي عرض البلد په ۳۴ درجو ، ۱۰ دقیقو او ٣٤ ثانیو کې د بحر له سطحي څخه په ۲۲۲۰ متره لوړوالي سره موقیعت لري. میدان وردګو ولایت د افغانستان د مرکزي ولایتونو له جملې څخه شمېرل کېږي. د دغه ولایت اقلیم سوړ دی، چې واورین ژمی، ګرم او وچ اوړی لري، د اوربښت اندازه یې کمه او زیاتره په ژمي کې (د واورې په شکل) ترسره کېږي. د قوس، مرغومې، سلواغې او کب میاشتې یې عموماً ډېرې سړې میاشتې دي، چې په دغو میاشتو کې په منځنۍ توګه د تودوخې کچه له صفر څخه هم راښکته کېږي. د سرطان، اسد او سنلبې میاشتې یې عموماً ګرمې میاشتې دي، په دغو میاشتو کې په منځنۍ توګه د تودوخې درجه په عادي حالتونو کې د سانتي ګرید له ۲۵ درجو څخه لوړېږي. له موسمي اوربښتونو څخه زیاتره یې د جدې د میاشتې د دویمې نیمایي له پیل څخه بیا د وري میاشتې د لومړۍ نیمایي تر پایه پورې رامنځته کېږي.

**د څېړنې ځای**

دا علمي څېړنه په میدان وردګو ولایت کې، د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د کرنې پوهنځي په څېړنېز فارم کې د سایبین په وده اوحاصل باندي د ډای امونیم فاسفېټ (DAP) ، ورمي کمپوست او رایزوبیم د استعمال د اغېزو معلومولو په موخه تر سره شوې ده.

**په څېړنه کې په کار وړل شوي مواد**

ددې څېړنې د سرته رسېدو په موخه د سایبین له یوې ځانګړې ورایټی (Rio grand)، رایزوبیا، ورمي کمپوست او DAP سرې او همدارنګه د ودې او حاصل د پارامترونو د اندازه کولو لپاره د متر، خط کش او ډیجیټل تلې څخه کاراخیستل شوی دی.

**د تجربې طرحه او نقشه**

په نوموړې څېړنه کې د بشپړ اتفاقي ډیزاین (RCBD) څخه استفاده شوې ده چې لس تریتمنته د جویو په شکل کرل شوي وو چې په ټوله کې دیرش پلا ټونه کېږي چې هر پلاټ دوه متره طول او دوه متره عرض لري او تریتمنتونونه په پلاټونو باندې په تصادفي ډول ځای پر ځای شوي.

**احصائیوي تحلیل**

له څېړنې څخه د راټولو شوو ارقامو تجزیه او تحلیل د مایکرو سافټ ایکسل او (Star) پروګرامونو څخه په ګټې اخیستنې سره، د ترېتمنټونو ترمنځ د تفاوت لاسته راوړلو په موخه د (Lest Significant Difference test/L.S.D) څخه کار اخیستل شوی دی.

**موندنې او مناقشه**

**د نبات لوړوالی**

د وریانس د تحلیل او تجزیې له جدول څخه څرګنده شوه چې د نبات لوړوالی د کښت څخه ۴۵ ورځې وروسته (۲۷,۲۰سانتی متره) $T_{10}$ د نورو نه لوړ دی او د کنټرول سره قابل د ملاحظې وړ دی اما نور تریتمنتو سره د ملاحظې وړ نه دی. دنبات لوړوالی د کښت څخه ٦٥ ورځې وروسته( ۷۹,۵۳ سانتي متره) $T_7$ او( ۴٦,۳۳ سانتي متره ) $T_6$ نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دی چې د (۳۵,٦۰ سانتي متره) $T_1$ او (۳۳,۹۹ سانتی متره) $T_4$ تریتمنت سره د ملاحظې وړ توپیر لري. اما نور تریتمنتونونو سره د ملاحظې وړ نه دی. دنبات لوړوالی د راټولولو په وخت کې( ۷۹,۵۳ سانتي متره ) $T_{10}$ او T9 ( ۷۹,۵۳ سانتي متره) د نورو نه لوړ دی او د نورو تریتمنتونوسره د ملاحظې وړ دی. په دې مرحله کې همدارنګه د نبات تر ټولو کم لوړوالی په کنټرول کې (۳۵,٦۰ سانتي متره) ثبت شوی، چې عیني پایلې نیګاش او ملګرو یې له هغې څېړنې څخه ترلاسه کړې،

چې د رومي بانجانو په نبات ترسره شوې دي (Negash *el al.*, 2020). او همدارنګه سمیت او د هغو د ملګرو په (۲۰۲۰) کال کې دې څېړنه ته ورته راپور ورکړی دی او دې نتیجې ته ورسیدل چې ارقام یا حاصل یې د بوټو د لوړوالي له نظره د بلوغ په وخت کې فرق لري (Smit *el al.*, 2020).

**په نبات کې د ښاخونو شمېر**

د واریانس د تحلیل او تجزیې له جدول څخه ښکاري چې د ښاخونو شمېر د کښت څخه ۴۵ ورځې وروسته $T_{10}$ (۵,۴۰) د نورو نه لوړ دی $T_3$ (۳,۲۷) $T_4$ (۲,۶۷) او $T_6$ (۳,۰۰) سره د ملاحظې وړ دی اما نور تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ نه دی. د ښاخونو شمېر د کښت څخه ۶۵ ورځې وروسته د $T_{10}$ (۷,۸۰) نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دي چې د $T_1$ (۳.۵۳)، $T_2$ (۵,۳۳)، $T_3$ (۵,۲۷)، $T_4$ (۵,۰۰) او $T_6$ (۵,۱۳) تریتمنت سره د ملاحظې وړ توپیر لري. اما نور تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ نه دی. او دښاخونو تر ټولو کم شمېر په کنترول کې (۳,۵۳) ثبت شوی. د ښاخونوشمېر د راټولولو په وخت کې $T_7$ (۱۰,۳۳) د نورو نه لوړ دی او د T1 (۵,۳۳). (۷,۳۳) $T_2$ او $T_3$ (۸,۲۰) تریتمنونو سره د ملاحظې وړ دی. اما نور تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ نه دی. او د ښاخونو تر ټولو کم شمېر په کنترول کې (۵,۳۳) ثبت شوی. هېره دې نه وي چې د دې څېړنې پایلې د پیترا او د هغه د ملګرو د څېړنې له پایلې سره مطابقت لري ( Patra *et al.*, ۲۰۱۸).

**په نبات کې د پاڼو شمېر**

د واریانس د تحلیل او تجزیې له جدول څخه ښکاره شوه چې د پاڼو شمېر د کښت څخه ۴۵ ورځې وروسته $T_{10}$ (۲۹,۷۳) د نورو نه لوړ دی اما نورو تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ نه دی. په متر مربع کې د پاڼو شمېر د کښت څخه ۶۵ ورځې وروسته د $T_7$ (۸۲,۲۷) نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دي چې د $T_8$ (۶۸,۰۷) تریتمنت سره د ملاحظې وړ توپیر نه لري. اما نور تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ دی. او د پاڼو تر ټولو کم شمېر په کنترول کې (۶۷.۳۹) ثبت شوی. په متر مربع کې د پاڼو شمېر د راټولولو په وخت کې (۱۷۲,۷۳) $T_5$ او (۱۶۱,۶۰) $T_{10}$ چې د نورو نه

لوړ دی او د $T_1$ (۹۰,۲۷) او $T_2$ ( ۹۰,۲۷) تریمنتو سره د ملاحظې وړ دی اما نورو تریتمنتونو سره دملاحظې وړ نه دی، او د پاڼو تر ټولو کم شمېر په کنترول کې (۹۰,۲۷) ثبت شوی. دا رنګه پایلې د فالدون او ملګرو د څېړنې له پایلو سره مطابقت لري (Mwangi *el al.,* 2019).

**د ریښو اوږدوالی**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه ښکاره شوه چې د ریښو اوږدوالی د کښت څخه ۴۵ ورځې وروسته $T_{10}$(۱۵,٦۷ سانتی متره) د نورو نه لوړ دی اما نورو تریتمنتونو سره دملاحظې وړ نه دی ، په متر مربع کې د ریښو اوږدوالی د کښت څخه ٦۵ ورځې وروسته د $T_{10}$ (۴۰,۱۳ سانتي متره ) ریښو اوږدوالی نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دي چې د ( ۲۴,۴۰سانتی متره) T1 (۲۱,۵۳ سانتی متره) T2 ( ۲٦,۳۳سانتی متر) $T_۳$ (۲۲,۰۰ سانتی متره) $T_4$ او (۲۳,۴۷سانتی متره) $T_6$ تریتمنت سره د ملاحظې وړ توپیر لري. اما نور تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ نه دی. او د ریښو تر ټولو کم اوږدوالی په کنترول کې (۲۱,۵۲ سانتی متره) ثبت شوی. چې ورته پایلې ماوانګی او ملګرو یې د خپلې ترسره شوې څېړنې څخه هم لاسته راوړې دي (Mwangi *el al.,* 2019).

**په پلیوکې د دانو شمېر**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې په پلیوکې د دانو شمېر$T_{10}$(۷,۷۳ ګرامه) دی چې نظر نورو تریتمنتونو ته یې شمېر زیات دی او له نورو تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ توپیرلري. چې په پلیو کې د دانو تر ټولو کم $T_1$( ۲,۸۷ ګرامه) $T_2$ ( (۲,۸۷ ګرامه) او $T_3$ کې (۲,۸۷ ګرامه) ثبت شوي.چې تر ټولو زیات شمېر ګلان یې ۸۰,۳ دانې په ۵۰ سانتي متر فاصله کې په نښه کړې دي (۱- جدول)، چې دا پایلې پیترا او ملګرو یې د خپلې څېړنې له پایلو څخه هم ترلاسه کړې دي (Patra *et al.*, 2018).

**د نبات شین وزن**

د واریانس تحلیل او تجزیې څخه معلومه شوه چې یو نبات کې د نبات شین وزن $T_{10}$ (۸۲,۷۲ ګرامه) نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دی اما د نورو تریتمنتونو تر منځ د ملاحظې وړ توپیر شتون نه لري . چې د نبات شین وزن تر ټولو کم اندازه په $T_6$ کې (۳٦,٦۷ ګرامه) ثبت شوي (۱-

جدول)، چې دا پایلې پیترا او ملګرو یې د خپلې څېړنې له پایلو څخه هم ترلاسه کړې دي .(Patra *et al.*, 2018).

**د نبات وچ وزن**

د واریانس د تحلیل او تجزیې څخه معلومه شوه چې په یو نبات کې د نبات وچ وزن $T_{10}$ (۳۱,٦۷ ګرامه) نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دی اما د نورو تریتمنتونو تر منځ د ملاحظې وړ توپیر شتون نه لري، چې د نبات وچ وزن تر ټولو کم اندازه په $T_8$ کې (۱۷,۰۰ ګرامه) ثبت شوې (۱-جدول) چې عینې پایلې نیګاش او ملګرو یې له هغې څېړنې څخه ترلاسه کړې، چې د رومي بانجانو په نبات ترسره شوې دي (Negash *el al.*, 2020).

**په نبات کې د پلیو شمېر**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې په نبات کې د پلیو شمېر$T_{10}$(۵۳,۹۳) دی چې نظر نورو ترتمینتونو ته زیات دی او له نورو ترتمینتونو سره د ملاحظې وړ توپیر نه لری. چې په نبات کې د پلیو تر ټولو کم شمېر $T_1$( ۴۱,۷) $T_2$ او (۴۱,۵۳) ثبت شوي. (۲- جدول)، چې دا پایلې پیترا او ملګرو یې د خپلې څېړنې له پایلو څخه هم ترلاسه کړی دی .(Patra *et al.*, 2018).

**په پلیوکې د دانو شمېر**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې په پلیوکې د دانو شمېر$T_{10}$(۷,۷۳ ګرامه) دی چې نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دی چې له نورو تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ توپیر لري. چې په پلیو کې د دانو تر ټولو کم $T_1$( ۲,۸۷ ګرامه) $T_2$ ( (۲,۸۷ ګرامه) او $T_3$ کې (۲,۸۷ ګرامه) ثبت شوي. چې تر ټولو زیات شمېر ګلان یې ۸۰,۳ دانې په ۵۰ سانتي متر فاصله کې په نښه کړي دي (۲- جدول)، چې دا پایلې پیترا او ملګرو یې د خپلې څېړنې څخه هم ترلاسه کړې دي .(Patra *et al.*, 2018).

**د سلو دانو وزن**

د احصائیوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې د ساییبنو دسلو دانو وزن په T10 ( ۱۱,۳ ګرامه) نظر نورو تریتمنتونو ته زیات دی. چې له T1 ( ۷,۰۰ ګرامه) T2 (۸,٦۷ ګرامه) او T6 ( ۹,۰۰

ګرامه) ترتمینت سره د ملاحظې وړ توپیر لري. اما د نورو تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ توپیر نه لري. د سلو دانو تر ټولو کم وزن په T1 (۷,۰۰ ګرامه) ترتمینت کې ثبت شوی (۲-جدول). چې ورته پایلې ماوانګی او ملګرو د خپلې ترسره شوې څېړنې څخه هم لاسته راوړې دي ( Mwangi *el al.,* 2019).

## حاصل پر هکتار

لکه څرنګه چې د واریانس د تحلیل او تجزیې څخه معلومېږي چې په یو هکتار کې د سایبین حاصل په T10 (۲۵٦۱,٦۷ کیلو ګرامه) چې نظر نورو تریتمنتونو ته یې حاصل لوړ دی، چې له ( ۷۲٦,٦۷ کیلو ګرامه) T1(۷۷٦,٦۷ کیلو ګرامه) T2 ( ۸۳۳,۳ کیلو ګرامه) T3 (۹۸۳,۳ کیلو ګرامه) T4 او (۱۰۳٦,۰ کیلو ګرامه) T5 تریتمنتونو سره د ملاحظې وړ توپیر لري اما T9 ترتمینت له T10 ترتمینت سره په مقدار د( ۲۴٦۳,۳۳ کیلو ګرامه) او(۲۵٦۱,٦۷ کیلو ګرامه) د ملاحظې وړ توپیر نه لري چې تر ټولو کم حاصل په T1 (۷۷٦,٦۷ کیلو ګرامه) ثبت شوی (۲-جدول). چې ورته پایلې ماوانګی او ملګرو د خپلې ترسره شوې څېړنې څخه هم لاسته راوړې دي ( Mwangi *el al.,* 2019). مندی او خوتیت په (۲۰۰۵) کال کې او نتامبو او د هغو د ملګرو لخوا په (۲۰۱۷) کال کې دغه ته ورته نتایجو راپورو ورکړی او ویې ښودله چې ارقام یا حاصل د دانې د نهایي عملکرد له نظره معنا دار تفاوت لري( Khutate & Mendh,۲۰۰۵ ).

| تریتمنت | د نبات لوړوالی ۴۵ (سانتی متر) ورځې وروسته د | د نبات لوړوالی (سانتی متر) ٦٥ ورځې وروسته د | د نبات لوړوالی د ټولول په وخت کې | د بناخونو شمېر ۴۵ ورځې وروسته د کښت نه | د بناخونو شمېر ٦٥ورځې وروسته د کښت نه | د بناخونو شمېر د ټولولو په وخت کې | د پاڼو شمېر ۴۵ ورځې وروسته د | د پاڼو شمېر ٦٥ ورځې وروسته د کښت نه | د پاڼو شمېر د ټولولو په وخت کې | د ریښو اوږدوالي ۴۵ (سانتی متره) | د ریښو اوږدوالي ۷۵ (سانتی متره) ورځې وروسته د | د نبات شین وزن | د نبات وچ وزن |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $T_1$ (control) | ۱۸,۰۰ [b] | ۳۰,۴۰ [c] | ۳۵,٦۰ [d] | ۳,٦۷ ab | ۳,۵۳ c | ۵,۳۳ c | ۱۸,۰۰ | ۳۹,۴ [c] | ۹۰,۲۷ [b] | ۱۲,۲۷ | ۲۲,۰۰ [c] | ۴۳,۳۳ [bc] | ۲۷,۰۰ |
| $T_2$ (DAP 90 Kg/ha ) | ۲۱,۲۷ ab | ۳۸,۱۳ [abc] | ۵۳,٦۰ [c] | ۳,۸۰ ab | ۵,۳۳ bc | ۷,۳۳ bc | ۲۲,۳۳ | ۴۸,۴۷ [bc] | ۹۰,۲۷ [b] | ۱۳,۹۳ | ۲۴,۴۰ [c] | ۴۲,٦۷ [bc] | ۳۱,۳۳ |
| $T_3$ (VC 2.5 t/ha) | ۲۲,۳۳ ab | ۴۰,۲۰ [abc] | ۴۸,۹۳ [cd] | ۳,۲۷ b | ۵,۲۷ bc | ۸,۲۰ b | ۲۲,۳۳ | ۴۰,۴۷ [c] | ۱۴۹,۸۷ ab | ۱۵,۰۰ | ۲۱,۵۳ [c] | ۴۵,۰۰ [bc] | ۱۹,۳۳ |
| $T_4$ ( Rhizobia) | ۲۰,۸۷ ab | ۳۳,۹۳ [bc] | ۵٦,۰۰ [c] | ۲,٦۷ b | ۵,۰۰ bc | ۸,۵۳ ab | ۲۱,۹۳ | ۴۹,۸۷ [bc] | ۱۳۱,۹۳ ab | ۱۴,۴۰ | ۲۹,۴۷ [abc] | ۵۴,٦۷ [abc] | ۲۷,۳۳ |
| $T_5$ (DAP 60kg/ha + VC 1.25 t/ha) | ۲۵,۰۰ ab | ۴٦,۳۳ [a] | ۵۰,۱۳ [c] | ۳,٦۷ ab | ۵,۹۳ ab | ۹,۲۰ ab | ۲٦,۱۳ | ۵۰,۸۰ [bc] | ۱۷۲,۹۳ [a] | ۱۴,۲۰ | ۳۳.۲٦ [bc] | ۵٦,۳۳ [abc] | ۲٦,۳۳ |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $T_6$ (DAP 60kg/ha + Rhizobia) | ۲۳,۷ ab | ۴۱,۴۰ abc | ۵۴,۲۷ c | ۳,۰۰ b | ۵,۱۳ bc | ۸,۸۰ ab | ۲۳,۳۳ | ۴۴,۳۳ bc | ۱۶۰,۲۷ ab | ۱۳,۴۰ | ۲۳,۴۷ c | ۳۶,۶۷ c | ۲۳,۳۳ |
| $T_7$ (Rhizobia + VC 2.5 t/ha) | ۲۴,۰۰ ab | ۴۸,۲۰ a | ۵۸,۲۰ bc | ۴,۰۰ ab | ۵,۶۰ abc | ۱۰,۳۳ a | ۲۱,۴۰ | ۸۲,۷۲ a | ۱۰۷,۷۳ ab | ۱۴,۲۰ | ۴۰,۱۳ a | ۶۹,۳۳ ab | ۲۸,۰۰ |
| $T_8$ (Rhizobia + VC 1.5 t/ha) | ۲۴,۰۰ ab | ۳۸,۰۷ abc | ۴۹,۲۷ cd | ۳,۸۷ ab | ۵,۷۳ abc | ۸,۸۰ ab | ۲۵,۰۰ | ۶۸,۰۷ ab | ۱۴۴,۸۳ ab | ۱۳,۶۷ | ۳۷,۴۷ ab | ۳۷,۳۳ c | ۱۷,۰۰ |
| $T_9$ (DAP 90kg/ha + VC 2. 5 t/ha) | ۲۶,۱۳ ab | ۴۲,۶۷ ab | ۷۱,۱۳ ab | ۴,۴۷ ab | ۷,۲۰ ab | ۸,۴۰ ab | ۲۵,۶۷ | ۵۰,۸۰ bc | ۱۴۸,۵۳ ab | ۱۴,۶۷ | ۳۵,۸۷ ab | ۴۴,۰۰ bc | ۱۷,۶۷ |
| $T_{10}$ (DAP 60kg/ha + VC 1.25 t/ha + Rhizobia) | ۲۷,۲۰ a | ۴۵,۰۰ ab | ۷۹,۵۳ a | ۵,۴۰ a | ۷,۸۰ a | ۸,۸۰ ab | ۲۹,۷۳ | ۵۱,۲۷ bc | ۱۶۱,۶۰ a | ۱۵,۶۷ | ۳۷,۲۰ ab | ۸۰,۰۰ a | ۳۱,۶۱ |
| LSD | ۸,۱۹۳۲ | ۱۲,۱۱۲۵ | ۸,۶۵ | ۱,۹۴۴۸ | ۲,۳۶۹۲ | ۲,۰۹۰۲ | Ns | ۲۵,۷۴۳۴ | ۷۱,۱۱۴۸ | ۱۴,۹۳ | ۱۱,۱۷۴۴ | ۳۰,۷۲۳۶ | Ns |
| CV (%) | ۱۲,۰۸ | ۱۰,۲۳ | ۸,۶۵ | ۱۷,۵۷ | ۱۴,۳۲ | ۸,۵۳ | ۱۹,۱۸ | ۱۶,۷۵ | ۱۷,۱۹ | ۱۷,۵۷ | ۱۲,۸۱ | ۳۰,۷۲۳۶ | ۳۷,۹۱ |

په پورته جدول کې ورته حروف د LSD ازموینې پراساس احصائیوي توپیرونه ښیي چې د p ۰،۰۵ < اندازې په پام کې نیولو سره قابل ملاحظه دي.

| تریتمنت | حاصل پرهکتار (کیلو ګرام) | د ۱۰۰ دانو وزن (ګرام) | د تخمونوشمېر په پلیوکې | |
|---|---|---|---|---|
| (T1 ) (control | ۷۲٦,٦۷ $^{b}$ | ۷,۰۰ $^{c}$ | ۲,۸۷ $^{c}$ | ۴۱,۷۳ |
| (T2 ) (DAP 90 Kg/ha | ۷۷٦,٦۷ $^{b}$ | ۸,٦۷ $^{bc}$ | ۲,۸۷ $^{c}$ | ۴۱,۵۳ |
| (T3 )(VC 2.5 t/ha | ۸۳۳,۳ $^{b}$ | ۹,۳۳ $^{ab}$ | ۲,۸۷ $^{c}$ | ۳۵,۸۰ |
| (T4 ) ( Rhizobia | ۹۸۳,۳ $^{b}$ | ۹,۳۳ $^{ab}$ | ۲,۵۰ $^{c}$ | ۵۳,۳۳ |
| (T5) (DAP 60kg/ha + VC 1.25 t/ha | ۱۰۳٦,۰۰ $^{b}$ | ۹,٦۷ $^{ab}$ | ۲,۹۳ $^{c}$ | ۵۱,۲۷ |
| (T6) (DAP 60kg/ha + Rhizobia | ۱۴۳۳,۳۳ $^{ab}$ | ۹,۰۰ $^{bc}$ | ۲,۹۳ $^{c}$ | ۳۹,۵۳ |
| (T7) (Rhizobia + VC ۲,٥ t/ha | ۱۸۸۳,۳۳ $^{ab}$ | ۱۰,۰۰ $^{ab}$ | ۳,۱۳ $^{c}$ | ۴۹,۹۳ |
| (T8) (Rhizobia + VC ۱,٥ t/ha | ۱٦۸۰,۰۰ $^{ab}$ | ۹,۳۳ $^{ab}$ | ۳,۰۰ $^{c}$ | ۴۹,۴۰ |
| (T9) (DAP 90kg/ha + VC 2. 5 t/ha | ۲۴٦۳,۳۳ $^{a}$ | ۱۰,۰۰ $^{ab}$ | ۵,٦۷ $^{b}$ | ۵۲,۷۳ |
| (T10) (DAP 60kg/ha + VC 1.25 t/ha + Rhizobia | ۲۵٦۱,٦۷ $^{a}$ | ۱۱,۳ $^{a}$ | ۷,۷۳ $^{a}$ | ۵۳,۹۳ |
| LSD | ۱۳۵۹,۹۱۹۰ | ۲,۲٦۰٦ | ۰,۸۷۵۹ | Ns |
| CV (%) | ۳۲,۳۱ | ۸,۲۴ | ۸,۲۰ | ۲۰,۷۰ |

**۲ – جدول**: د سایبینو دبیلابیلو مرحلو کې دبیلابیلو سرو اغیزو د نبات د تخمونو شمېر په پلیو کې، د ۱۰۰ دانو وزن، د حاصل وزن په هکتار کیتار اندی د تجزیه وریانس ښيې

p۰,۰۵ < اندازي په پام کې نیولو سره د ملاحظې وړ دي.

**پایله**

ستانېزی،عبدالظاهر او احديار فريبا .(۱۳۹۲). عمومي فزيک، الفروق خپرندويه ټولنه.

سيدي، شير آقا سيد.(۱۳۹٦). کلکولس او تحليلي هندسه(لومړی ټوک).کابل:ننگرهار پوهنتون،ښوونې او روزنې پوهنځی.

سيدي، شير آقا سيد.(۱۳۹٦). کلکولس او تحليلي هندسه(دوهم ټوک). کابل:ننگرهار پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی.

سيدي، شير آقا سيد.(۱۴۰۰). سطحي تحليلي هندسه.لومړی چاپ. ننگرهار پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی.

شمسی، زهرا.(۱۳۹۷).هندسه(۳).سهامي خاص ،تهران ايران.

غوري ،محمد انور.(۱۳۹۴).عمومي رياضي.سباوون: سعيد خپرنيز مرکز.

Belonia Joseph, De Castro Josefina. Application of conic sections in Real life.

Cakir, Ahmet. (2007). Conic sections. turkey: zombak Dosim Yoyin Egitim eve Turizm isletmeler sanayi Ticarit.

Cell. John W, Wiley John. (1995). Analytic geometry. second edition. New York: London.

Halili Rushadiji1, Kelmendi Endreta1, Bajrami Metira1, Abduramani Getora2. Application of conic sections in Architecture.

Qudosi, A.M.(2021). conic sections and their Application, international journal of Humanities and natural Sciences

Riddle, Douglas, F. (1996). Analytic geometry. Sixth Edition. America: P W S. Publishing company. Russell Bertrand. (2009). II chapter.

SIMMONS, GEORGE, F. (1996). CALCULUS WITH ANALYTIC GEOMETRY (second edition), McGraw-Hill Companies, inc.

Thomas, George B. (2010). Thomas, calculus, 12th edition. United State of America.

Wiley john and sons INC. (2012). Calculus, 10th Edition. Laurie Rosatone, United State of America.

Yusuf, S, M. (2012). Calculus with Analytic Geometry, ILMI KIT

# د میدان وردګو ولایت تراقلیمي شرایطو لاندې د کچالو په وده او حاصل باندې د عضوي او غیري عضوي ملچونو اغیزې

۱- پوهنمل زاهد الله زاهد*[۱] ۲-پوهنمل عبدالبصیر ترابی[۲] ۳-رشاد حبیبي[۳]

۱ـ هارتیکلچر دیپارتمنت، د کرنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، میدان وردګ، افغانستان

۲ـ اګرانومی دیپارتمنت، د کرنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، میدان وردګ، افغانستان

۳ـ هارتیکلچر دیپارتمنت محصل، د کرنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، میدان وردګ، افغانستان

**لنډیز**

دا علمي ساحوي څېړنه د میدان وردګو ولایت، سیداباد ولسوالي، دشت توپ سیمه، وردګ د لوړوزده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي په څېړنیز فارم کې ترسره شوې ده، ترڅو د کچالوپه وده او حاصل باندې د عضوي او غیر عضوي ملچ اغیزې معلومې کړل شي. څېړنه په تصادفي مکمل بلاک ډیزاین (RCBD) چې شپږ ترتمنتونه لکه $T_1$= کنټرول (دعضوي اوغیر عضوي ملچ څخه پرته) = $T_2$ د غنمو بوس ملچ $T_3$ = روڼ یا شفاف پلاستیکي ملچ $T_4$= د اړې بور ملچ $T_5$ = حیواني سرې ملچ $T_6$ = خړ یا خاکستري پلاستیکي ملچ. د۳ تکرارونوسره ترسره شوې د ودې او حاصل اړوند له بېلابېلوپارامترونومشاهدو څخه ارقام راټول او ثبت شول . ارقام له ټولولوڅخه وروسته تحلیل او تجزیه شوي دي . د غیرعضوي ملچونو په منځ کې $T_6$ (خړ یا خاکستري ملچ) څخه تر ټولو لوړنبات (۴۲،۵۸) سانتي متره، د شاخونو اعظمي شمېر(۱۰،٦۷) داني، د پاڼو اعظمي شمېر(۱۴۲،۰٦) دانې او د پاڼو تر ټولو زیاته سطحه (۴۰،۷۸) سانتی متر مربع ترلاسه شوې ده. په تعقیب سره یې په $T_5$ (روڼ یا شفاف پلاستیک ملچ) کې په بوټي کې د تیوبرونو اعظمي شمېر(۷،۷۴) دانې، په نبات کې د تیوبر تر ټولو زیات حاصل (۰،۵۳۱) کیلوګرامه، په پلاټ کې د تیوبر تر ټولو زیات حاصل (۸۲،۱۹) کیلوګرام او په هکتار کې د تیوبر تر ټولو زیات حاصل (۳۹،۷۵) ټنه ترلاسه شوی دی. په ورته ډول د عضوي ملچونو په منځ کې $T_3$ (حیواني ملچ یا FYM) څخه ترټولو لوړ نبات (۳۸،۸٦) سانتي متره، د شاخونو اعظمي شمېر(۸،۰) داني، د پاڼو اعظمي شمېر(۱۱۵،۷۷) دانې، د پاڼو اعظمي سطحه (۷۹،۴۰) سانتي متر مربع، په نبات کې تر ټولو زیات حاصل (۰،۴٦۲) کیلوګرامه، په پلاټ کې د تیوبر تر ټولو زیات حاصل (۱٦،۵٦۲) کیلوګرام او په هکتار کې د تیوبر تر ټولو زیات حاصل (۳۴،۵۰) ټنه ترلاسه شوي دي.

**کلیدي کلمې:** کچالو، وده، حاصل، عضوي ، غیر عضوي او ملچ

*Email; zazahedullah@gmail.com

# Effects of organic and inorganic mulches on the growth and yield of potatoes under the agro-climatic conditions of Maidan Wardak province

۱-Zahedullah Zahed[1], 2- Abdulbasir Turabi[2], 3- Rishad Habibi[3]
۱-Horticulture Department, Agriculture Faculty, Wardak University, Wardak Maidan Afghanistan
۲-Agronomy Department, Agriculture Faculty, Wardak University Wardak Maidan Afghanistan
۳-Rishad Habibi Student of Horticulture Department, Agriculture Faculty, Wardak Maidan Afghanistan

## Abstract

This scientific field research was conducted in the Dasht-e-Top area of Saydabad District, Maidan Wardak Province, at the research farm of Agriculture Faculty, Wardak Institute of Higher Education. The purpose of the study was to investigate the effects of organic and inorganic mulches on the growth and yield of potatoes. The experiment was conducted using a Randomized Complete Block Design (RCBD) with six treatments as T1: Control (without organic or inorganic mulch), T2: Wheat straw mulch, T3: Transparent plastic mulch, T4: Sawdust mulch, T5: Farmyard manure (FYM) mulch and T6: Gray plastic mulch. Each treatment was applied with three replications. Various parameters related to plant growth and yield were observed, recorded, and analyzed statistically. Among the inorganic mulches, T6 (gray plastic mulch) recorded The tallest plant (42.58 cm), The highest number of branches (10.67), The highest number of leaves (142.06), largest leaf area (40.78 cm²) respectively. The highest number of tubers per plant (7.74), highest tuber yield per plant (0.531 kg), highest yield per plot (82.19 kg), highest tuber yield per hectare (39.75 tons) were recorded in T5 respectively. Among the organic mulches, T3 (farmyard manure or FYM) resulted The tallest plant (38.86 cm), highest number of branches (8.0), highest number of leaves (115.77), largest leaf area (79.40 cm²), highest tuber yield per plant (0.462 kg), highest yield per plot (16.562 kg) and highest tuber yield per hectare (34.50 tons) respectively.

**Keywords:** Potato, growth, yield, organic, inorganic, mulch.

***Email; zazahedullah@gmail.com**

## سريزه

کچالو چي علمي نوم يي .Solanum tuberosum L دی د نړۍ له څلورو لويو خوراکي محصولاتو څخه شمېرل کېږي او نور دری يې وريجې، غنم، اوجوار دي ( Thamburaj and singh., 2013.) کچالو دسولاناسې Solanaceae په کورنۍ پورې اړه لري، جنس يې Solanum او نوعه يې tubersum دي. کچالو چې د سبو د پادشاه په نوم هم پيژندل کېږي په نړۍ کې تر ټولو عام کرل کېدونکی بوټی دی(Reddy *et al.*, 2018). کچالو په اصل کې دسويلي امريکا براعظم اصلي بوټی دی چيرې چې شا اوخوا (۷۰۰۰ـ ۹۰۰۰ ) کاله مخکې يې د وحشي نبات په توګه وده کوله (Touseef Husain, 2016). په ۲۰۱۸ کال کې د نړۍ د کچالو توليد (۴۵۸۴۹۰,۳۶۱ ) زره ټنه اټکل شوی دی او چين د کچالو ترټولو لوی توليد کوونکی هيواد دی چې د نړۍ نږدې درېيمه برخه توليد له چين او هند څخه ترلاسه کېږي (FAOSTAT.2015). کچالو زموږګران هيواد افغانستان ته د امير عبد الرحمن خان په وخت کې راوړل شو چې تراوسه پورې يې کرنه دوام لري. کچالو په کابل، ميدان وردګ، غزني او باميانو په ولايتونو کې په زياته پيمانه کرل کيږي. دطبيعت له پلوه کچالو يخ او وچ ښودل شوی دی، له همدې امله هغه ټپ چې سوځېدلی وي، که چېرې کچالو پري کېښودل شي ژر تسکين مومي. په همدې توګه هغه کسان چې د سترګو پړسوب او درد لري، په خپلو سترګو دې غوښ شوی کچالو وتړي، ډېر ژر به يې پړسوب او درد ښه شي. له کچالو څخه هم د ډوډۍ او هم د ترکاري په توګه ګټه اخيستل کېږي. کچالو په خپل ترکيب کې B ، A او C ويټامينونه، کلسيم، پوتاشيم، فاسفورس، اوسپنه مګنيزيم، سلفر، کلورين او آيوډين ښه سرچينه ګڼل کېږي. کچالو په زياته اندازه نشايسته او په کمه اندازه پروټين لري، په حيواني تغذيه کې هم کارول کېږي، د څارويو د چاغوالي او د شيدو د زياتېدو لامل کېږي. کچالو د ۱۰۰۰ څخه زياتې نوعې لري. سپين پوستکی کچالو او سورپوستکی کچالو په افغا نستان کې ډېر عموميت لري. کچالو د معتدله اقليم نبات دی چې دبېلا بېلو موسمونو سره توافق کولای شي. د ودې د موسم په جريان کې د تودوخې درجه يو ډېرمهم فکټور ګڼل کېږي چې په وده او حاصلاتو باندې يې اغيزې کوي. څوان بوټی يې د سانتي ګراد په ۲۴ درجه تودوخه کې ښه وده کوي او وروستۍ وده يې

د سانتي ګراد په ۱۸ درجو کې ښه تر سره کېږي. د تودوخې په ۲۰ درجه د سانتي ګراد کې دتیوبرونو تولید لوړ حد ته رسېږي. د حرارت د درجې په لوړېدو سره يې په حاصلاتو کې کموالی راځي او په ۳۰ درجه د سانتي ګراد کې دحاصل تولیدات په مکمل ډول درېږي. د ملچ کولو (Mulching) اصطلاح د خاورې سطحې ته د موادو د پوښ ورکولو لپاره کارول کېږي (Norman.1992). ملچ کول په خاوره کې زيات لنده بل ساتي او د تودوخې د بدلونونو د کنټرول سبب کېږي، د خاورې فزيکي، کېمياوي او بيولوژيکي ځانګړتياوو ته پراختيا ورکوي، په خاوره کې غذايي مواد زياتوي چې په پايله کې د نبات وده او حاصل لوړوي (Dillpkumar *et al* .,۱۹۹۰). د ملچ مواد چې په دوديز ډول دبزګرانو له خوا وچې يا تازه پاڼو، دکيلې پاڼې، د غنمو او وريجو واښه، دجوارو ډډونه، د نبات پاتې شوني، دکور کثافات، دحبوباتو ډډونه او نور بېلابېل مواد کارول کېږي. هغه د ملچ مواد چې په عصري يا سوداګريزه کرنه کې د غيرعضوي ملچونو په ډول کارول کېږي د المونيم ورقې، قير يا اسفالت کاغذ، شيشې او پلاستيکي ملچونه په بيلابيلو رنګونو لکه تور، شفاف يا بې رنګ، شين، سور، خړ او داسې نور شامل دي. دملچونو اصلي مواد عضوي دي چې دنباتاتو او حيواناتو له پاتې شونو څخه ترلاسه کېږي ((Hossen *et al.,*2017; Kader *et al.,* 2017; Farjana *et al.,* 2019. په وچ اقليم کې پلاستيکي ملچونه د نباتاتو د توليد لپاره ډېرې ګټې لري او د خاورې له تخريب څخه مخنيوی کوي (Stelli et al.,۲۰۱۸). د اوبو ضايعات کموي چې د لنده بل د ساتنې لپاره اړين دي (Jordan *et al.,* ۲۰۱۰). د خاورې ښېرازي يا حاصلخيزي لوړوي او زيان رسوونکي واښه کنټرولوي چې په پايله کې د زيات حاصل لامل کېږي (Moreno and Moreno.۲۰۰۸). ملچ کول د خاورې په مايکرو اقليم باندې هم اغيزه کوي، د تخمونو د راټوکېدو او د ګل کولو دوره هڅوي، پداسې حال کې چې د زيان رسوونکو واښو شدت کموي (Campiglia ,.۲۰۱٤ *et al*).

د اګروال او ملګرو (Agrawal *et al,*. 2010) د څېړنې د موندنې په اساس سره پلاستيکي ملچونه په روميانو کې د غير ملچ شوي شرايطو په پرتله د لوړ خالص عايد لامل کېږي او د لګښت: ګټې (cost: benefit) نسبت په سور پلاستيکي ملچ کې د غير ملچ شوي شرايطو په پرتله لوړ

دي. څرنګه چې کچالو زموږ په هیواد کې په پراخه کچه کرل کېږي خو کروندګروته د کچالو څخه د زیات حاصل د ترلاسه کولو لپاره د ملچ کوم مناسبه ډول ښودل شوي نه دي، نو د دې څېړنې په پایله کې به وموندل شي چې کوم ډول عضوي یا غیر عضوي ملچ د کچالو په وده او حاصل باندې ښې اغیزې کړې دي ترڅو د ملچ مناسب ډول کروندګرو ته وړاندیز شي. د دې علمي څېړنې په پایله کې به پوه شو چې د ملچ د شپږو کارول شویو ډولونو (کنټرول، دغنمو بوس، حیوانې سره ، د ارې بور، سپین او خړ رنګه پلاستیکونه) څخه کوم یو ترېټمنټ ښه پایله ورکوي.

### د څېړنې موندنې

د میدان وردګ ولایت تراقلیمي شرایطو لاندې د کچالو په وده او حاصل باندې دعضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې تر عنوان لاندې د څېړنې پایلې په دې برخه کې د معلوماتي جدولونو او شکلونو له لارې بیان شوي دي.

### د کچالو په وده او حاصل باندې دعضوي او غیرعضوي ملچونو اغیزې

### د نبات لوړوالی (سانتي متر)، په نبات کې د ښاخونو شمېر او په نبات کې د پاڼو شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې

د نبات لوړوالی (سانتي متر)، په نبات کې د ښاخونو شمېر او په نبات کې د پاڼو شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو د بېلابېلو اندازو لخوا اغیزمن شوي دي، په ۱.جدول کې شتون لري. پایلې ښیې چې ټول ملچونه د نبات د لوړوالي، په نبات کې د ښاخونو شمېر او په نبات کې پاڼو شمېر په پام کې نیولو سره د پام وړ اغیزه کړې ده.

د غیر عضوي ملچ په پام کې نیولو سره د نبات اعظمي لوړوالی(۴۲،۰۸۳۳) سانتي متره په ($T_6$) خړ(خاکستري) پلاستیکي ملچ کې ترلاسه شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره تر ټولو اعظمي (۳۸،۸۶۶) سانتي متره لوړوالی په ($T_۳$) د حیواني سرې ملچ کې ترلاسه

شوی دی. د پام وړ ټيټ (۳۰,۹۱٦) سانتي متره د نبات لوړوالی په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غيري عضوي ملچ څخه ثبت شوي دي.

د نبات د ښاخونو شمېر په اړه پايلې ښيې چې ټول ملچونه د نبات د ښاخونو په شمېر په پام کې نيولو سره د پام وړ اغيزه لري. د نبات د ښاخونو اعظمي شمېر (۱۰,۰٦۷) دانې په ($T_6$) په خړ(خاکستري) پلاستيکي ملچ کې ترلاسه شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره تر ټولو اعظمي (۸,۰۰) دانې د ښاخونو شمېر په ($T_3$) د حيواني سرې ملچ کې ترلاسه شوی دی. د پام وړ ټيټ (۵,۲۳۳) دانې د نبات د ښاخونو شمېر په کنټرول (T1) پرته له عضوي او غيري عضوي ملچ څخه ثبت شوي.

د نبات د پاڼو شمېر په اړه له موندنو څخه څرګنديږي چې ټول ملچونه د نبات د پاڼو شمېر په پام کې نيولو سره د پام وړ اغيزه لري. د نبات د پاڼو تر ټولو زيات شمېر (۱۴۲,۰٦۳) دانې په ($T_6$) په خړ(خاکستري) پلاستيکي ملچ کې ترلاسه شوي دي. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره تر ټولو اعظمي (۱۱۵,۷۷۳) دانې د پاڼو شمېر په ($T_۳$) د حيواني سرې ملچ کې ترلاسه شوي دي. د پام وړ ټيټ (۸۲,۳۷۳) دانې د نبات د پاڼو شمېر په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غيري عضوي ملچ څخه ثبت شوي.

| تريټمنټونه | د بوټي لوړوالی (سانتي متر) | د نبات د ښاخونو شمېر | د نبات د پاڼو شمېر |
|---|---|---|---|
| | اوسطونه | | |
| T1 (control) | ۳۰,۹۱٦c | ۵,۲۳۳d | ۸۲,۳۷۳c |
| T2 (Wheat straw) | ۳۵,٦۳۳b | ۷,۶۰۰c | ۱۱۱,۸۶۳b |
| T3 (FYM) | ۳۸,۸٦٦ab | ۸,۰۰۰bc | ۱۱۵,۷۷۳b |
| T4 (Saw Dust) | ۳۵,۸۷۰b | ۶,۷۶۷cd | ۸۳,۶۶۰c |
| T5 (Transparent PM) | ۴۱,۱۹۳۳a | ۹.۴۴۷ab | ۱۳۷,۸۸۳a |
| T6 (Grey PM) | ۴۲,۰۸۳۳a | ۱۰.۰۶۷a | ۱۴۲,۰۶۳a |
| C.V.(%) | ۴,۸٦ | ۱۰.۹۸ | ۷,۴۲ |
| LSD (0.05) | ۳,۳۰ | ۱,۵۶ | ۱۵,۱۴۹ |

۱.جدول: د کچالو په لوړوالي، د ښاخونو شمېر او په نبات کې د پاڼو په شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې

**د نبات د پاڼې په سطحه (سانتي متر مربع) او په نبات کې د تیوبرونو شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې**

د نبات د پاڼې په سطحه (سانتي متر مربع) او په نبات کې د تیوبرونو شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې ۲. جدول کې ښودل شوې دي. پایلې ښیي چې ټول ملچونه د نبات د پاڼې په سطحه (سانتي متر مربع) او په نبات کې د تیوبرونو په شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې په پام کې نیولو سره د پام وړ اغیزه نلري.

د نبات د پاڼو اعظمي سطحه (۷۸,۴۰) سانتي متره مربع په ($T_6$) په خړ (خاکستري) پلاستیکي ملچ کې ترلاسه شوې ده. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره تر ټولو اعظمي (۷۹,۴۰) سانتي متره مربع د پاڼو سطحه په ($T_۳$) د حیواني سرې ملچ کې ترلاسه شوې ده. د پام وړ ټیټ (۵۷,۵۵) سانتي متره مربع د نبات د پاڼو سطحه په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غیر عضوي ملچ څخه ترلاسه شوې ده.

په نبات کې د تیوبرونو شمېر پایلې ښیي چې د نبات اعظمي د تیوبرونو شمېر (۷,۷۴) دانې په ($T_5$) په روښانه پلاستیکې ملچ کې ترلاسه شوي دي. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره د نبات تر ټولو اعظمي د تیوبرونو شمېر (۶,۴۴) دانې په ($T_٤$) د ارې بور ملچ کې ترلاسه شوي دي. د پام وړ ټیټ (۵,۰۵) دانې د نبات د تیوبرونو شمېر په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غیر عضوي ملچ څخه ترلاسه شوي دي.

۲.جدول: د نبات د پاڼې په سطحه (سانتي متر مربع) او په نبات کې د تیوبرونو شمېر باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې

| ترېتمنټونه | د پاڼو سطحه (سانتي متر مربع) | په نبات کې د تیوبرونو شمېر |
|---|---|---|
| | اوسطونه | |
| T1 (control) | ۵۷,۵۵ | ۵,۰۵ |
| T2 (Wheat straw) | ۷۱,۴۰ | ۶,۳۸ |
| T3 (FYM) | ۷۹,۴۰ | ۶,۲۲ |
| T4 (Saw Dust) | ۶۸,۲۵ | ۶,۴۴ |
| T5 (Transparent PM) | ۷۲,۱۸ | ۷,۷۴ |
| T6 (Grey PM) | ۷۸,۴۰ | ۷,۳۴ |
| C.V.(%) | ۱۲,۴۵ | ۱۶,۲۴ |
| LSD (0.05) | NS | NS |

**په نبات کې د کچالو حاصل (کیلوګرام)، په پلاټ کې د کچالو حاصل (کیلو ګرام) او په هکتار کې د کچالو حاصل (ټن) باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې**

په نبات کې د کچالو حاصل په اړه معلومات لکه څنګه چې عضوي او غیرعضوي ملچونو لخوا اغیزمن شوي دي په ۳. جدول کې ښودل شوي دي. پایلې ښیې چې ټول ملچونه په نبات کې د کچالو حاصل اړوند پارامترونو په پام کې نیولو سره د پام وړ اغیزه لري.

په نبات کې د کچالو تر ټولو زیات حاصل (۰,۵۳۱) کیلوګرام په ($T_5$) په روښانه پلاستیکي ملچ کې ترلاسه شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره په نبات کې تر ټولو زیات د کچالو حاصل (۰,۴۶۲) کیلوګرام په ($T_۳$) د حیواني سرې ملچ کې ترلاسه شوی دی. د پام وړ ټیټ (۰,۲۲۱) کیلوګرام په نبات کې د کچالو حاصل په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غیر عضوي ملچ څخه ترلاسه شوی دی.

په پلاټ کې د کچالو حاصل په اړه پایلې ښیې چې ټول ملچونه په پلاټ کې د کچالو حاصل په پام کې نیولو سره د پام وړ اغیزه لري. په پلاټ کې د کچالو تر ټولو زیات حاصل (۱۹,۰۸۲) کیلوګرام په ($T_5$) په روښانه پلاستیکي ملچ کې ترلاسه شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو

په پام کې نيولو سره په پلاټ کې تر ټولو زيات د کچالو حاصل (١٦،٥٦٢) کيلوګرام په ($T_۳$) د حيواني سرې ملچ کې ترلاسه شوی دی. د پام وړ ټيټ (٧،٩١٠) کيلوګرام په پلاټ کې د کچالو حاصل په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غير عضوي ملچ څخه ترلاسه شوی دی.

په هکتار کې د کچالو حاصل په اړه پايلې ښيي چې په هکتار کې د کچالو تر ټولو زيات حاصل (٣٩،٧٥) ټنه په ($T_5$) په روښانه پلاستيکي ملچ کې ترلاسه شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره په هکتار کې تر ټولو زيات د کچالو حاصل (٣۴،٥٠) ټنه په ($T_۳$) د حيواني سرې ملچ کې ترلاسه شوی دی. د پام وړ ټيټ (١٦،٥٠) ټنه په هکتار کې د کچالو حاصل په کنټرول ($T_1$) پرته له عضوي او غيرعضوي ملچ څخه ترلاسه شوی دی.

۳.جدول: په نبات کې د کچالو حاصل (کيلوګرام)، په پلاټ کې د کچالو حاصل (کيلو ګرام) او په هکتار کې د کچالو حاصل (ټن) باندې د عضوي او غير عضوي ملچونو اغيزې

| په هکتار کې حاصل (ټن) | په پلاټ کې حاصل (کيلوګرام) | په نبات کې حاصل (کيلوګرام) | ترېتمنتونه |
|---|---|---|---|
| اوسط Mean | | | |
| ۱۶,۵۰d | ۷,۹۱۰d | ۰,۲۲۱d | T1 (control) |
| ۳۳,۰۱c | ۱۵,۸۴۱c | ۰,۴۴۱c | T2 (Wheat straw) |
| ۳۴,۵۰b | ۱۶,۵۶۲b | ۰,۴۶۲b | T3 (FYM) |
| ۳۰,۰۱c | ۱۴,۴۰۱c | ۰,۴۰۱c | T4 (Saw Dust) |
| ۳۹,۷۵a | ۱۹,۰۸۲a | ۰,۵۳۱a | T5 (Transparent PM) |
| ۳۸,۲۵a | ۱۸,۳۸۲a | ۰,۵۱۱a | T6 (Grey PM) |
| ۵,۴۵ | ۵,۴۵ | ۵,۴۵ | C.V.(%) |
| ۴,۲۱۳ | ۲,۰۵۶ | ۰,۰۵۷ | LSD (0.05) |

**مناقشه او پايله**

### د کچالو په وده او حاصل باندې د عضوي او غيرعضوي ملچ اغيزې

د احصايوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې دعضوي او غير عضوي ملچونو استعمال د کچالو په لوړوالي باندې د کتنې وړ اغيزه کړې ده او تر ټولو اعظمي لوړوالی په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې خاکستري ملچ پکې کارول شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره د نبات تر ټولو اعظمي لوړوالی په هغه پلاټ کې ترلاسه شوی دی چې د حيواني سرې ملچ پکې کارول شوی دی. په داسې حال کې چې تر ټولو کم د بوټي لوړوالی په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلی چې علت يې کيدای شې د خاورې لندبل او دخاورې مطلوب تودوخې د ښه شتون له امله وي چې د پلاستيکي ملچونو له خوا چمتو شوي دي دا پايله د فاراګ او ملګرو (Farrag *et al.,* 2016) د څېړنو له پايلو سره مطابقت لري او داسې راپورونه يې ورکړي دې چې پلاستيکې ملچ او همدارنګه واښو کارول د نبات په لوړوالي کې د پام وړ اغيزې کړې دي. په ورته ډول حسين او راشد ( Hussain and Rashid. ١٩٧٤). راپور ورکړ چې د کچالو د بوټود لوړوالي ارزښتونه د کنټرول څخه غوره دي. همدارنګه احمد او ملګرو (Ahmed *et al.,*2017) هم د سپين پلاستيکي ملچ په پرتله په تور پوليتين ملچ کې د کچالو د نبات د لوړوالي راپور ورکړی.

### د کچالو د ښاخونو په شمېر باندې د عضوي او غيري عضوي ملچونو اغيزې

د ترلاسه شوو معلوماتو څخه څرګند شو چې تر ټولو اعظمي د ښاخونوشمېر په هغه پلاټ کې ثبت شوی دی چې خاکستري پلاستيکي ملچ کارول شوی همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره د نبات تر ټولو اعظمي د ښاخونو شمېر په هغه پلاټ کې ثبت شوي دي چې د حيواني سرې ملچ پکې استعمال شوی دی په داسې حال کې چې تر ټولو کم د شاخونو شمېر په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلی چې علت يې کيدای شي د خاورې لند بل له امله وي دا پايله د لاردوراج او ملګرو ((Lourduraj *et al.,* 1996) د څېړنو له پايلو سره مطابقت لري او داسې راپورونه يې ورکړي دي چې عضوي او غير عضوي ملچ

دنبات لوړوالی او دڅانګو شمېر ډیروي په ورته ډول کمار او ناګچان (Kumar and Ngachan. 2001) ولیدل چې په هر نبات کې د څانګو شمېر او د وچو موادو راټولول د پلاستیکي ملچ لاندې د پام وړ لوړ وو، همدارنګه آواډان او ملګرو ( Awodoyin *et al.,* 2007) یې همدا راپور ورکړی چې د رومیانو ملچ شوي بوټي د غیر ملچ شوي بوټو په پرتله ډیرې څانګې لري ، کوم چې د اوسني پایلو ملاتړ کوي.

**د کچالو د پاڼو په شمېر باندې د عضوي اوغیر عضوي ملچونو اغیزې**

همدارنګه تر ټولو زیاتي د پاڼو شمېر په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې خاکسترې پلاستیکي ملچ کارول شوی همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره د نبات ترټولو اعظمي د پاڼو شمېر په هغه پلاټ کې ترلاسه شوی دی چې د حیواني سرې ملچ پکې کارول شوی دی په داسې حال کې چې تر ټولو کم د پاڼو شمېر په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلی چې علت یې کیدای شي د خاورې لند بل او مطلوبې تودوخې د ساتلو له امله وي دا پایله د چکروبورتي او ملګرو (Reddy *et al.,* 2018) څېړنو له پایلو سره مطابقت لري او داسې راپورونه یې ورکړي دي چې د کچالو په نبات کې د پاڼو ډیر شمېر د ملچ کولو په ترېتمنتونو کې موندل شوي څکه چې د ملچ د نشتون په پرتله د پاڼو ډیر شمېر ممکن د تیوبر حاصلاتو د زیاتوالي لپاره مرسته وکړي په ورته ډول د پاڼو په شمېر سینګ او زاکوان Singh and Zakwan. 2008) راپور ورکړی چې د ملچ کولو سره د پاڼو شمېر ښه شوی دی. په ورته ډول په هر نبات کې د پاڼو د شمېر په اړه ورته مشاهدې هم په رومیانو کې د سنګ او ملګرو ( Singh *et al.,*2005) لخوا راپور شوي او داسې یې ویلي دي چې په ملچ کولو کې ډیرې پاڼې نسبت غیر ملچ شوي پلاټ ته لیدل شوې دي.

## د کچالو د پاڼي په سطحه باندې د عضوي او غير عضوي ملچونو اغيزې

د احصايوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې د عضوي او غير عضوي ملچونو استعمال د کچالو د پاڼو په سطحه باندې د کتنې وړ اغيزه کړې ده او تر ټولو اعظمي د پاڼې سطحه په هغه پلاټ کې ثبت شوې چې د حيواني سرې ملچ کارول شوی همدارنګه د غير عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره د نبات تر ټولو اعظمي د پاڼي سطحه په هغه پلاټ کې ترلاسه شوې ده چې خړ خاکستري پلاستيکي ملچ پکې کارول شوی دی په داسې حال کې چې تر ټولو کم د پاڼې سطحه په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلي چې علت يې کيدای شي په خاوره کې د زيات نايتروجن د نصب له امله وي په دې توګه هغه نبات چې د عضوي ملچ کولو لاندې کرل کېږي صحي او قوي پاڼې توليدوي چې د حيواني سرې ملچ له خوا چمتو شوي دا پايله د کوماري او لامونت او ملګرو ( Kumari and Lamont *et al.,* ۲۰۰۰) د څېړنو له پايلو سره مطابقت لري او داسې راپورونه يې ورکړي دي چې تور پلاستيکي ملچ د پراخو او قوي پاڼو توليد هڅوي په ورته ډول فاراګ او ملګرو (Farrag *et al.,* 2016) راپور ورکړ چې پلاستيکي فلم ملچ د کچالو د بوټو د پاڼو ساحه زياته کړې ده، همدارنګه د حامد او ملګرو (Hamid *et al.,*۲۰۱۱) لخوا راپور ورکړل شوی چې هغه نباتات چې په پلاستيکي ملچونو کې کرل شوي د کنټرول د ټريټمنټ په پرتله خورا زيات د پاڼو سطحه توليدوي.

## د کچالو د تيوبرونو په شمېر باندې د عضوي او غير عضوي ملچونو اغيزې

د کچالو د تيوبرپه شمېر باندې چې کومې مونډنې ترلاسه شوې دي، تر ټولو اعظمي د تيوبر شمېر په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې سپين شفاف ملچ پکې کارول شوی دی. همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نيولو سره د نبات تر ټولو اعظمي د تيوبرونو شمېر په هغه پلاټ کې ترلاسه شوی دی چې د اربې بور ملچ پکې کارول شوی دی، په داسې حال کې چې تر ټولو کم د تيوبرونو شمېر په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلي چې علت يې کيدای شي په خاوره کې د مناسبې تودوخې او غوره رطوبت رژيمونو له امله د فزيو-

کیمیاوي او بیولوژیکي پرمختګ له امله وي. د مغذي موادو شتون او میکروبې فعالیت د ملچ په شرایطو کې په ځانګړي توګه د ودې په لومړیو مرحلو کې د سټولون د ډېر شمېر په رامنځته کولو کې مرسته کوي او د غذایي موادو جذب د ښه پرمختګ لامل کېږي چې د تیوبرونو اندازې او وزن ته وده ورکوي. دا پایله د وانګ اوملګرو (Wang *et al.*, 2010) د څېړنوله پایلو سره مطابقت لري.

## په نبات کې د کچالو په حاصل باندې د عضوي او غیرعضوي ملچونو اغیزې

د احصایوي تحلیل او تجزیې څخه څرګنده شوه چې د عضوي او غیر عضوي ملچونو استعمال د کچالو د میوې حاصل في نبات باندې د کتنې وړ اغیزه کړې ده او تر ټولو اعظمي د میوې حاصل په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې سپین شفاف ملچ کارول شوی همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره د نبات تر ټولو اعظمي د میوې حاصل په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې د حیواني سرې ملچ پکې استعمال شوی په داسې حال کې چې تر ټولو کم د میوې حاصل په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلي دي. دا پایله د لای کیانګ او ملګرو (Li Qiang *et al.*, 2018) د څېړنو له پایلو سره مطابقت لري او داسې راپوروونه یې ورکړي دي چې د پلاستیکي ملچ او بوس ملچ په اوسط ډول د کچالو حاصل په ترتیب سره ۲۴.۳ او ۱۶.۰ سلنه ډېروي. په ورته ډول ژاو (Zhao. 2012) دا څرګنده کړه چې د ملچ موادو په کارولو سره د لویو تیوبرونو لوړ حاصل ممکن د انفرادي تیوبر د ښه پرمختګ او ودې لامل شي او له همدې امله لوی کچالو او لوړ حاصل ترلاسه کړي.

## په پلاټ کې د کچالو په حاصل باندې د عضوي او غیر عضوي ملچونو اغیزې

همدارنګه د کچالو د تیوبر حاصل په في پلاټ اړوند تر ټولو اعظمي حاصل في پلاټ په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې سپین پلاستیکي ملچ کارول شوی همدارنګه د عضوي ملچونو په پام کې نیولو سره د نبات تر ټولو اعظمي حاصل في پلاټ په هغه پلاټ کې ترلاسه شوی دی چې د حیواني سرې ملچ پکې استعمال شوی دی په داسې حال کې چې تر ټولو کم د میوې حاصل في پلاټ په کنترول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلی چې

علت يې دا کيدای شي چي پلاټونه شايد د لنده بل ساتلو او د خاورې د سطحې د لاندې او پورته دوارو مايکروکلايميت ښه کولو سره تړاو ولري دا پايله د الجبوري (Al-Jubouri. 2011) (Al-Jabouri. 2013) د څېړنو له پايلو سره مطابقت لري. په ورته ډول وانګ او ملګرو Wang (*et a*l., 2008) راپور ورکړی چې په هر پلاټ کې د لويو تيوبرونو شمېر د کنټرول شوي حالت په پرتله په ملچ شوي تريتمنت کې د پام وړ لوړ موندل شوی دی. په ورته ډول کپور Kapoor) (۲۰۱۲ راپور ورکړ چې سپين پلاستيکي ملچ د تور رنګه پلاستيکي ملچ په پرتله د کچالو د تيوبر حاصلاتو کې غوره ثابت شوي دي.

## په هکتار کې د کچالو حاصل(ټن) باندې د عضوي د عضوي او غير عضوي ملچونو اغيزې

د احصايوي تحليل او تجزيې څخه څرګنده شوه چې د عضوي او غير عضوي ملچونو استعمال د کچالو د تيوبرحاصل په يوه هکټار کې د کتنې وړ اغيزه کړې ده او تر ټولو اعظمي حاصل في هکټار په هغه پلاټ کې ثبت شوی چې شفاف روڼ ملچ کارول شوی دی همدارنګه د عضوی ملچونو په پام کې نيولو سره تر ټولو اعظمي حاصل في هکتارپه هغه پلاټ کې ترلاسه شوی دی چې د حيواني سرې ملچ پکې کارول شوی دی په داسې حال کې چې تر ټولو کم حاصل په هکټار کې په کنټرول پټي کې چې ملچ نه دی پکې استعمال شوی لاسته راغلی چي علت يي کيداي شې چې پوليتين ملچ دهرزه بوټو مخنيوی کړی وي، او غذايي مواد يې له ضايع کيدو څخه ژغورلي وي او رطوبت يې ساتلی وي. دا پايله د خالک او کومرسواني (۱۹۹۳ (Khalak and Kumaraswany د څېړنو له پايلو سره مطابقت لري او داسې راپورونه يې ورکړي دي چې د تيوبر حاصل په في هکټار ځمکه کې له ۱۴.۳ ټنوڅخه پرته له ملچ څخه په پټي کې، ۱۶.۷ ټنه د بوس کارول شوي پټي او ۱۸.۲ ټنه د سره پلاستيکي ملچ کارولو څخه لاسته راغلي دي. دوی دا هم په ګوته کړه چې د ملچ په کارولو کې د تيوبرونو شمېر او وزن د ملچ پرتله د پلاټونو په پرتله خورا ډير وو.

**پایله**

په دې څېړکې کې د عضوي او غیر عضوي ملچونو بېلابېلو اندازو $T_1$ د عضوي او غیرعضوي ملچ څخه پرته (کنترول)، $T_2$ د غنمو بوس ملچ، $T_3$ د ارې بور ملچ، $T_4$ د حیواني سرې ملچ، $T_5$ روڼ یا شفاف پلاستیکي ملچ او $T_6$ خړ یا خاکستري پلاستیکي ملچ په کار اچول شوی دی. د غیر عضوي یا پلاستیکي ملچونو په پام کې نیولو سره $T_5$ روښانه پلاستیکي ملچ او همدارنګه د عضوي ملچونو په منځ کې $T_4$ د حیواني سرې ملچ په بېلابېلو پارامترونو باندې لکه د نبات لوړوالی، په نبات کې د پاڼو شمېر، د نبات د ښاخونو شمېر، د پاڼو سطحه، د تیوبرونوشمېر، په نبات کې حاصل، په پلاټ کې حاصل او په هکتار کې حاصل باندې د کتنې وړ اغیزې درلودې. همدارنګه تر ټولو ټیټ د نبات لوړوالی، په نبات کې د پاڼو شمېر، د نبات د ښاخونو شمېر، د پاڼو سطحه، د تیوبرونو شمېر، په نبات کې حاصل، په پلاټ کې حاصل او په هکتار کې حاصل باندې $T_1$ تریټمنت چې هیڅ ډول ملچ هم پکې استعمال شوی نه دی لاسته راغلي دي. د دې څېړنې له پایلې څخه څرګنده شوه چې د غیر عضوي ملچونو په منځ کې $T_5$ (روښانه پلاستیکي ملچ) د پام وړ اغیزې کړې دي. له بلې خوا $T_1$ (د عضوي او غیرعضوي ملچ څخه پرته) تریټمنت کې د نورو تریټمنټونو په پرتله د پام وړ اغیزه نه ده کړې.

**وړاندیزونه**

د بحث په پای کې چې د میدان وردګ ولایت تراقلیمي شرایطو لاندې د کچالو په وده او حاصل باندې دعضوي او غیرعضوي ملچونو اغیزې له بل هر وخت څخه زیاته اړتیا لیدل کېږي او په دې هکله باید لاندې ګامونه پورته شي:

- د بزګرانو لخوا باید د ترکیبي ډول ملچ وکارول شي څکه د دوه ډوله ملچونو کارول کولی شي په خاوره کې توازن رامنځته کړي لکه، د هرزه بوټو د مخنیوي لپاره غیر عضوي ملچ او د غذایي موادو اضافه کولو لپاره عضوي ملچ کارول.
- بزګران دې د ځایي شرایطو لکه اقلیم، د خاورې ډول او د فصل اړتیاوو په اساس د ملچ ډولونه انتخاب کړي.

- د پايښت لرونکي يا دوامدارې کرنې درلودلو په موخه داسې وړانديز کېږي چې په کچالو کې د غذايي موادو توازن، د تودوخې او لندبل شتون ډېر مهم دي که چېرې د عضوي او غير عضوي ملچونو څخه کار واخيستل شي، په خاوره کې به د تودوخې او لنده بل شتون حتمي وي او د دې ترڅنګه د غذايي موادو د توازن په پايله کې به د حاصل کچه لوړه شي.

## مأخذونه


Agrawal N, PanigrahiHK, SharmaD, AgrawalR (2010) Effect of different colour mulches on t he growth and yield of tomato under Chhattisgarh region. IndianJHortic67:295–300

Ahmed, N. U., Mahmud, N. U., Hossain, A., Zaman, A. U., & Halder, S. C. (2017). Performance of mulching on the yield and quality of potato. International Journal of Natural and Social Sciences, 4(2), 07-13.

Al-juboori, A. H. (2013). Effect of planting dates on the yieldand quality of garlic by application plastic mulch. Mesopotamia J. of Agric.,41(1):81-۹۰

Al-juboori. A.H. (2011). The response of two cultivars ofpotatoes to soil mulching with different type of polyethylene under conditions of Mosul Region.J. ofKirkuk Univ.for Agric. Sci.,2(2):9-18

Awodoyin, R. O., Ogbeide, F. I. and Oluwole, O. (2007). Effects of Three Mulch Types on Tomatoes Growth and Yield of Tomato (Lycopersicon esculentum Mill.) and Weed Suppression in Ibadan, Rainforest-savanna Transi-tion Zone of Nigeria, Tropical Agricultural Research & Extension, ۱۰, ۵۳-۶۰

CampigliaE, RadicettiE, BrunettiP, MancinelliR (2014) Docover crop species and residue management play a leading role in pepperproductivity. SciHortic166:97–104.https://doi.org/10.1016/ j. scienta.2013.12.018

Dilipkumar, G., Sachin, S. S., & Rajesh, K. (1990). Importance of mulch in crop production. Indian Journal of Soil Conservation, 18, 20-26

FAOSTAT (FAO, Statistics Division). (2015). Statistical Database. Food and Agricultural Organization of the United Nations, Rome, Italy

Farjana, S., Islam, M. A. andHaque, T. (2019). Effects of organic and inorganic fertilizers andmulching on growth and yield of cabbage (Brassica oleracea var. capitata L.). Journal of Horticulture and Postharvest Research,2(2), 95-١٠٤

Farrag, K., Abdrabbo, A.A.M. and Hegab, A.M.S, (2016).Growth and Productivity of Potato under DifferentIrrigation Levels and Mulch Types in the North Westof the Nile Delta, Egypt.Middle East J. Appl. Sci.,6(4): 774-786

Hossen, M. S., Shaikh, M. M. andAli, M. A. (2017). Effect of different organic and inorganic mulches on soil properties and performance of Brinjal (Solanum melongena L.). Asian Journal ofAdvances in Agricultural Research, 1-7

Hussain, H. A. and M. M. Rashid. 1974. Effect of method of culture and depth of planting of seed on the yield of potato. Bangladesh Hort., 2(1):29 -33.

Kader, M. A., Senge, M., Majid, M. A. andIto, K. (2017). Recent advances in mulching materials and methods for modifying soil environment. Soil and Tillage Research,168, 155-166

Khalak, A. and Kumaraswany, A. S. 1993. Weed biomass in relation to irrigation and mulching and economics of mulching potato crop under conditions of acute water scarcity. J. Indian Potato Assoc. 20: 185-189.

Kumar, S. and Ngachan, S. V. (2001). Performance of winter groundnut (Arachis hypogaea) with polythene mulch under rainfed condition of Manipur valley. Indian Journal of Agronomy, 46(1), 151-155

Li, Qiang., Li, H., Zhang, L., Zhang, S.,&Chen, Y. (2018).Mulching improves yield and water-use efficiency ofpotato cropping in China: A meta-analysis.Fieldcrops Research,221: 50-60.

Moreno, M.M., &Moreno, A. (2008). Effect of differentbiodegradable and polyethylene mulches on soilpropertiesandproductioninatomato crop. ScientiaHorticulturae,116(3): 256-263

Norman, J.C., Opata, J. and Ofori, E. (2011). Growth and yield of okra and hot pepper as affected by mulching. Ghana Journal of Horticulture, 9: 35-42

Reddy BJ, Mandal R, Chakroborty M, Hijam L, Dutta P (2018) A review on potato (Solanum tuberosum L.) and its genetic diversity. Int J Genet 10(2):360. https://doi.org/10.9735/0975-2862.10. 2.360-364

Singh B., Kumar, M. and Singh, G. C. (2005) Effect of different plastic mulches on growth and yield of winter tomato. Indian J. of Hort. 62(2): 200-202 No.49

Singh N and Zakwan, A (2008) Effect of mulching on potato production in low altitude cold rigid zone of Kasmir. Potato J37(6-7): 56-6

Thamburaj, S. and N. Singh 2013. Vegetables, Tuber Crops and Spices. ICAR, New Delhi.

Wang, Q., Klassen, W., Evans, E., Li, Y. and Codallo, M. (2010). Combination of Organic and Plastic Mulches to Improve the Yield and Quality of Winter Fresh Market Bell Peppers (Capsicum annuum L.). J. Hortic.

Wang, Q., Zhang, E.H., LI, F.M., & Li, F.R. (2008). Runoff efficiency and the technique of micro water harvesting with ridges and furrows, for potato production in semiarid areas. Water Resources Management, 22, 1431–1443.

Zhao, H., Xiong, Y.C., Li, F.M., Wang, R.Y. and Qiang, S.C. 2012. Plastic Film Mulch for Half Growing-season Maximized WUE and Yield of Potato Via Moisture-temperatureImprovement in a Semi-arid Agroecosystem. Agricultural Water Management 104: 68-78.

# ترکیبات فعال حیاتی و پوتانشیل درمانی (Zingiber Officinale)

۱ـ پوهنیار سیدعبدالله حسینی*[۱]، ۲- پوهنیار سید مسعود هاشمی[۲]، ۳- نامزد پوهنیار جمعه گل مهرزاد[۱]
۱- دیپارتمنت بیولوژی، پوهنحی تعلیم و تربیه، مؤسسه تحصلات عالی نیمروز، نیمروز، افغانستان
۲- دیپارتمنت بیولوژی، پوهنحی ساینس، پوهنتون هرات، هرات، افغانستان

## چکیده

رایزوم (Zingiber officinale Roscoe) که به طور گسترده به عنوان زنجبیل شناخته می‌شود، هم به عنوان ادویه آشــپزی و هم به عنوان یک عامل دارویی عمل می‌کند و به دلیل ترکیبات فیتوکیمائی متنوع و کاربردهای درمانی و سیع م شهور ا ست. این مقاله مروری به برر سی مواد اولیه فعال حیاتی در زنجبیل، از جمله جینجرول، شــاگول و زینگرون می پردازد که به خواص آنتی اکسیدانی، ضد التهابی، ضد سرطان و ضد میکروبی آن کمک می کند. اثرات دارویی زنجبیل به طور وســیع مورد مطالعه قرار گرفته اســت، که نشــان دهنده پتانســیل آن در کاهش اختلالات سیستم ها ضمه، کاهش تهوع و مدیریت درد ا ست. علاوه بر این، تحقیقات اخیر نقش زنجبیل را در ســلامت متابولیک، از جمله اثرات آن بر تنظیم قند خون و پروفایل های چربی نشان می دهد. این تحقیق با استفاده از یک روش مروری انجام شد. این مرور جامع با هدف افزایش درک ترکیبات فعال حیاتی در زنجبیل، فوا ید صــحی چند وجهی آن و کاربردهای بالقوه آن در طبابت مدرن، تشویق تحقیقات بیشتر برای روشن شدن کامل خواص درمانی و مکانیسم های عمل است.

**واژه های کلیدی**: زنجبیل، ترکیبات فعال حیاتی، آنتی اکسیدان، جینجرول، شاگول

*Email: abdullahhossini8@gmail.com

# Bioactive Constituents and Therapeutic Potential of (Zingiber officinale)

١-Hossaini Said Abdullah [1*], Hashimi Said Masoud[2], and Mehrzad Jomagul
١- Department of Biology, Faculty of Education, Nimruz Higher Education Institute, Zaranj -Afghanistan
٢ Department of Biology, Faculty of Science, Herat University, Herat Afghanistan-

## Abstract

The rhizome Zingiber officinale Roscoe, widely recognized as ginger, functions as both a culinary seasoning and medicinal agent, renowned for its varied phytochemical constituents and extensive therapeutic applications. This review article explores the primary bioactive substances in ginger, including gingerol, shogaol and zingerone, which contribute to its antioxidant, anti-inflammatory, anticancer and antimicrobial properties. The pharmacological effects of ginger have been extensively studied, demonstrating its potential in alleviating gastrointestinal disorders, reducing nausea, and managing pain. Additionally, recent research highlights ginger's role in metabolic health, including its effects on blood sugar regulation and lipid profiles. This research was carried out employing a review methodology. This comprehensive overview aims to enhance understanding of the active compounds in ginger, its multifaceted health benefits, and its potential applications in modern medicine, encouraging further research to fully elucidate its therapeutic properties and mechanisms of action.

**Key words:** Ginger, Bioactive compounds, antioxidant, Gingerol, shogaol.

*Email: abdullahhossini8@gmail.com

## Introduction

A well-known member of the Zingiberaceae family, Zingiber officinale Roscoe (ginger) is a flowering plant prized for both its culinary applications and its wide-ranging medicinal benefits.(Kumari et al., 2020). It has been used for thousands of years in traditional medicine, particularly in Asian and African cultures, where it is valued for its ability to promote health and treat various ailments(Sharifi-Rad et al., 2017). The rhizome of ginger is the part most commonly utilized, containing a rich array of bioactive substances that contribute to its therapeutic effects (Alolga *et al.*, ۲۰۲۲). The primary bioactive compounds found in ginger include gingerol, shogaol, zingerone, and various essential oils(Zhang *et al.*, ۲۰۲۱). This research has increasingly focused on the active compounds and health benefits of Ginger. Studies have shown that ginger possesses a multitude of biological activities, ranging from anti-inflammatory and antioxidant effects to antimicrobial and neuroprotective properties(Ma *et al.*, 2021). These diverse actions have attracted attention from researchers, healthcare professionals, and consumers, leading to a growing body of scientific evidence supporting the potential health benefits of ginger (Kiyama, 2020).

By gaining a deeper understanding of the bioactive substances and biological effects of ginger, we can appreciate its potential therapeutic applications and explore its role in promoting overall wellness.

## Research Methods

For this review, an extensive literature search was performed across multiple databases, including PubMed, Google Scholar, Science Hub, Science Direct, Scopus, and Web of Science. Relevant studies were identified using search terms such as ginger, Zingiber officinale, bioactive constituents, therapeutic properties, and pharmacological activities.

## Chemical Composition of Ginger

Ginger (Zingiber officinale Roscoe) is a plant that contains a complex and diverse chemical composition(Kubra & Rao, 2012). The chemical constituents found in ginger contribute to its unique taste, aroma, and biological effects (Kiyama, 2020). Here are some key components of ginger's chemical composition:

### Gingerol

Gingerol is one of the most significant bioactive compounds found in fresh ginger, which is well-known for its culinary and medicinal properties(Shanmugam *et al*., 2022). It is known as phenolic compounds(Kumar, 2015). The compound has a distinctive structure characterized by a phenolic moiety connected to an aliphatic chain, with 6-gingerol being the most prevalent form in fresh ginger. (Ahmed, 2024). The health benefits attributed to gingerol are extensive. It is renowned for its anti-inflammatory properties, which may aid in reducing inflammation associated with conditions such as arthritis(Mohd Yusof, 2016). Additionally, gingerol exhibits significant antioxidant activity, helping to neutralize oxidative stress in the body.

## Shogaols

Shogaols are bioactive compounds predominantly found in dried ginger and are known for their pungent flavor as well as their potential health benefits(Dalsasso *et al.*, 2022). The most studied form is 6-shogaol, which is structurally distinct from 6-gingerol. Shogaols are formed through the dehydration of gingerols when ginger is dried or heated, resulting in a compound that is not only spicier but may also exhibit different bioactive properties

(Kou et al., 2018).

The chemical structure of shogaols classifies them as vanilloids, characterized by a phenolic component and an aliphatic side chain(Kou *et al.*, 2018). The conversion of gingerols to shogaols enhances their pungency and significantly alters their biological activity, making them an important focus of study in both nutrition and pharmacology(Kou *et al.*, 2018). Shogaols are associated with various health benefits, contributing to their popularity in both traditional and modern medicinal practices

(Shahrajabian *et al.*, 2019).

They possess notable pain-relieving effects comparable to certain nonsteroidal anti-inflammatory drugs(Dugasani *et al.*, 2010). Furthermore, shogaols demonstrate antimicrobial properties, aiding in the fight against bacterial and fungal infections (Koshak *et al.*, ٢٠٢٤).

## Zingerone

Zingerone is a phenolic compound found primarily in ginger and is key to its sweet and spicy aroma and flavor(Ahmad *et al*., 2015). Zingerone's flavor becomes more pronounced when ginger is dried or processed, making it essential for high-quality ginger products(Govindarajan & Connell, 1983). It also has applications in traditional medicine and food preservation(Ahmad *et al*., 2015). Research highlights zingerone's strong antioxidant and antimicrobial properties, suggesting it may support overall health by neutralizing free radicals and combating certain bacteria and fungi (Kubra *et al*., 2014). Preliminary studies indicate potential anti-inflammatory effects and benefits for digestive health, including the regulation of blood sugar levels(Kumar *et al*., 2014).

## Paradols

Paradols are another group of bioactive compounds formed during the drying or cooking of ginger(Wei *et al*., 2017). They possess antimicrobial, antioxidant, and anticancer properties. Paradols have shown potential in inhibiting the growth of bacteria and fungi, as well as suppressing the proliferation of cancer cells (Chung *et al*., ۲۰۰۱).




**Figure ۱**. Properties and structural of Ginger's active compounds(Ballester et al., 2022a).

## Health Benefits of Ginger

### Antioxidant properties of ginger

Ginger and its bioactive compounds, notably 6-shogaol and 6-gingerol, have been shown to possess significant antioxidant properties through various studies, particularly in both in vitro and in vivo settings(Dugasani *et al*., 2010). A notable study demonstrated that 6-shogaol can activate the Nrf2 signaling pathway, leading to the upregulation of antioxidant genes such as MT1, HO-1, and GCLC in the intestines of normal mice(Zhu *et al*., 2016). In addition to the above findings, another experiment revealed that a butanol extract of ginger was effective in reducing levels of malondialdehyde (MDA) while improving catalase activity and glutathione levels in rats suffering from gastric ulcers

induced by diclofenac sodium(Saiah *et al*., 2018). Furthermore, the ginger fraction rich in 6-gingerol demonstrated the capacity to lower $H_2O_2$ and MDA levels, enhance antioxidant enzyme activity, and increase glutathione levels in rats that had experienced oxidative damage due to chlorpyrifos exposure(Yaghubi Beklar *et al*., 2021).




**Figure 2.** The possible mechanism underlying the antioxidant activity of 6-shogaol: 6-shogaol promotes the translocation of Nrf2 into the nucleus and enhances the expression of Nrf2-regulated genes by modifying Keap1, thereby preventing Nrf2 from undergoing proteasomal degradation(Q.-Q. Mao *et al*., 2019).

## Anti-inflammatory Effects of Ginger

The key bioactive compounds in ginger, such as gingerol and shogaol, play a significant role in reducing inflammation(Bischoff-Kont & Fürst, 2021). These compounds inhibit the production of prostaglandins and leukotrienes by suppressing enzymes like 5-

lipoxygenase and prostaglandin synthetase. They also lower levels of pro-inflammatory cytokines, including IL-1, TNF-α, and IL-8. Research has shown that shogaol can down-regulate inflammatory gene expression in macrophages, further underscoring ginger's potential anti-inflammatory properties(Ballester *et al.*, 2022b). Moreover, ginger extracts have been found to decrease the elevated expression of NF-κB and TNF-α in rat models of liver cancer. The activation of NF-κB is associated with various inflammatory diseases, such as cancer, asthma, and arthritis, indicating ginger may have broader therapeutic implications(S. H. M. Habib *et al.*, 2008).

## Antimicrobial Activities of ginger

Consequently, researchers have investigated and utilized diverse herbs and spices as natural alternatives to combat pathogenic microbes. Among these, ginger has gained significant attention for its broad-spectrum antimicrobial activity, demonstrating effectiveness against bacterial, fungal, and viral pathogens.(Beristain-Bauza *et al.*, 2019). Ginger's potential in combating infections is particularly evident in its effects on biofilm formation a crucial factor in both infection and resistance(Kim & Park, 2013). Studies demonstrate that ginger exhibits inhibitory effects against multidrug-resistant Pseudomonas aeruginosa through membrane integrity disruption and biofilm suppression. Additionally, ginger extract interferes with biofilm formation by reducing intracellular concentrations of bis-(3′-5′)-cyclic dimeric guanosine monophosphate (c-di-GMP) in these pathogens(Sagar *et al.*, 2024). Additionally, compounds like gingerenone-A and 6-shogaol have shown inhibitory effects on Staphylococcus aureus by targeting specific enzymatic activities within the bacterium (Rampogu *et al.*, 2018).

Laboratory investigations demonstrated that essential oil derived from ginger exhibited significant antifungal activity against Fusarium verticillioides. The inhibitory mechanism involved interference with ergosterol synthesis and suppression of key mycotoxins, particularly fumonisin B1 and B2(Q. Q. Mao *et al.*, ٢٠١٩). It also demonstrated efficacy against Aspergillus flavus, suppressing both its growth and the production of aflatoxins and ergosterol(Yin & Cheng, 1998). Significantly, bioactive constituents like γ-terpinene and citral present in ginger essential oil exhibited potent antifungal effects and downregulated key genes involved in aflatoxin production (Aljaafari *et al.*, 2021).

## Ginger's Impact on Cardiovascular Health

Globally, cardiovascular disorders remain the primary cause of premature mortality, accounting for approximately 17.9 million deaths annually. Elevated blood pressure and abnormal lipid levels are well-established contributors to the development of coronary artery disease and cerebrovascular accidents (Di Cesare e*t al.*, ٢٠٢٤).

In rodent studies where animals were fed a high-fat diet, supplementation with ginger extract led to reduced body weight and elevated high-density lipoprotein (HDL) levels, a beneficial lipid associated with cardiovascular protection.(Khosravani et al., 2016). Ginger consumption enhanced the liver expression of lecithin-cholesterol acyltransferase mRNA and apolipoprotein A-1, both essential for HDL production(Hatahet et al., 2003).

Moreover, ginger supplementation significantly reduced total cholesterol (TC) and low-density lipoprotein (LDL) concentrations in the experimental animals. When combined with aerobic exercise, ginger extract also demonstrated a synergistic effect, further

enhancing HDL levels(Khosravani et al., 2016). The supplementation was further observed to reduce plasma total cholesterol (TC) and very low-density lipoprotein (VLDL) cholesterol levels. This effect correlated with upregulated hepatic expression of peroxisome proliferator-activated receptors (PPARα and PPARγ)(Misawa et al., 2015).

## Ginger's Potential Anticancer Properties

In recent years, ginger has gained attention for its potential anticancer properties. studies have provided insights into ginger's potential role in cancer prevention and treatment(S. H. Habib et al., ۲۰۰۸). Ginger's bioactive compounds exhibit anti-inflammatory and antioxidant effects, reducing inflammation and oxidative damage associated with cancer development(Kaur et al., 2016). It also induces apoptosis in cancer cells, inhibiting their growth and proliferation. Ginger has been found to inhibit cancer cell growth and metastasis, interfere with pathways involved in cancer progression, and impede angiogenesis(Danciu et al., 2015). Additionally, ginger extracts have shown chemo preventive

potential by inhibiting carcinogen activation and protecting against DNA damage(Lechner & Stoner, 2019).




